# تاریخ افغانستان

منشي احمد جان

سفیر چه قندهار ته راورسید نو دلته قید شهٔ - دَ دهٔ په قیدولو کښ دَ میرواعظ دوه مطلب وُو یو دا چه دَ ایران تیارَي لړ سست شي څکه يُ په ځواب ورکولو کښ لږ ډیل وکړ او بل يُ دا مراد وهٔ چه ایرانیانو ته معلومه شي چه دَي په رضا طاعت نهٔ مني ولي چه دَ آزادَيُ لوبه شروع شوي دَه - بله دا چه هغهٔ ته دَ اصفهان دلبار ښهٔ معلوم وهٔ -

چه جاني خان واپس لار نهٔ شهٔ نو دَ بادشاه امیرانو وزیرانو بیا هم اصلي خبري ته فکر وُ نهٔ کړ او بل سفیر يُ رالیږهٔ - دا پیره هغو دَ هرات ګورنر محمدخان په ګُته کړ - دَي دَ میرواعظ دوست وهٔ او دهٔ سره ج ته هم تلَي وهٔ - دَ هغو یقین وهٔ چه دَ غلزو په سردار به دَ دهٔ دَ دوستَيُ دم وچلیږي لیکن چرته چه دَ آزادَيُ سوال پیدا شوَي وي هلته زَړهٔ دوستي دا نیت نهٔ شي بدلولَي - محمدخان ته وچ ځواب ورکړَي شهُ او ورته وُویلَي شول چه که چري دَ زَړي دوستَيُ لحاظ نهٔ وَي نو دهٔ سره به داسي کار شوَي وهٔ چه بیا به يُ دَ آزادو خلقو په مخکښ داسي سپکي خبري نهٔ کولي - دا هم ورته وُویلَي شول چه دَ بدل اخستو وخت راغلي دَي او کومه توُره چه پوخل له تیکي نه راوتي دَه څو پوري چه دَ ایران بادشاه لري نهٔ کړي بیا به تیکي کښ دننه نهٔ شي - باقي پاتي شهٔ محمدخان په ځان دَي به دَ پخوانيَ دوستيَ په لحاظ دَ یو عزت دار میلمه په شان دلته حصار کړَي شي -

اوس اصلي خبرهٔ دَ اصفهان دَ دلباریانو په معزو کښ راغله چه میرواعظ بي جنګ نهٔ تابع کیږي - هله بادشاه دَ هرات ګورنر ته چه دَ محمدخان په ځاي ناست وهٔ په قندهار باندِ دَ حملي حکم ورکړ (سنه ۱۱۲۱)

میرواعظ چه خبر شهٔ چه حمله کوونکي فوځ ټول هغه ایرانئ دي چه د دوئ بدې شي نو پنځه زر سوارهٔ ئې ځان سره واخستل او مقابلې ته ورمخکښ شهٔ او ښهٔ شکست ئې ورکړ. بیا په ورپسي اتلسو میاشتو کښ څلور ځلي بیا هم کوششونه وشول خو د میرواعظ له لاسَ ئې بې ماتي کوله. په آخره حمله کښ ایرانیان پنځهٔ زر وُو او د هغه محمدخان په کمان کښ وُو چه د تبریز گورنر وهٔ. دا ځل تش پنځهٔ سوه پښتنو سوَرو هغوئ په ماتي گډ کړل. د یو زر نه زیات ایرانیان مړهٔ او زخمیان شول په قیدیانو کښ گورنر او د هغهٔ دري زامن هم وُو.

دي پله‌پسي پېښتي د ایران دلباریان له خودَ وُ وبیتل او دا پیره ئې د یو لوي لام ترلو نیت وکړ. د ایران په بادشاهئ کښ گرجیان په جنگ کښ ډیر مشهور وُو. گورگین خان هم گرجي وهٔ. د هغهٔ په ځاي په گرجتان کښ د هغهٔ ورارهٔ خسروخان کښیناست چه د ډیر لوي دماغ خاوند وهٔ. هغهٔ د خپل وطن حکومت ښهٔ سنبال کړي وهٔ. چه د اصفهان د دلباریانو حال دغه حد ته ورسید نو دي ورستي جنگ نه دوه میاشتي پس هغو دغه سړي د فوځ سردارئ دپاره راوغوښت او ټول واک اختیارئ ورته ورکړ او د قندهار په لام ئې ولیږهٔ چه په هر ځان چه وي دا بغاوت دفع کړي. خسروخان په خوشحالئ دا خبره ومنله. نامتو. چالاک او د شهسوارئ مړئ حو وهٔ. د فوځ په مخکښ ئې د گرجتان د گټي جنگي سپاهیان ودرول. او مچنیله ټولو نه وړاندې شهٔ فرح ته راورسید او هلته ئې ډیري ولکولي او مخبران ئې وړاندې ولیږل چه د دښمن په کارونو ځان خبر کړي. مخبران زر واپس شول. میرواعظ

دَري خوشي پرېښي وي او بچپله دَ گرشک نه لړ لري دَ هلمند سېند په غاړه يَ يو مضبوط ځاي نيولي وَهٔ - او دَ هغې دَ لاري وهلو دپاره جنگ ته تيار ناست وَهٔ -

خسروخان چه دَري له دښمن نه وزګاري وليدي نو ډېر خوشحال شهٔ او ميرواعظ باندِ حملي کولو دپاره په وړاندِ وخوځيد - دَ دهٔ فوځ کښ ډېرش زره ايرانيان او دولس سوه گرجيان وُو - پښتون فوځ په شمير کښ ډېر لږ وَهٔ مگر دَ وړښتو فتحو په نشه کښ مست وَهٔ - دَ دي جنگ حال چرته په لاس نهٔ راځي تش دومره ليکلي دي چه دَ درياب لار واخستيَ شوَه او ميرواعظ ماتي وکړه - دَ يو لايق جرنيل په شان خسروخان قندهار ته وروړاندِ شهٔ او چاپېره ترِ پرېوت (سنه ۱۷۱۱-۱۲ع)

سرهِ دَ دي چه ميرواعظ شکست خوړلي وَهٔ خو ميدان يَ ېري نهٔ ښود - دَ دهٔ هم دَ نپولين دَ سنه ۱۸۱۴ع په شان يقين وَهٔ چه که چري په دارالخلافه باندِ مقابلي ته نُوکي ښيجي کړم نو هم داسي کار کولي شم چه دښمن به دي ته جوړ شي چه دَ واپسيُ نغاري ته ډنگ ورکړي -

ليکن قندهار هم ميرواعظ سره هغه کار وکړ کوم چه سنه ۱۸۱۴ع کښ پيرس نپولين سره کړي وَهٔ - يعني هغه کسانو ته چه دهٔ دَ قندهـار دَ حفاظت دپاره پرېښي وُو هرکله چه څه دَ ښي ورځي صورت ښکاره نهٔ شهٔ نو سوال جواب ته يَ نيت وکړ - ښهٔ کار دا وَهٔ چه دَ خسروخان هغه شان لري نظر نهٔ لګيدهٔ لکه چه دَ هغه متحده جرنيلانو دَ مارمنت شرطونو منلو کښ لګيدلي وَهٔ - دَ دهٔ دا خو يقين وَهٔ چه قندهار دَ دهٔ دَ لاس لاندِ دَي - سِوا دَ بي شرطه طاعت منظورولو نه باقي دَ هري جزري

دَ اوریدو نه یې انکار وکړ- چه قلابند فوځ ته دا خبره معلومه شوه چه خسروخان دَ دوئ هیڅ خبره نهٔ اوریِ نو دوئ ته ځېل مرګ صفا په سترګو ښکاره شهٔ- یعنې بې له مرګ ورته بله لار ښکاره نهٔ شوه ځکه یې دَ ځوانمردانو په شان مرګ ته غاړه کېښوه او مقابلې ته یې ملا وتړله-

په دې کښې میرواعظ دَ سهیل ډډې نه ډیر بلوچ او تارین قام په ځېل فوځ کښې جمع کړل او په واپسئ کښې یې دَ هغو په مدد دَ قندهار ګیرچاپیر علاقه تباه او برباده کړه او دَ دښمن راسن یې بند کړ او دَ دهٔ دَ تلو راتلو لار یې پرِ تنګه کړه- خسروخان په ځېل وَس دا ټولې خبرې زغملې او حمله په حمله به یې کوله- چه یوه ورځ به یې ماتې وکړه نو بله ورځ به یې بیا حمله کوله- تر دې حدَ پورې چه دَ دښمن دَ ګولو په باران او په ناجوړتیا دَ هغهٔ فوځ دَ نیمې نه زیات جنګ کښې تباه شهٔ آخر ځېلې کډې اوچتولو او واپس تلو ته ناچاره شهٔ- لیکن اوس پرِ باندې یاره باره تیره وَه- دې واپس کېدهٔ چه په دې کښې میرواعظ دَ شپارسو زرو بهادرو پښتنو سره دَ دهٔ په کمزورې شوې فوځ راغوبته شهٔ- فتح دَ حمله کونکې دَ ښپو لاندِ ښکاریدَه- ایرانیان ورته ټینګ نهٔ شول خسروخان چه دا حال ولید نو پاتې شوُنو ګرجیانو سره یې په پښتنو حمله وکړه او په داسې مرګ مړ شهٔ چه ځنګه یې زړهٔ غوښتهٔ (۱۷۱۳ء)

بله حمله چه دَ اصفهان له طرف نه وشوه هغه دَ محمدرستم خان په کمان کښې وَه- دا لام هم دَ ورنښو لامونو نه ځه ښهٔ نهٔ شهٔ یعنې دَ جنګ نتیجه ځه په مراد ښاده نهٔ ښکاریدَه- دَ دې ایرانې به هره جګړه کښې بایلات په نصیب وهٔ- ځېل سرئ هم په کښې خوړلو خو زرئ

ښپي سپکي کړي او دَ پښتنو له ملک ووت. (سنه ۱۷۱۴ ع)

دا دَ شاه حسین او دَ هغهٔ دَ مصلحتیانو آخرین کوشش وه. میرواعظ ته اوس موقعه په لاس ورغله چه دَ هغه علاقي چه بیا په لاس ورغلي وه ښوخ انتظام وکړي. دا علاقه نخ په قبله فرح پوري رسیدلي وه او دَ هلمند او دَ لوړا کندي او خوړونه په کښې شامل وُو. په دي علاقه يُ دَ پایه تخت یعني "قندهار" نوم کیښود او دَي دَ قندهار ورښتي بادشاه وهٔ. بي له ابدالیانو نه چه په هرات کښې وُو دَ افغانستان ټولو قامونو دَ دهٔ بادشاهي ومنله. دهٔ ټول قامونه داسي یو تر بله وکنډل چه له دي نه ورښتي دا شان کارهیڅا نهٔ وهٔ کړي. دَ خپل قام دَ دي لوي او ورستي بري نه پس دَي ډیره مُده وُ نهٔ پائیدهٔ او هم دَ دي کال په آخر نومبر سنه ۱۷۱۵ ع کښې وفات شهٔ او دَ یو بیشانه قابل او هوښیار سیاست دان نامه يُ ورستو پریښوه.

دَ میرواعظ دوه زامن میرمحمود او میرحسین پاتي شول مشر دَ اتلسو کالو وهٔ او بل دَ یو کال دړوکيَ وهٔ. دويُ دواړه دَ بادشاهيُ دپاره ډیر کچه ښکاره شول ځکه دَ دويُ دَ پلار ورور میرعبدالله دَ قندهار دَ بادشاهيُ دپاره چونړ کړي شهٔ. دويُ دواړه اګر که کچه خولهٔ هلکان وُو له دي وجهي نه يُ بادشاهي وانهٔ حنتيَ شوه لیکن دَ دويُ دَ ترهٔ کمزوري طبیعت او ناقابلیت په بادشاهيُ کښې خرنج اچاوهٔ. په دهٔ کښې دَ خپل مرورور په شان لويُ همت نهٔ وهٔ او دَ هغه ټولو او چټو خیالاتو نه خالي وهٔ. دَي په دي خبره راضي وهٔ چه

د بادشاهۍ ذمه وارۍ له خپل سره لرې کړې او په دې کښې ئې کوشش
شروع کړ- هغه تښتېدلې او نامراد نابښاد ایران ده نه یوه داسې لویه
بلا ښکارېده چه چرې مړ وروره ته ئې سره د طاقت هیڅ نه ښکارېده
(یعني هغه ایران چه چرې شین زمري وه هم د ده د ورور تر چرې
سترګه نه وه سوي- او اوس هغه ایران چه مړکیدلی وه دې ستړ
داسې وېرېده لکه چه د شین زمري نه څوک وېرېږي) لنډه دا چه
په تخت کښېناست نو ورنبې کار ئې داوه چه د ټولو قامونو سرداران
ئې راوغوښتل او دا خبره ئې ورته وړاندې کړه چه که ایران بیا د خپلې
بادشاهۍ سنبالولو د پاره راولږو نو ستاسو څنګه خوښه ده.

د بنې آدمو په لویو ټولو کښې دا خبره لیدلې شوې ده چه ډېر
خلق داسې وي چه د هغو په ضمیر کښې کمزوریتیا او بې همتي اېښلي
شوې وي او چه لږه غونډې ذمه وارې ورغاړه کړې شي نو دار ئې
خطا شي. دغسې یو څو سړې په هغه سردارانو کښې هم وو چه د
خپل آرام او ځان آسانۍ خواهشمند وو- دا آرام هر رنګ چه په
لاس ورځه- د ملک عزت او د قام امن امان ئې په خپل آرام باندې
قربانوه- دې خلقو د خدای نه هم دا ورځ غوښته او نن خو ورته
موقعه په لاس ورغله (غل کنډر کاوه ور ئې بیاموند) سمد ستي
ئې دا خبره ومنله څکه چه د هغو دا خیال وه که چرې دغه سې آزاد
او بې سر بې سورې پراته یو او صبا راباندې څوک حمله وکړي نو بده ورځ
مو به مله شي (بې غیرت زړې جوب کښې میلوګان وینې)

لنډه دا چه دې سړو خپله راې دا ورکړه چه زمونږ د ایران تابع کیدل

بېکار دي لیکن د هغو په مقابله کښې ډېر خلق د دې خبرې نه برخلاف وو. هغوئ په داسې کار بانډې لعنت او بېتېي مو ووِ چه د هغو آخستې آزادۍ پر قربانېږي او بیا د داسې خلقو د غلامۍ پړې غاړې ته پرېوزي چه د جنګ په میدان کښې د دوي له لاسه رېږدېدل.

که د جرګې په فیصله بانډې عمل شوی وی نو د پوستیانو یارانو مراد به تر سره شوی نهٔ وهٔ لیکن د بادشاه آواز ټولو ته مضبوط وهٔ او د یو څو سرو په اَمنا سره چه د بادشاه په شان کمزوري دماغ ئې لارهٔ بادشاه ته ځان په حقه ښکاره شهٔ. او خپلې خبرې ته ئې ملا وتړله. دي مطلب دپاره هغهٔ د اصفهان دلبار ته یو سفیر ولېږهٔ. د طاعت منلو یو څو شرطونه هم وو. یو دا چه کوم قلنګ چه کال پس به د میرواعظ له قلنګ نه ورښې اخستې شهٔ هغه دِ اوس نهٔ شي اخستې. دویم دا چه د غیر قام فوځ دِ د دوئ په صوبه کښې دننه نهٔ شي رالېږلې. درېم دا چه د دې صوبې بادشاهي دِ د عبدالله د ټبر میراث شي یعني د هغهٔ آل اولاد بېسې دِ شي. به ظاهر کښې خو دا خبرې هیڅ وې ځکه چه په دې کارونو د قندهار په کورنو معاملو کښې څه فرق نهٔ راتهٔ. یعني د قندهار دپاره به نوم یو بادشاه خو وهٔ چه له دښمن نه به ئې بچ کول. لیکن اکثر ټولو پښتنو ته دا ډېر څه ښکارېدهٔ ځکه چه ورښې آزاد وو او اوس غلامان شول. بس دا ډېره وَه. د هغو په خیال دا یو عبث او بې فائدې مرئېي توب وهٔ ځکه چه دا د یو داسې دښمن پړې غاړې ته اچول وو چه هغه ئې په وهلو وهلو زغلولې وهٔ یا د داسې بادشاهۍ غلامي وَه چه اوس ئې ساه مرئ ته راغلې وَه.

هغه پښتنو سردارانو کښې چه دَ سفير په ليږلو باندِ خبر وُو يو دَ
مير واعظ مشر زوئ مير محمود هم وُه. په محمود کښې دَ ځوانمردئ ډير
صفتونه وُو. بهادر، سخي، چالاک او زړهٔ ور سړي وُه. هيڅ کړاؤ ربړاؤ
دَي له خپل کار نه نهٔ شهٔ منع کولئ په دي خبره پرِ اور بل شهٔ - دا يو
داسي سپک کار وُه چه په دي دَ دهٔ دَ پلار دَ ټول عمر خوارِي بربادېده
دهٔ سمدستي ځلوېښت سرداران راوبلل هغه سرداران چه په هغو دَ دهٔ
دَ پلار ډير اعتبار وُهٔ او بيا ئې يو تقرير وکړ هغو سره ئې صلاح مصلحت
وکړ او چه هغو دَ دهٔ په خبرهِ اُمنا وکړهِ نو بادشاهي محل ته ئې روان کړل
او بي ډزَ بي ډوزَ ئې په هغه محل باندِ قبضه وکړهِ دننه ننوت او دَ
خپلَ لاسَ ئې دَ خپل تره کار خلاص کړ.

ټولو خلقو دهٔ ته په دي کار شاباشي ورکړ او دَي ئې دَ قندهار
بادشاه کړ- هغه پوستيان ياران يا داسي وايه چه دَ تمام دښمنان خپل
بادشاه عبد الله سرهِ له دنيا نه رخصت شول (مارچ سنه ۱۷۱۶)

په محمود کښې دَ خپل پلار ټولي خوبئ وي- دَ ټولو نه زيات دَ
زړهٔ مراد ئې دا وُه چه هرکله مي لاس بر شهٔ نو دَ ايران دَ صَساني
تېر خلاصَي به وکړم- دا موقعه ورته ډيره ژر په لاس ورغله- دَ دهٔ دَ
تخت- دَ ناستي نه لږه موده پس دَ هرات ايراني گورنر محمد زمان خان
دَ ابدالي پښتنو سرهِ داسي بد سلوک راواخست چه دَ هغي په وجه دَ
قوم بېشانه ډير خلق ترِ نه ياغيان شول- دَ قندهار دَ قطب ډمي
ابداليانو دَ ايران بادشاهي په دي شرط منلي وَه چه دَ هغو گورنري
جگړي او فسادونه به دَ هغو خپل سرداران فيصله کوي دا وخت دوئ

په حقه وُو چه محمد زمان دَ قوم دَ یو سردار په صلاح رضا دَ هغهٔ دَ زوي ډيره سخته بیعزتي وکړه ـ دَ دي سردار زوي اسد الله یو نامتو او نر ځلي وهٔ ـ هغهٔ خپل تنبو ته لوي لوي خلق راوغوښتل او دَ هغو په رضا يې دَ خپلي بیعزتئ بدل دَ خپل پلار نه داسي واخست چه هغه يې مړ کړ ـ دَي سمدستي دَ تمام سردار شهٔ ـ دَ دهٔ ورښي کار دا وهٔ چه دَ خپل تمام دَ کُتي ځوانان يې ځان سره واخستل او زمان خان پسي روان شهٔ ـ زمان خان هغه وخت دَ زیږن دوار په ضلع کښ وهٔ ـ هلته دهٔ پر ِ بانډ حمله وکړه او شکست يې ورکړ ـ محمد زمان په ځان دَ دهٔ له لاس مړ شهٔ ـ دهٔ بیا په هرات چغه وُوبیسته ایراني فوځ يې تر ِ وزغلوهٔ او قبضه يې پر ِ وکړه ـ او دَ ازادي نقاره يې وُ وهله ـ

دَ صافي خاندان دپاره دا دویم سخت مصیبت وهٔ لیکن دا یواځي نهٔ وهٔ راغلي ازبکو او کُردو دَ بادشاهيُ کیرچاپیر صوبو کښ لوټ مار راواخست او داسي زړهٔ ور شول چه عَن اصفهان کښ ننوتل ـ

شاه حسین او دَ هغهٔ مصلحتیانو چه په بادشاهيُ کښ دا هله ګُله ولیده نو ډیر وارخطا شول ـ هغو هغه سپاهیان چه له هرات نه تښتیدلي وُو بیا حملي کولو او فتح کولو ته وُلسول لیکن سپاهیانو په دي وجه صفا انکار وکړ چه هغو په خپلو کښ یو اعتباري سردار وُ نهٔ لید ـ

دويُ لا په دي وارخطايُ کښ وُو او یو جرنیل يې لتاوهٔ چه عَن دَ دارالخلافي سره نژدي حملو يې غوږونه بوُس کړل ـ چه دويُ په خپل ځان کښ دَ زړهُ دَ خوږیدو سري وُ نهٔ موند نو بل خوا يُ لښکر وزغلاوهٔ او دا خیال يې وکړ چه هرکله مونږ داسي جرنیل ګورُو چه

څمونږ مراد پر حاصل شي نو بنائي چه داسي څوک وګورو چه څمونږ مخالف وي. هغوئ خپل سالار یو داسي سړي په ګوته کړ چه وړښي قاضي القضاة وه خو په ډير انصاف او رښتي فيصلو کولو باندِ ئې د دلبار خلق او د هغو خوشامندګر د ځان دښمنان کړي وو. او په دي وجه ئې استعفئ ورکړي وه. د ده نوم صافي کُلي خان وه. کوم کار چه هغه ته سپارلئ شوي وه هغه دا وه چه وړښې اُزبک وباسي او بيا په هرات حمله وکړي. او هرات او قندهار واخلي. د فوځ په سنبالي او او تيارئ باندِ هغه خپل وس بس وکړ. دا فوځ په شمير کښ ديرش زر وه د ده توپخانه دومره ښه وه چه مشرق کښ چا داسي نه وه ليدلي. او د فوځ جوش په دي خبره ډير زيات شوي وه. چه بادشاه او د هغه دلباريان به د قواعد په وخت ګډيله د کتلو دپاره وتل او د هغو د فتح دپاره به ډيري دعاګاني غوښتي شوي.

لښکره دا چه فوځ روان شه. سرحد سره نژدي د ولس زرو بهادرو اُزبکو سره مقابله وشوه چه ډير زر او بي کړاوه ئې په ورستو کړل. د دي وړښئ فتحي باندِ دوئ په جامو کښ نه ځائيدل او ابداليانو ته ئې مخه وکړه. اسد الله د هرات نه پنځلس زر څوانان ولختل او د دوئ مقابلي ته راښکښ شه. سره د دي چه د هغه فوځ د ده په نيمه وه او توپي هم ورسره نه وي خو دا ئې خيال وکړ چه که په حمله باندِ څه کيږي نو وُبه شي. دواړه لښکري هرات کښ کآرز کلي سره مخامخ شوي. ډير په تول تللي جنګ وشه. ايرانيانو څخه فوځ هم زيات وه او توپي هم ورسره وي او په قواعد هم پوه وُو او ځواني قاضي نه يو زوروَر

جرنیل جوړ شوی وهٔ او خپل فوځ ئې په یو ښهٔ ځای بانډې دیره کړې وهٔ
پښتنو غزیانانو پله پسې حملې کولې ولې عبث به تللې او تل به ورستو
کېدل. مازیګر مهر زیړې وهٔ چه دَ دوئ غزې سست شول او نژدې
وه چه دَ ایرانیانو فتح شوې وې لیکن هغه وخت دَ ایرانیانو له بده
نصیبهٔ نه یو داسې کار وشهٔ چه په هغې دَ جنګ مخه بدله شوه - دَ
پښتنو حملې سستې شوې وې او اوس هغوئ ورستو کېدل راخستې
وُو. دَ پښتنو بندوقچیانو یو ټولي چه په یوه داسې اوچته غونډئ بانډې ئې
ځای نیولی وهٔ چه دَ ایرانیانو ګولۍ ښه وررسیدله ناڅاپه هغه غونډئ
خالي کړه ترِ ګوز شول. سمدستي ایراني بندوقچیان وروختل. په دې
کار دَ ماښام په خړه کښ ایراني توپچیان خبر نهٔ شول او په غونډئ
بانډې ئې چه ډېر سرې ولیدل نو توپې ئې پرې ورخوشې کړې. او
ناګمانه حمله ئې پرې وکړه. هغو زړهٔ کښ وُو چه پښتنو سره څو توپې
نشته دا راسره خپلو ملګرو ټکې وکړه هغوئ هم ورته ټوکې ښخي
کړې. نتیجه ئې دا راوختَه چه توپچیان وراندې لاړ نهٔ شول او هغوئ
دَ توپو له زورَ تار په تار شول. اسد الله خان چه دا نخره ولیده نو
خپله ټوله رساله ئې راجمع کړه او دَ ایرانیانو په ټول لینر بانډې ئې
حمله وکړه. دا دَ فیصلې جنګ وهٔ. ایرانیانو ډېر سامان پرېښو او وتښتېدل
جرنیل ئې مړ شهٔ دَ جنګ په میدان کښ دَ ایرانیانو دَ مړو زخمیانو
شمېر اتهٔ زرَ وهٔ او دَ پښتنو درې زرَ ځوانان مړهٔ شول (سنه ۱۷۱۹ع)
دې فتحې ابدالیان دَ هرات مالکان کړل. اسد الله دَ هرات قطب
ته بې له مشهد نه نور ټول خراسان فتح کړ. بیا سبزوار ته ورورانډې

شهٔ او هغه يُ واخست نو فرح ته يُ مخه وکړه او کیرچاپیر تړ پریوت -
زهٔ اوس دَي دلته پریږدم او دَ قندهار محمود رااخلم -

محمود دَ دي تهولو ناکړدو چه په صافي خاندان تیریږي تماشه
کوله - دَ قلي خان دَ ماتي نه پس دَ ایرانیانو له لاس دَ خلیج فارس لانډ
ځایونه هم ووتل او دَ هغي دَ سهیل غاړي بندر بانډِ هم حملي شروع
شوي حکومت ته هر طرف نه بدنصیبي او بدبختي ښکاریده - محمود
دي موقعي ته تږي ناست وهٔ - وردنګل يُ خوځن په دغه وخت کښ
يُ دَ ابدالیانو خبر واوریدٔ چه په فرح راوختل - دَ فرح حفاظت دَ
ایرانیانو په لاس کښ وهٔ ولي دا وخت دَ ایرانیانو نه دَ چاسترګه نهٔ سوله
له چري په دي ځاي چه نن پرون یو مضبوط ځاي دَي ،
ابدالي ښتانهٔ وَي نو معامله به بل شان شوي وَه - ځکه محمود دَ ایران
په ځاي ورښي فرح ته مخه وکړه او اسدالله ته يُ شکست ورکړ -
هغهٔ دَ فرح نه دَ سهیل او دَ نوربرپوانهٔ ګټ پلو لار ونیوه او په
سیستان بانډِ کرمان طرف ته لاړ - ډیرو تکلیفونو نه پس کرمان ته
ورسید او هغه صوبه يُ تابع کړه - چه دَ کرمان دَ فتح خبر ایراني جرنیل
لطف علیخان ته ورسید چه دَ سهیل ډډي بندر بانډِ وهٔ نو سمدستي
دَي دَ بندرِ عباس قطب ډډي ته روان شهٔ - لطف علیخان دَ فتحعلیخان
وزیر اعظم ورور وهٔ ځکه دَ دهٔ مرتبه لویه وَه - دَي هم په جنګ کښ
ډیر مړني ښکاریدهٔ - دهٔ نیغ کرمان طرف ته مخه وکړه - محمود دَ دهٔ
مقابلي ته باهر راووت لیکن دَ دښمن فوځ ډیر زیات وهٔ بد شکست
يُ وخوړ - لطف علیخان دا خیال وکړ چه دَي به واپس شي ځکه دَ

کرمان مضبوطیا دپاره هلته حصار شهٔ او بیا شیراز ته لاړ چه هغه
ځاي نه دهٔ دَ خطرَي هري ډډي ته ځنه کولَي شوه. دَ دهٔ فوځ په
فتح باندِ زړهٔ ور شوَي غونډ وهٔ او جنګ ته يُ مينه کيده. دَ ایران
بخت په راوښيدو کښې وهٔ چه دَ هغه کسانو له پښه دَ دهٔ زړهٔ
سُورَي شهٔ چه څوک دَ دهٔ دَ پاسَ دلبار کښې حاکمان وُو. دا داسې
چل شوَي وهٔ چه دَ حکومت بدخواهانو دَ وزیر اعظم دَ ورور دي
فتحي ته کتَي نهٔ شوُ. هغوئ دا فکر وزغلوهٔ چه که دیواني او فوجدارئ
طاقتونه دواړهٔ دَ دوارو وروڼړو په لاس کښې شي نو ځمونږ پکښ
خير نشته ځکه يُ دَ دي دواړو خلاصي کولو دپاره مصلحتونه
راوا خستل او څه مدد په کښې دَ مذهب جبري هم وکړ. دَ دي
مصلحت مشران دَ لوي مُلا نه يُ واخله ځَن دَ بادشاه تر حکيمَ
پوري وُو. دا دينډار خلق چه دَ باهر په خلقو يُ ملا مضبوطه وَه
نيمه شپه دَ بادشاه ځاي ته ننوَتل او هغه کمزورَي بادشاه يُ
وُلمسوهٔ چه ستا دَ تاج څهٔ چه ستا دَ سر خير په دي کښې دَي چه
دَ خپل لوي وزير او لوي سپه سالار برخلاف زر تر زرَ کار روایي
وکړه. هم په هغه شپه يُ دَ لوي وزير سترګي وشکلي. بيا يُ قيد کړ
په قيد کښې دوه کالَ پس مړ شهٔ. اوس دَ هغهٔ دَ ورور علاج
ګران وهٔ ځکه چه هغه ځنه ډير هوخ وهٔ. بيا يُ ورته دا کوُرکَئ باندِ
کړه چه دَ شيراز دَ قلا لوي داروغه دَ دي لوبي ډلي ملګرَي وهٔ هغهٔ
سره سوال جواب وشهٔ هغهٔ لطف عليخان ته ډوډَيُ وکړه. دا په
زړهٔ سپين او بهادر سپاهي بغير دَ څه نا منع نه ډيرو لږو اردليانو

سره بي له څه شک شُبي نه قلا ته ورعئ - هلته دَي يو دَم ونيوَي شهٔ او اصفهان ته يُ وليږهٔ - دَ دهٔ فوځ سمدستي نوکري پرښيوَه (سنه ۱۷۲۰ء)

دَ قندَهار محمود دَ ملک دي اړي ګړي ته فايده وانهٔ خسته . خبره دا وه چه دَ کرمان په شکست کښ دَ فوځ او دَ سيستان حاکمان ورته پورته شوِي وُو او ملک کښ يُ ورته دَ فساد لښي اوچتولي - دَ دهٔ وروړ ميرحسين ورته دال نيولئ وهٔ څو چه محمود پچپله راورسيد نو ټول سم شول . بيا هم دَ بلي حملي نه ورښيي دهٔ ته ډير کار پاتي وهٔ . چه دَي راواپس شهٔ نو ورپسي يو کال يُ دَ خپل فوځ په سنبالولو بانِ تير کړ ځکه چه دَي پوه وهٔ چه دا پيره فوځ دَ وړښيي ځل نه زيات پکار دَي او په قواعد کښ هم چه مرنئ وِي . ځکه دهٔ دَ هرات ابداليان او دَ سهيل ډيري بلوچ خلق دواړه يو شان دَ فوځ بهرتئ دپاره راوغوښتل - دَ دي بلنې ځواب په ډير زور او جوش کښ راعئ . جنګيالي قامونه دَ دهٔ جنډي لاندِ جمع شول . دهٔ دَ بايلات دَ ورځي فکر هم کړي وهٔ . ټول ميخزينونه يُ ډک کړل او مورچو بانِ يُ لاس وواهـهٔ او ډير راسن يُ جمع کړ .

هره ورځ به دَ صافي خاندان دَ تباهئ يو نوَي خبر راتهٔ . اوس يُ مضبوط نيت وکړ او دَ کوچ دپاره يُ تيارَي راواخست . اوس بالکل تيار وهٔ او دَ سنه ۱۷۲۲ء په جنوري مياشت کښ دَ ۲۵۰۰۰ فوځ سره سيستان طرف ته روان شهٔ .

اوس دَي په خپلي ورښنئ لار بانِ کرمان ته روان شهٔ او لاړ چاپيره تر پريوت ليکن دَ قلا خاوندانو لکه دَ وړښيي ځل مقابله کوله

لطف علیخان دَ هغې پخه مورچه بندي کړې وَه او کوم فوځ چه به دې
قلا کښې وُه دا هغه فوځ وُه چه محمود نه ئې دوه کال شوي وُو چه
شکست ورکړې وُه. هره حمله چه به دهٔ کوله عبث به تله ځکه چه
دې به ئې په ورستو کاوهٔ دې له شرمَ واپس هم نهٔ شهٔ تلې او دَ
خپل فوځ زړهٔ ئې هم نهٔ شهٔ ماتولې. لیکن دا خبره ورته ګورنر آسانه
کړه. داسي وشوُ چه ګورنر بچپله خو پوره سپاهي نه وُه چه دا خیال ئې
کړې وې چه قلا خو موږ دَ خپلو متو په زور هم ساتلې شوُ. دې دَ یو
بد نیت مجلس په پل بانډې روان وُه او دَ روپو په زور بانډې ډیر قایل وُه
دې موقعه کښې هم دهٔ دَ تورې په زور نهٔ بلکه دَ روپو په زور خپل
خلاصي نه جوړ کړ. په دې خیال دهٔ محمود سره دوه نیم سوه دَ پاسَ
شیږ زرَ مهران وکړل چه تهٔ لاړ شه او قلا ما ته پریږده. محمود هسې
هم له دې قلا نه واپس کیدهٔ ولې چه دا ځاې هغهٔ اخستې نهٔ
شهٔ خو دا تحفه هم هغهٔ یو خدايې نعمت وګڼړلو ځکه چه دا پیکښې
دَ یو داسي کار دپاره ورکیدَي شهٔ چه هغه پرِ دَ قلا خاوندانو په
زور کولې شهٔ او دا ورته یوه داسي قیمتي بهانه جوړه شوه
چه دَ دهٔ دَ سپاهیانو بغیر دَ قلا اخستو نه په اصفهان باندې دَ
ورختو یو ثبوت وُه. دهٔ اوس دَ یزد لاړ واخسته یزد دَ کرمان
نه لس دَ پاسَ دوه سوه میلَ لرې دَې او ترمینځَ علاقه ئې
ښکه او غیرآبادَ دَه. دَ یزد قلابندي شوي وه او دَ هغې چاپیره
یو ژور خندق وُه او هغې کښې هم یوه قلا وَه. دَ قلا فوځونو
مقابلې ته ملا تړلي وَه. دهٔ هم پرِ حمله وکړه خو هغو په

ورستو کړ - ده د بادشاهۍ په پوره بتوته باندِ هسي وخت نه برباد وه -
خاص دارالخلافي (د ګندي ځاي) ته يې نيت وکړ - ډير په تلوار يې فوځ
بوت او زر دارالخلافي ته سل ميل نژدي ورغۍ - هلته څه ګوري چه
د وزيراعظم محمد قلي خان يو استاځي ورته په انتظار ولاړ دي او د
وزيراعظم دا سوال ځواب يې راوړي دي چه که محمود څکښ
نه راځي نو ۰۰ ۳۷۵ اشرفۍ به ورته ورکړي شي - محمد قلي خان هم
د کرمان د ګورنر په شان د روپو په زور قايل وه او ځان يې په
بونکه ساته - محمود ته دا معلومه وه چه د اصفهان په فتح کولو کښ
د ايران بادشاهي اختتل مطلب دي - که چري ده بڼ يې اخستي هم
نو دي نه به يې زيات رقم ښودلي وي - ليکن دي بهادر پښتون د
ميرواعظ زوي ته د ايران بادشاهي په داسي حال کښ د ډير قيمت
ښکاريدله - ده ورته هيڅ ځواب ورنه کړ او په مخه لاړ - آخر د ګندي
د ځاي نه نهه ميل لري ګلناباد ته ورسيد - هغه ښهر کښ اوس
ډيره وارخطايي شوره شوه - دا حال پواځي د ښهر د خلقو نه وه -
په ځان بادشاه او د هغه وزير او بد نيت دلباريانو باندِ هم تندر
پريوتي وه - اګر که د اصفهان نه چاپيره فصيل وه خو اصل کښ قلابند
نه وه او نه په کښ څه سامان وه چه قلابندي ته تيڼګ شوي وي -
هلته سپاهيان په شمير کښ پنځوس زرو نه زيات وو او د ښهر خلق
هم شپږ لکه وو - دا خلق د زندروب درياب د قطب ډډي په
خوله باندِ پروت وه او په دي موسم کښ پاياو نه وه ځکه ښهر
ته خلق په پولونو باندِ ورتلل - توپي چه د حمله کونکو څخه وي هغه

بس سل وړي توپي وي چه په اوښانو بانږ بار کړي وي - ولي دا څه ډير دَ ويري ځاي نهٔ وهٔ. بلکه که دَ لطف علیخان په شان لايق سردار وَي نو دا وخت به يُ دَ دښمن په راتلو بانږ دَ خلاي شکر ويستي وَي - په دي ورځو کښ لطف علي اصفهان کښ وهٔ خو له نظرَ پريوتي وهٔ - او دَ بادشاه په مجلس کښ چه کوم خلق وهٔ هغه دَ هرګجَه مغزو خاوندان وُو. په هغو کښ محمد قلي خان وزيراعظم ډيرهٔ ښَه صلاح ورکړهٔ چه فوځ دَ ملک ساتني دپاره په خندقونو کښ کښيڅوَيُ ځکه چه پښتنو کښ دومره جس نشته چه قبضي دپارهٔ پرِ زورَورَه حمله وکړي. په دي شان به سپاهيان په جنګ کښ سخت شي او دښمن به پرِ بانږ وځنډلَيُ شي دَ عربو دَ حاکم عبدالله خان صلاح بالکل بل شان وَه. دَ دهٔ دا خوښه وَه چه جنګ وشوَي او ناګمانه جنګ وشوَي او دَ دي سيو او ياغيانو مو مونږ ووستَي. مذهبي پتولَيُ هم په دي مجلس کښ حاضر وهٔ. دَ دي سردار فتح عليخان غجر يو سپاهي وهٔ. هغهٔ دَ بادشاه ډير يوخ يقين راوست چه هغهُ دَ استرآباد دَ يوي بودَيُ ښځي نه چه خلق وائي په هغي وحي نازليدهٔ دا خبرهٔ اورېدلي دهٔ چه که چري دَ يوي جيلَيُ دوهٔ بيتونونه دوهٔ نيم سوهٔ هلکان په اوبو کښ سرهٔ دَ ځرمني ويشوي او يوهٔ ځوانه پيغله پرِ بانږ دولس سوهٔ ځله لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ولولي نو هغي نه به داسي ښورروا جوړهٔ شي چه څوک يُ وځښي نو هغه به بيا چا نه نهٔ ښکاري" چه هرچا خپله خپله خبرهٔ وکړهٔ نو بادشاه په هغه خبره فيصله وکړهٔ چه دَ ډيرو خوښه وَه. حکم يُ وکړ چه داسي ښورروا دِ جوړه شي لکه چه فتح عليخان وائي - او نوځونو بانږ دِ وځښوَي شي

دښمن ته دِ مخکښ شي ـ فوځونو هغه ښوروا وخښله او روان شول ـ
(۷ مارچ ۱۷۲۲ء) په شمیر کښ پنځوسو زرو نه زیات وُو او ځلیربیشت
ورسره لویې توپې وې او دَ دښمن شمیر شل زرَ وهٔ او یو څو وړې
توپې ورسره وې ـ دا ورځ په وَړو وَړو جنګونو کښ تیره شوه ـ ولې بله
ورځ په اتم تاریخ دواړه فوځونه مخامخ شول ـ په دواړو کښ سره ډیر
فرق وهٔ ـ ایرانیان غټ غټ او ښیرازه وُو او ښې ښې جامې يې اغوښتې
وې ـ او پښتانهٔ نرې نرې چکې، غرمو وهلې زړې جامې يې اغوستې وې
ولې دَ دوئ سرداران ټول یوه خولهٔ او یو زړهٔ وُو او بس یو جوش
په کښې وهٔ ـ او دَ ایرانې سردارانو په زړونو کښ دَ بغض دَ کینې او دَ
بدنیتئ اور بلیدهٔ ـ

دَ نوَر ختو سره جنګ شروع شهٔ ـ دَ ایرانیانو دَ کس اړخ فوځ
زورَور شهٔ ـ دَ پښتنو ښې اړخ باندِ يې غلبه وکړه په ورستو يې کړ ـ په
دغه وخت کښ دَ عربو حاکم وروستو نه راغئ دَ پښتنو کس اړخ يې رامات
کړ او دَ هغو په کیمپ باندِ يې لوُټ راواخست ـ دَ دهٔ دې کار کمټلئ
جنګ بایلود ـ څه وخت چه دهٔ پښتانهٔ په ماتې کړَ ول ـ هم دغه وخت دَ
ایرانیانو دَ ښي اړخ فوځ خپلو مخامخو پښتنو باندِ حمله وکړه او هغوئ يې
ورستو کړل ـ محمود په یو اوچت ځای باندِ دَ جنګ تماشه کوله ځیال يې
وکړ چه هرڅه له لاسَ ووَتل او تیښتې ته تیار شهٔ ـ او هرڅه به يې له
لاسَ وُتې وُو که دَ عربو حاکم خپل لوُټ پرسیئې وَې ـ دهٔ دَ دې
موقعې نه څه فایده وانهٔ خستله څکه دَ پښتنو جرنیل په ورستو شهٔ او
ایرانیان يې ځان پسې دَ خپلو توپو تر کن ار لاندِ راوستل ـ دا توپې

په اوښانو بانډې تړلي وي او اوښان په قطار چو وُو. اوس دهٔ خپل فوځ مخې نه په ډډه کړ او په ایرانیانو بانډې یې یو بار دَ توپو وچلاوهٔ. دي کوله بارَګ ایرانیان له مخکښ راتلو نه داسي منع کړل چه اَوتر یې کړل. دَ ښښتنو دي حملي دوئ په ورستو کړل او ترلري یوري یې ورسېږي دَو وُوهلو بیا په ورستو راغلل او دَ هغو په هغه توپو یې قبضه وکړه چه هغو نه خوشي پاتې شوي وي. دا توپي یې بیا په دښمن بانډې وچلولي. په دي بانډې ښهٔ ښایسته کار وشهٔ. دَ ایرانیانو دَ فوځ مینځنۍ حصه بالکل تباه شوَه کس ارخ یې په ورستو شهٔ او دَ عربو حاکم دَ خپل لوټ ډېر مال پرېښو وتښتېد. دا فتح بالکل دَ فیصلي وَه. دي اصفهان دَ پښتنو په تلي کښې کېښود.

که څړي بادشاه مرد وَي نو دا نتیجه به یې نهٔ وَه ختلي څکه چه محمود دَ فتح نه پس داسي اریان دریان وهٔ چه هیڅ خبره یې مغزو کښې نهٔ جوړېدَه او په دي کښې تر نه ایرانیانو څهٔ خپلي پرېښې توپي هم یوړي.

په دي شکست کښې بادشاه نه یَو، دوَه خطا شول او دَ جنګ واکداران یې راجمع کړل مصلحت کښې تکیا شهٔ. ډېر فکر نه پس دا فیصله وشوَه چه مقابله پکار دَه. دَ عربو حاکم دَ ښهر لوي حاکم مقرر شهٔ دَ ارستان حاکم علي مَردان خان لوي سپه سالار شهٔ چه دَ اصفهان نه هغه خوا په کوتسار بانډې کیمپ جوړ کړي.

محمود خپلي فتحي ته ډېر حیران وهٔ او دَ دي لویي فتحي اندازه یې نهٔ شوه لګولې. دا یو بابیلَي جنګ وهٔ چه هغهٔ وګټهٔ. یو خو په دي وجه چه دَ کار په وخت دَ عربو حاکم په شرَه اختته وهٔ بل په دي وجه چه دَ هغهٔ دَ غفلت

په وخت کښې د محمود د ښاري ارخ فوځ کمانډر خپل کار وکړ. دی دې فتحې ته هېڅ تیار نه وه ځکه خو تر نه ایرانیانو خپلې پاتې شوی توپې د ښار پورې. د فتحې په دویمه ورځ هم دی چپ ناست وه او کومې سختۍ چه پر کرمان او یزد کښې تېرې شوې وې د هغو اثرې لا په زړه پروت وه. د اصلي حال ده ته هله پته ولګېده چه د ده لېږلي جاسوسان واپس راغلل او ورته یې وویل چه د اصفهان خلق څو دومره وارخطا شوې وه چه ته په ښهر ورننوتۍ شوې.

اوس د ده سترګې وغړېدې او ویښ شه. ورپښې یې په فرح آباد باندې حمله کړه چه د ښهر نه درې میله لرې یو محل وه او څلور واړه طرف ته یې د مورچې فصیل وه ځکه چه ایرانیانو د هغه څه حفاظت نه وه کړې نو وایې خست او بیا یې په جلفا باندې چغه ووېسته چه اصفهان ته یونیم میل سهیل ته دی ته د زنده رود د سهیل په غاړه باندې پروت وه. به دې ښار د آرمینیا فوځ وه چه د پښتنو د وېرې نه یې تر آخرې سلګۍ پورې د دې حفاظت نه ملا تړلې وه. د ایران د دلبار کارونه د لیونو په شان وو ځکه د دې بهادرانو مدد هم د بادشاه نصیب نه شه. د محمود ورپښۍ حمله هغو واپس کړه لیکن په بله ورځ ډېرو وسله کېښوه او ډېر ونیولې شول. هم په هغه ښېه دیوال کښې یو سورې وشه او ښهریانو خپل بائیلات ومنه. سره د دې چه د ښهر حواله کولو لوظ وشه بیا هم پښتنو د جلفا د آرمینیانو نه ډېر ډېر رقمونه واخستل او خپله فتح یې په قسم قسم ظلمونو باندې بدنامه کړه. د محمود په قبضه کښې دا وخت د اصفهان سره نزدې ټولو نه لوی ښهر وه چه د پولونو

په لار هغه ښهر سره يوځاي شوي دهٔ. اوس يې دَ ښهر اخستو ته
څه صبر وُنه کړ. دَ دهٔ دَ يوويشتم مارچ ورښتې حمله نامراده شوه دَ ټولو
نه لوي پُل اخستو دپاره په دويمه حمله کښې خپل مراد ته نږدي رسيدلې
وهٔ. ځکه دَ پُل تر منځ پوري تلې وهٔ ليکن په دغه وخت کښې يو څو
توپي دَ دهٔ دَ ځوانانو په سر بانډِ راغلې وډريدي او دَي ډير په وارخطايۍ
واپس شهٔ. ايرانيان ورپسي دَ دهٔ تر خندقونو پوري راغلل او ډير سخت
نقصان يې ورته ورساوهٔ. دي نامراديَ ورته کرمان او يزد بيا راياد
کړل. او محمود دَ ښهر اخستو نه نااميدَ شهٔ. دهٔ اوس بادشاه ته يوه
جرګه وليږله او دَ جرګي په خولې يې ورته دا شرطونه پيش کړل چه که بادشاه
يې ومني نو زهٔ به واپس لار شم. هغه شرطونه دا دُو. ورښتې خو دِ ما
دَ قندهار، کرمان او خراسان خودمختار بادشاه ومني او بل دا چه بادشاه
دِ خپله لور راکړي او دَ هغې په داج کښې دِ يو لکه پنځهٔ ويشت زره اشرفۍ
هم راکړي. بادشاه دَ پښتنو په ماتې بانډِ ځان ته غاوره وهٔ دَ دي خبرو
نه يې انکار وکړ.

محمود ورته اوس دا نيت وکړ چه له لوږي يې وژنم. دَ ملک
دپاره دا ډيره ښه وَه له بادشاه دَ هغهٔ شرطونه منليَ وَي ځکه چه کومه
تباهي او بربادِي دَ پښتنو له لاسَ بيا دَ دي ښهر وشوه دَ هغي نښي تر
سلو کالو پوري باقي وي. کلي، نهرونه، بڼي او نور ډير سامانونه چه دَ
ملک دَ ادبولو دپاره شوي وُو برباد يې کړل. سړي به يې صرهٔ کول او ښځي
به يې وښځي کولي. چه محمود دَ لوټونو او تباهيَ نه پس ميخزيونه ډک
کړل او ملک يې لوټي لوټي کړ نو بيا يې ښهر ته بلهي وُوهلي.

دا ته معلومه شوه چه گرجیان چه د عباس آباد د پل څوکۍ کوي د شرابو نشي بیخود کړي دي نو زر یې په پل قبضه وکړه او دوه قافلې د رسد چه ښهر ته دننه تلې وې یې نیوې. اصفهان یې بیا په تلې کښې پروت وه ولې په یو کار بیا د قلابندیانو په زړونو کښې څه طمع امید پیدا شول د اصفهان نه دري میله هغه خوا په یوه غونډۍ باندې د بن اصفهان قلابند کلی وه. د گلناباد د جنگ نه پس ډیر ایراني سپاهیان هلته تلي وو او هلته نه به یې د پښتنو په هغه ډلو حملې کولې چه چرته به تر نه لار غلطه شوې وه او په تیر کښې به هغه خوا ورغلي - او د داسې حملو موقعې به اکثر هغوی ته په لاس ورتلې. آخر یوه لویه موقعه ورته دا لاس ته ورغله چه امین الله نوم یې د پښتنو یو سردار د رسد دغه قافلو نه یوې سره واپس راته او د بن اصفهان کلي څنګه راتېرېده. پښتنو سره دا وخت د لوټ ډیر مال وه د ایرانیانو ورته خوله اوبه شوه او سمدستي باهر راووتل حمله یې پرې وکړه. ټول سامان یې تر واپس واخست. محمود د خپلو سړو مدد ته راغی لیکن هغه ته هم هغو نقصان ورساوه او واپس یې کړ او ډیر سړي یې تر ونیول. دي قیدیانو کښې یو د ده تره دوه د تره زامن یو میرنۍ ورور هم وه. له دې وجهې نه چه خدای خبر د هغو په قسمت څه لیکلي دي محمود بادشاه ته سړي ولیږه او د هغو د سر امن یې تر نه وغوښت. ولې د بادشاه د خبر اخستو نه وړاندې د بن اصفهان سپاهیانو ټول قیدیان قتل کړل.

دلته محمود څنګه چه څومره قیدیان وو ټول یې مړه کړل او دغه سې یې د هغو بدل واخست او حکم یې وکړ چه په دې خلقو باندې

رحم وُ نهٔ کړي- لیکن دهٔ چه کوم شکست خوړلي وهٔ هغهٔ ي بالکل طمع قطع کړي وَه ځکه ي دَ عباس آباد دَ پُل تتولي مورچي مضبوطي کړي نو واپس تر فرح آباد نه راغئ-دي نه جوړ دَ دهٔ دا مطلب وهٔ چه دلته ورته ډیره شم چه ایرانیان دَ لوړي له لاسه عاجز کړم-

اوس هم صافي خاندان دپاره وخت وهٔ چه ایران کښې ښهٔ ښهٔ سړي موجود وُو خو دَ هغو بیعزتي شوي وَه او سزاګاني ورکړي شوي وي اد ناکاره سړو دَ ایران دَ بادشاه نه تښتو جوړ کړي وهٔ-نن ورځ چه په کوم سړي باندِ دَ بادشاه ډیر اعتبار وهٔ هغه دَ عربو حاکم وهٔ چه دَ ګلناباد جنګ ي بایلودَي وهٔ او دَ هغه زماني خلقو هم دا ویل چه بادشاه سره به ي تل ټکي کوله-کوم سپاهي چه دَ قلابندئي په وخت کښې ډیر ډیر خدمتونه کړي وُو هغه احمد علي نوم یو خواجه سرا وهٔ-عربیان دَ هغهٔ بادشاه ته په دي نزدیکت باندِ وویریدل او دَ بادشاه په مجلس ي په هغهٔ تور پوري کړ-بله ورځ دا خواجه سرا په خپل کټ باندِ مړ بیاموندَي شهٔ-دَ ګرجستان ګورنر چه بادشاه تهٔ ي ډیر مدد ورکولي شهٔ دَ بدنیتو دي مجلس داسي بیعزتَ کړي وهٔ چه دَ شاه حسین دپاره دَ جنګ کولو نه ي قسم خوړلي وَه په اصفهان کښې یو بل سړي هم وهٔ یعني لطف علي چه هغهٔ دوه کاله ورښيَ محمود له کرمان نه زغلولي وهٔ-اوس ي چه ورته دَ فوځ کمان ورکاوهٔ نو هغهٔ انکار وکړ-کومو خلقو چه دَ دهٔ ورور روند کړي وهٔ هغويَ اوس هم دَ بادشاه په خاصو کښې وُو-او دهٔ بخپله هم آزمیښت کړي وهٔ چه دَ داسي خلقو په لاس کښې دَ ملک اختیار دَي نو هلته دَ ښي ورځي مخ لیدل ګران دي-

محمود دَ فرح آباد نه دَ رسد آخره قافله چه ښهر نه تله منع کړه - دَ بادشاه مشر زوي شاه طهماسپ چه په صوبو کښ فوځ جمع کولو دپاره تښتېدلیَ وهٔ خپل پلار ته يې دَ خپلي نامرادۍ خبر هم دا وخت ورکړي وهٔ - بادشاه دَ خپل خاندان لپاره اوس هغه شرطونو ته غاړه کېښوده کوم يې چه ورښيې نهٔ وُو منلي ولي محمود دا خبره منظوره نهٔ کړه. دَ اصفهان اوس آخري سلګۍ وي ليکن دَ ملک محمود چه دَ سيستان ګورنر وهٔ سره دَ لس زرَ فوځ ګلناباد ته دَ رارسيدو خبر يُ چه واوريد نو ټولو شهزادګانو او خلقو کښ ساه وغرځېده - ليکن دا خوشحالي دَ هغو څو ورځي وه. دَ قندهار بادشاه ورسره دَ خراسان دَ بادشاهۍ ورکولو لوظ وکړ په دي شرط بانې چه اصفهان هم په خپل حال بانې پرېږدي. دَ دهٔ په مقابله کښ بادشاه ورته دَ څه څيز ورکولو لوظ نهٔ شهٔ کولیَ څکه محمود ملک مشهد ته روان شهٔ. اوس آخره خاتمه نزدي وه ليکن محمود له قصدَ ظلم راواخست - دوه مياشتي پوري يُ قلابندي اوږده کړه - دهٔ سره تش شل زرَ سپاهيان وُو او دَي دَ ښهر يو لکه خلقو ته تر اوسَ پوري ويرېدهٔ څکه يُ دَ لوږي له لاسَ مرهٔ کول. آخر خبره دي حد ته راورسيده چه دَ هغو زغم تمام شهٔ په دوه ويشتم دَ اکتوبر بادشاه خپلو وکيلانو ته دَ دي خبري اختيار ورکړ چه محمود ته دَ بادشاهۍ سپارلو په اقرارنامه بانې دستخطونه وکړيُ او په بله ورځ يُ رعيت ته رخصت ورکړ او دَ عربو حاکم او دَ ښهر نورو اميرانو سره په هغه آسونو سور شهٔ چه محمود ورته رالېږلي وُو او دَ پښتنو دَ بادشاه ځاي ته روان شهٔ.

چه هلته ورسيد نو نور هم دَ دهٔ سپکاوَي وشهٔ - دهٔ ته حکم وشهٔ

دهٔ ته حکم وشهٔ چه لږ ودرېږه بادشاه اُودهٔ دَي. نیمه ګینټه پس ورته دَ مخکښې تلو اجازت وشهٔ. یو مِلټ پس دَ فرح آباد دَ محل لویې کمرې ته یې ننیست. بادشاه یو کُټ کښې په ګدَۍ باندِ ناست وهٔ دَ سُنهرِي غلاف بالښت ته یې اډه وهلې وَه چه دَي دَ کمرې نیمې ته ورسید نو دا دَ جادُو دَک الفاظ یې وُوِ چه "بادشاه سلامت اوسي" محمود پاڅید او دَ دې ادب جواب یې ورکړ. بادشاه یې بیا دَ دې پېښتُون کسي ددې ته کښېنوهٔ. بیا دَ دعا نه پس هغهٔ دَ بادشاهۍ قرقره خپل فاتح ته ورکړه. دَي یې دې خبرې ته ناچاره کړې وهٔ چه چپ کښېني او په خپل لاس دِ دَ محمود په بګړۍ کښې دَ بادشاهۍ نښه وتومبې، څکه چه دا بادشاهي قرقره دَ وزیر له لاسَ محمود ته وَه اخستې. دې وینا نه پس چه "په آرام او په قلار بادشاهي کوه". بادشاه دا خپل رسم پُوره کړ او په خپل ځای کښېناست دې نه پس قهوه راغله محمود چه خپله پیالۍ لاس کښې واخسته نو ورسَبې خبره یې دې زور بادشاه ته دا وکړه چه "دغه دَ بني آدم دَ لوي والي حقیقت دَي". خدای چه چا ته یې خوښه وِي بادشاهي ورکوِي او دَ یو قام نه یې اخلي بل ته یې سپارِي. لیکن زهٔ تا سره دا لوظ کوم چه زهٔ به تا لکه دَ خپل پلار په شان ګنړم او یو کار به هم بې ستا له مصلحت نه نهٔ کوم. دَ صافي خاندان دَ واک اختیار بادشاهي خلاصه شوه دغه سې دَ قندهار دَ غلزو بادشاه دَ ایران بادشاه شهٔ. اوس زهٔ محمود په خپل اخستي تخت باندِ پرېږدم. دَ دهٔ په باب دومره خبره ډېره ده چه ښې ورځې دَي ظالم او عیاش کړ. او له دې وجهې نه دَ دهٔ څه خپله زرغونه نهٔ شوه دَ دهٔ مغزو کښې نقصان راغۍ او په

سنه ۱۷۲۵ع کښی یعني دَ اصفهان اخستو نه دري کالَ پس مړ شهٔ.

دَ دهٔ نه پس دَ دهٔ دَ هغه تړهٔ زويُ چه دهٔ مړ کړي وهٔ اشرف نوم په تخت کښيناست. اشرف پوُره لایق سړي وهٔ. ولي هله کُله داسې لویه وَه چه ډیر لایق سړي هم نهٔ شوه دفع کولَی. پښتو کالو پوري دَ جنګ جګړو بادشاهيُ کولو نه پس په ۱۵ جنوري سنه ۱۷۳۰ء دَ طهماسپ قلي‌خان له لاسَ يُ چه بیا ورستو په نادرشاه بانِدِ مشهور شهٔ په مېدانِي جنګ کښی شکست وخوړ. اشرف وتښتید لیکن چه په میرو کښی لیونَي سيپلنَي ګرزیدهٔ نو دَ یو بلوچي له لاسَ مړ شهٔ. دَ دهٔ په مرګ ایران کښی دَ پښتنو بادشاهي خلاصه شوَه.

دَ دي بادشاهيُ کوم تاثیر چه په ایران بانِدِ وشهٔ هغي بانِدِ دَ ټولو تاریخ لیکونکو اتفاق دَي. سرجان میلکم دَ ۱۵ جنوري سنه ۱۷۳۰ء جنګ نه ګُته نیسي لیکي. "دَ ټولو پښتنو مرګ تش دَ هغه ظلمونو له عوندِ بدل وهٔ چه هغو په ایرانیانو بانِدِ کړي وُو. دَ اوهٔ وُ کالو لږه عوندِ مُده کښی لسو لکو ته نژدي بني‌آدم دَ ایران وُوژلیَ شول او اوچت اوچت عالِي‌شان ځایونه زمکي سره زمکه شول. دا دَ هغه دښمنانو کار وهٔ چه نهٔ په کښی دومره طاقت وهٔ او نهٔ عقل چه دَ خپل اخستي ملک انتظام يُ کړَي وَي. نتیجه يُ دا راوختَه چه کومه بربادِي دويُ کړي وَه هغه يُ بیا په ځايَ کولَي نهٔ شوَه." دَ فیرَیر له ره عوندِ خبره هم چا نه کمه نهٔ دَه او نهٔ په کښی دَ سپورو ستغو څه کمَي دَي. پښتنو دَ اوهٔ وُ کالو بادشاهيُ کښی دَ ایران دریمي برخي نه زیات خلق وژلیَ وهٔ. ډیري آبادیُ يُ ورانِي کړي وي. پښتانهٔ دَ جنګ مړِي وُو خو دَ بادشاهيُ لیاقت په

کښې نهٔ وهٔ۔ دَ هغو بس دا کار وهٔ چه هر چرته چه به تلل نو په زور یا په رضا یا په څه بهانه هر رنګ چه به وُو روپۍ به یې اخستې۔ څکه خو هسې قدرتي بغاوتونه شروع شول۔ او دوئې ډېر فوځ جمع کړ۔ دَ دوئې آخر کښې دَ شلو جنګونو نه پس ډېر لږ او کمزوري فوځ پاتې شهٔ۔ افغانستان نه یې نوي سپاهیان نهٔ شوُ بهرتي کولئ څکه باهراني سپاهیان یې له بدې ورځې په ضروري ځایونو ونګول او هغه داسې سپاهیان وُو چه دَ هغو په وفادارئ باندِ شک وهٔ او په مېنه به یې ډېر کم جنګ کاوهٔ۔

اوس بیا دَ قندهار حال لیکم په ۱۷۲۲ء کښې چه محمود په ځپل لام باندِ روان شوَی وهٔ نو په ځپل ځاي باندِ یې قندهار کښې ځپل ورور میرحسین کښېنولئ وهٔ۔ دي لایق شهزاده دَ محمود په دې صوبې بنه بادشاهي کوله لیکن دَ هغهٔ په مرګ حسین ځپله بادشاه شهٔ۔ سره دَ دې چه هرات، سبزوار او فرح بله پېې لوُټ شول خو دَ قندهار په آزادئ باندِ دَ هغه خلقو دَ جنګونو په وجه کوم چه دَ محمود له مرګ پس دَ ایران په تخت باندِ ناست وُو تود باد وُ نهٔ لګیدِ۔ او هغه وخت هم قندهار باندِ څه تاثیر وُ نهٔ شهٔ چه طهماسپ قلي خان دَ پښتو دَ بادشاهئ په ایران کښې ۱۷۳۱ء کښې خلاصې وکړ۔

لیکن ۱۷۳۶ء کښې بیا هغه حال نهٔ وهٔ۔ دَ اشرف له مرګ پس دَ هغهٔ فاتح نور ملکونه ډېر واخستل۔ دَ دې خبرې پوهیدو دپاره چه په پښتنو باندِ دَ هغهٔ دَ ګټو څه اثر وشهٔ دا ضروري خبره ده چه دَ نامتوُ نادرشاه دَ ژوند لږ غوندِ حال ولیکلئ شي۔

دا عجیبه جنګیالئ ځوان په ۱۶۸۸ع کښې خراسان کښې پیدا شهٔ دَ دهٔ پلار امام قلي خان دَ یو وړوکي غونډ خاندان ترک وهٔ دَ دهٔ دَ ځوانئ زمانه داسې وَه که ورته دَ یو لوي طوفان زمانه وُوائي نو په ځاي دَه. کله به هغهٔ په اُزبکو باندې حمله کوله او کله به هغو دَي ګیر وهٔ یو وقت کښې به یو معمولي نوکر وهٔ بل وقت به دَ یو وړوکي سردار قاتل وهٔ. مجمله یو ډاکي مار وهٔ او دَ ډاکي مارو ملګري وهٔ. په ځوانئ کښې دَ خراسان دَ ګورنر په نوکرئ کښې لګیدلي وهٔ خو دَ خپل نصیب او تندي له کبله ئې اوس هم هغه حال وهٔ. کله به ئې په ښهٔ کار باندې ترقي موندَه او کله به ئې په څه بي ادبئ باندې بیعزتي کیدَه. دي سزاګانو دَي سره سکروټه کړ. او قلات ته لاړ چه دَ مشهد نه دَ لسو ورځو په مزل پروت دَي. هلته دَئ دَ هغه ځاي حاکم یعني خپل تره ته ورغئ تره دَ دهٔ ښهٔ دار مدار وکړ لیکن په لږه مُدَه کښې خپلو کارونو دَي له هغه ځاي نه وویست. چه بیائ غم په خپل سر شهٔ نو خپل ځوانئ کسب یعني داړي ئې بیا رااخستي. دغه وخت دَ دهٔ عمر ۳۴ کالو ته نزدي وهٔ او دا هغه زمانه وَه چه محمود دَ صافي خاندان خلاصي کړي وهٔ. او چه دَ ملک حال داسي خراب وهٔ چه دَ غلو دَ رنګ راج زمانه وَه نو نادرشاه ډیر خلق دَ ځان په پړه کړل. څکه چه دَي یو بهادر سردار وهٔ. او خپل کارئ رااخست. او چه محمود مړ شهٔ نو دَي دَ داړي مار په سردارئ کښې ښهٔ مشهور شهٔ.

دَ محمود له مرګ پس دَ شاه حسین زوي طهماسپ مرزا چه دَ ۱۷۲۲ع په جنګ کښې تښتیدلي وهٔ دَ تخت دعوئ وکړه او ځلورو

وارو ډډو نه يُ خپل ملګرِي راوغوښتل. دَ طهماسپ قلي تره چه دَي يُ اول شرطي وهٔ بيا يُ ورسره سوال جواب وکړ چه دَ مرزا سره تل شه. طهماسپ قلي په دي شرط بانډِ راخبره ومنله چه دَ دهٔ ټير ګناهونه ونجښلي شي. دَ معافيَ کاغذ قلات ته راغيَ او دَي دَ هغي دپارهِ هلته لاړ. دَ قلا دَ ننوتو اذن چه ورته وشهٔ. نو سره دَ ورسلو يُ خپل ترهٔ وُوَژهٔ. په هغه ځاي باند يُ قبضه وکړه. او مرزا سنه يُ چه اوس شاه طهماسپ وهٔ بله معافي واخسته نو دَ هغهٔ په نوکريَ کښ لکه دَ بهادرانو ورننوت. هغه زوړ نصيب اوس هم ورسره وهٔ ولي دومرهِ وَه چه اوس يُ دَ نصيب دَ تنتو واکي راټينګوليَ شوي. په څه وجه پرِ دَ باغي اواز وشهٔ. دَي سمدستي دلبار ته لاړ او لوظ قول يُ وکړ. دي نه پس حاکم په اصل کښ دَي وهٔ هسي نوم پرِ دَ نوکر وهٔ. هغه وخت هم دَي په هغه حال کښ وهٔ کوم وخت يُ چه پښتانهٔ په سنه ١٧٣١ء ورک کړل او شاه طهماسپ يُ دَ ايران په تخت کښينوهٔ.

دَ دي فتحي په بدل کښ ورته دَ خراسان، مزندران، سيستان او کرمان دَ دي څلورو لويو صوبو حکومت ورکړي شهٔ. دوه کالَ پس چه دَ دهٔ پاه پسي فتحو دَ ايران دَ بادشاهيَ په هريو ګټ بانډِ دَ دهٔ دَ طاقت سوري وکړ نو دهٔ شاه طهماسپ له تختَ کوُز کړ او دَ هغهٔ ماشوم زوي شاه عباس يُ هسي په نوم په تخت بانډِ کښينوهٔ.

اوس دَي په بغداد بانډِ دَ حملي کولو دپارهِ اصفهان نه لاړ. دَ بغداد خلاصولو دپارهِ دَ ترکو فوځ رامخکښ شهٔ. دهٔ ورسره مقابله وکړه

شکست یې وخوړ ولې دي شکست دي و نه دیروه خپل فوځ یې
زیات او مضبوط کړ په ترکو وروخوت او مراد ته ورسید. بیا یې آرمینیا
او ګرجستان واخستل او ترکیان یې صلح ته ناچاره کړل - چه خبر شه
چه ماشوم بادشاه مړ شه نو د ارس دریاب سره نږدي مرغن نوم
میدان ته راروان شه - دلته ده د ایران راجع کړل او خپل ځان یې پر
بانډ د هغه خالي تخت د بادشاهۍ دپاره بادشاه کړ او نوم یې په ځان
نادرشاه کیښود او په ۲۶ فروري سنه ۱۷۳۶ء ورته تاج په سر شه. چه
بختیاري قام چه ډیر ډاکي مار وه نادرشاه تابع کړ نو پس له هغې یې
دومره فوځ چه له اتیاو زرو نه پورته او د یو لکه نه راښکته وه ځان
سره واخست او د قندهار په نیت راروان شه. دا ځاي میرحسین د
میرواعظ ددیم زوي څخه وه. نادرشاه میرحسین د طاعت منلو دپاره
راوباله. لیکن د دي پښتون سردار هم لکه د خپل پلار او ورور په
شان دا خیال وه چه د ځاي په ټولو ښځتونو کښ د قوم "آزادي" یو
په لکه ډیر ښه شي دي ځکه یې د نادرشاه په ځواب کښ خپلي مورچي
او قلاګاني مضبوطي کړي.

قندهار د شیر وښتو کالو په آزادۍ کښ د خوشحالۍ په وجه ډیره
ترقي کړي وه - آبادي یې ډیره شوي وه - دولت یې زیات شوي وه او
سوداګري یې آسمان ته رسیدلي وه - دا ټول ښځتونه د هغه حفاظت
نتیجي وي چه د خپل ملک بادشاه یې تل کوي - د حسین د بادشاهۍ
زمانه چه اصل کښ له سنه ۱۷۲۲ء نه شروع شوي وه ملک دپاره ډیره ښه
فایده منده وه - چه په دي ملک بانډ د نادرشاه د راختو خبر وکرزید

نو ټولو پښتنو ځينې نه په دې خبره يوه خوله شاباسي ورکړ چه دې تر آخري سلګۍ پورې ورسره دَ جنګ نيت لري او دَ دې ټولو ډيري ډيري طمعې وې. دا ښهر دَ يو کاريز غر په لمنه پروت وه چه دَ هغې په قطب او نوَرخاتهٔ خوا ته ښور وهٔ او چارچاپيره تر نه بې شمير دَ کانړو برجونه وُو. دَ دې غر په سوکه بانډې يوه قلا وَه چه دَ هغې اختل په عقل ګران ښکاريده. دا قلا بالکل دَ ګرهې دَ پاسَ وَه چه دَ ښهر او دَ هغې تر منځ پرته وَه. دَ قلا فوځ ديرشو زرو ته نژدې وهٔ او ډير زيات راسن يُې جمعَ کړې وهٔ چه که دښمن چاپيره پريوزي چه ډيره مُده تکليف نهٔ وي. نادرشاه دَ هرات او دَ فرح له لارې نه قندهار ته راوراند شهٔ. دا دواړه ځايونه يُې بې ډزَ بې ډوزَ واخستل. دَ هلمند دَ لارې دپاره ګرشک بانډ يا هغې ته نژدې ميرحسين دَ نادرشاه دَ فوځ ديرشو زرو ځوانانو سره مقابله وکړه. دې پښتون سردار دَ هلمند لار نادرشاه ته ګرانه کړه. بيا يُې دا خيال وکړ چه که دلته ځو ورځې نور هم مقابله وشي نو بيا به خواه مخواه واپس کيدو نه ناچاره شم. دهٔ هغه ځاي پريښود او دَ ګدَيُ ځاي ته لاړ. دې مقابله کښې دَ دهٔ دوه زرو پورې ځوانان مړهٔ شول. نادرشاه بيا دَ ګدَيُ په ځاي راوځوت. چه دَ دې ښهر موقعه وليدَه او دَ دهٔ طاقت او دَ قلا دَ فوځ جوش يُې وتللو نو دهٔ مخه لويې توپې خو وې ته څکه يُې دا نيت وکړ چه چاپيره تر پريوزم او قحط پر راولم.

څه دَ خيل ځان او څه دَ نوځ ډيرې ډانډې جوړولو دپاره او څه دَ پښتنو دې يقين راوستو دپاره چه ځو پورې قندهار وانهٔ خلم واپس

به نهٔ شم نو نادرشاه دَ محاصري شروع کولو سره دَ خپل فوځ ډيرو ته نژدي دَ يو نوي ښهر دَ حل حدود نقشه واچوله چه دَ هغهٔ نوم يې نادرآباد کيښود (يعني دَ نادر ځاي) دَ ايرآن سره دَ تلو راتلو لار يې ښه مضبوطه جوړه کړي وَه او دلته ډيرش زرَ سوارهٔ چه مدد دپاره راغلي وُو به هغو يې کير چاپيره علاقي صافي کړي. هغهٔ دَ محاصري مضبوطولو دپاره دَ ښهر کير چاپير برجُونه وخيژول چه دَ هغو يو بل سره تعلق دَ ډَرو ډَرو توپخانو په سروهٔ. چه مېرحسين دَ نادرشاه دا مضبوط ضد وليد او دَ هغهٔ دا تيارَي او بند وبستونه ورته ښکاره شول نو نادرشاه ته يې سوال ځواب وکړ چه دي شرط باندِ زهٔ بادشاه منم چه تهٔ هرات ته واپس لار شي.

ليکن دا خبره نادرشاه دپاره څه غټه خبره نهٔ وَه. لس کالَ ورښتي دَ طهماسپ دَ نوکرَي نه پخوا دهٔ يو زبردست خوب ليدلي وهٔ. دهٔ بيه خوب کښې يوه مرغابَي او سپين کب ليدلي وهٔ چه څلور ښکر يې وُو هغه مارغهٔ دهٔ په خوب کښې په ټوپک وويشت او چه ټول ملکري يې دَ کب رانيولو پسي ستړي شول نو دهٔ زر په آسانه راونيو. نجوميانو دَ دي خوب دا تعبير کرَي وهٔ چه هغه مارغهٔ چه دهٔ ويشتي دَي دَ ايران بادشاهي دَه او دَ کب څلور ښکرونه دَ ايران څلور ګټه دِي يعني خوارزم ملکِ تاتار او هندوستان. دَ هغه مارغهٔ او دَ کب بادشاهي نيو نښانو نه دا مطلب دَي چه دَ دي څلورو بادشاهو واکي به دَ دهٔ لاس کښې راځي. په دي خوب باندِ دَ دهٔ پوره پوره يقين وهٔ او دا خوب يې ډير زړهٔ ته نژدي وهٔ او بيا لا دَ دي خوب تعبير څه لږ غوندِ ورته ښکاره

شوَي هم وهٔ. نو ځکه يُ دَ ميرحسين دا نيمګړي متابعت نهٔ منهٔ ځکه چه
خپل خوب يُ نهٔ دروغژن کاوهٔ. قندهار دَي يو ځل جنګ ته تيار کړي
وهٔ او اوس يُ علاج نشئ وَه. لنډه دا چه نادرشاه دا خبره وُ نهٔ منله
او محاصره يُ په خپل ځاي وساتله.

پوره يو کال ورته محاصر پروت وهٔ په دي موده کښ دَ دهٔ زوي
او جرنيلانو دَ قطب او نورخاتهٔ ډيري علاقه واخسته. په بلخ او په هغه
ملک چه اوس ورته افغاني ترکستان وائي هم دَ دهٔ قبضه وشوه. دَ دهٔ
زوي رضاقلي خان په سيحون سيند پوريوت او دَ ازبکو پولوي فوځ
ته يُ شکست ورکړ. او نژدي وَه چه بخارا يُ اخستي وَي خو نادرشاه دَي
ځکه واپس راوغوښت چه دهٔ دَ سيحون نه هغه خوا خپله بادشاهي ارتول
نهٔ غوښتل.

ليکن قندهار هغه سي په خپله مقابله ټينګ وهٔ او دَ مقابلي پريښو
څه علامه نهٔ ښکاريده. ميرحسين او دَ قلا فوځ خپله بهادري ښودلي
وَه. هغه داسي وَه چه دوي دَ قلا نه وتي وُو او حمله يُ کړي وَه او
يو ځل يُ خپلو دښمنانو ته يو بد شکست هم ورکړي وهٔ. هسي وقت
تيريدهٔ او دلته دَ مغلو دَ اميرانو وزيرانو چيټي په چيټي راتلي چه هغو
نادرشاه دَ هندوستان دَ اخستو ليواله کړي وهٔ. نادرشاه نور صبر وُ نهٔ
کړي شهٔ او دَ يوي حملي نيت يُ وکړ. دَ سپاهيانو دَ قطارونو صفونه
صفونه يُ جوړ کړل چه قلابنديانو ته يو پوټي مهلت په لاس وَرنهٔ
شي. دي نه پس حمله وشوه. دا حمله بي دَ ساه اخستو دوه ورځو
پوري جاري وَه ليکن په دريمي ورځ دوي ورستو کيدل شروع

کړل. په دویمه ورځ دا ورستو کیدل تش ورستو کیدل نهٔ وُو بلکه دَ فیصلې او دَ شرم ورستو کیدل وُو چه ناځاپه دَ نادرشاه دَ سپاهیانو دَ یو وفادار ټولې په بهادرۍ دَ دهٔ ټول امیدُونه او مرادُونه تر سره شول.

ما ورښې لیکلي دي چه نادرشاه دَ ایران نه رارواني دهٔ نو ورښې ورته دَ بختیارانو دَ تام تابع کول ضروري ښکاره شوي وُو چه دَ اصفهان سره نزدې غرونو کښ يې محکم ځایونه نیولې وُو. دهٔ ورښې هغو ته سزاګانې ورکړي او بیا يې په خپل نوخ کښ بهرتي کړل او دَ دې ټولو نه ډیر ښهٔ سپاهیان وُوتل. دَ قندهار دَ حملې په دویمه ورځ ناسپینین چه حمله کونکې یقیني ورستو شوي وُو. دا بهادر سپاهیان دَ ښهر دَ قطب دَ دې ښغو غرونو باندې وختل او وَروکي غونډې هوار میدان ته ورسیدل او هلته يې نُوکې ښخې کړي. دا ځاي دوئ خپله مورچه جوړه کړه او غرهٔ پلو ته يې په ډیرو برجونو باندې قبضه وکړه. هغوئ دي برجونو ته دَ ښکته نه په رسو باندې دَ وَرو خولو توپې وخیژولې. او دَ هغو په زورئ دَ شپې په نورو باقي برجونو باندې قبضه وکړه. اوس ښهر دَ دوئ په واک کښ وهٔ.

لیکن دا يې آخره خاتمه نهٔ وَه دَ غرهٔ دَ سُوکې کرانه قلا اوس هم میرحسین او دَ هغهٔ بهادرو پښتنو ټخه وَه. هغوئ اوس دغه ځاي ته ټخه وکړه او دلته چه راغلل نو خپل شرطونه يې پیش کړل. دا شرطونه ډیر ښهٔ وُو. په نادرشاه باندې دَ پښتنو دَ بهادرۍ ډیر تاثیر شوي وَهٔ هغهٔ ډیر ښهٔ پوهیدهٔ چه دا پښتانهٔ به ځما دَ هندوستان په حمله کښ ډیر

پکار شي څکه يُ ميرحيين دَ قندهار خپل گورنر په دي شرط ومنهٔ چه دَ خپل بهادر فوځ نه يو تکړه فوځ ورکړي (۱۷۳۸ئہ)

دا خبره هم دلته دَ ليکلو دَه چه دَ لوظ قول نه پس دَ ميرحيين او دَ هغهٔ دَ خلقو ورښي کار دا وهٔ چه نادرآباد يعني هغه کلي ته چه نادرشاه دَ محاصري په وخت جوړ کړي وهٔ لاړ شي. دا کلي به دغه نوم بانډ اتهٔ کال پوري مشهور وهٔ ليکن چه نادرشاه په ۱۷۴۷ئہ کښي ووژلي شهٔ نو هم هغه زوړ يوناني نوم پريښوي شهٔ.

چه قندهار تابع شهٔ نو نادرشاه کابل ته روان شهٔ. دي ښهر دَ هغه تاريخ نه پس چه کوم ځاي يُ ماخبره پريښي وَه دَ خپل قسمت ډيري دوري ليدلي وي. دَ نورو صوبو په شان چه دَ شاهجهان ماتحت وي دهٔ هم څه مُده دَ بادشاهيُ تخت خالي ليدو نه پس دَ اورنګ زيب حکومت ومنهٔ.

په سنه ۱۶۷۰ئہ کښي دَ ملک دَ قطب او نورخانهٔ ددي پښتنو قامونو دَ دهٔ نايب ته شکست ورکړ او دَ خپل قوم دَ يو سردار په سردارۍ کښي يُ دَ خپلي آزادۍ اعلان وکړ. دوه کاله يا څه زياتي مُدي نه پس دَ ۱۶۷۳ئہ په جنورۍ کښي اورنګ زيب دَ خپلي بادشاهيُ منودو دپاره افغانستان ته لاړ. ليکن خپل جرنيلان يُ په کار اخته کړل او زر واپس راغيَ. ليکن دَ جوده پور راجه جسونت سنګه حاکم مقرر شهٔ نو هله دَ دهٔ بادشاهي ومنلي شوه.

(۱۶۷۵ئہ) دي نه ورښي نه. دَ هغه وخت نه تر دي وخت پوري چه زهٔ يُ اوس حال ليکم کابل دَ هغه گورنرانو تابع وهٔ چه دَ

ډیلي دلبار ته به مقرریدل. په ۱۷۳۸ کښې د نورخانه ډيي افغانستان گورنر ناظرخان وه او د کابل د ښهر سردار شیرخان وه. نادرشاه چه دي دوارو ته سوال ځواب ولیږه چه "تاسو ته به ځما د بهادرۍ مقابله کول گران وي او د ډیلي نه د څه مدد راتلو طمع نه لرئ". نو د قندهار نه غزني ته روان شه. د غزو قامونو ورته تکلیفونه ورسول خو منع نه شه. دي نه پس دي کابل ته روان شه. ناظرخان خو پیښور ته تښتیدلی وه ولي شیرخان سردار د مقابلي پوره تیاري وکړه.

مقابله ښه وه لیکن عبث وه. نادرشاه سره صرف ورې توپې وي چه په اوښانو باندې بار کړي وي. هغه ئې ښهر سره نزدي اوچتو ځایونو باندې کیښوي او مورچو باندې ئې چلولي. کیده کیده چه یو کنډو وشه. هغه حمله وکړه (جون ۱۷۳۸) او ډیر خلق ئې د تیغ نه تیر کړل او د قلا یو فوځ ئې هلته پریښو او پیښور ته راغئ.

# اتم باب (۸)

## د درانو بادشاهي

په هندوستان باندې د نادرشاه په حمله کښې دوه خبري دي چه دا وخت ورته فکر کار دي. یو خو د هغه د پښتنو فوځونو سره سلوک. دویم هغه سختئ خوارئ چه د غزو نو په

درو باندِ راتېرېدلو کښې ورته پېښې شوي وي. مونږ ورښې لیدلي دِي چه دَ میرواعظ له مرګ پس زر ابدالي پښتنو په هرات قبضه وکړه سبزوار يې واخست. او بیا ورته محمود فرات ته نږدې شکست ورکړي وهٔ. دَ دوئ په دې ماتي ټول خراسان کډ ود شهٔ. او هله امن امان شهٔ چه په سنه ۱۷۲۳ کښې ملک محمود دَ قندهار حاکم سرهِ چه په هغه زمانه کښې يې دَ اصفهان محاصره کړې وَه یوه اقرارنامه وکړه. چه دَ هغې په وجه دَ دې صوبې بادشاهي دهٔ دپاره پخه شوه. په ټول خراسان او دَ هرات په ضلعو کښې دَ بیا جګړې پورته کیدلو سببونه دا دِي. دَ ایران دَ بادشاه محمود غلزي مرګ. دَ اشرف او دَ طهماسپ دَ بادشاهۍ دپاره دعوئ کول او دَ دې دعوې دَ ګټې دپاره جګړې کول. په دې ټوله زمانه کښې دَ ابدالي پښتنو په دې ټولو ضلعو کښې زور وهٔ. او په سنه ۱۷۲۶ کښې چه نادرشاه قندهار ته تهٔ او هرات او سبزوار يې فتح کړې وهٔ نو دا ګټه له ابدالي پښتنو نه په لاس ورغلې وَه. مونږ ورښې یوه شوي وُو چه دا زورور فاتح دَ خپلو دښمنانو دَ بهادرۍ په قدردانۍ خنګه یوه وهٔ. دهٔ دَ پروني نابنام دُښمنانو باندِ صبا ته قندهار واخست او اوس چه هرات کښې په ابدالیانو او قندهار کښې په غلزو يې بري بیا موندلو نو سرهِ دَ دې چه دَ دې قامونو څه خلق په غزني او کابل کښې دَ نورو خلقو سرهِ ملګري شوي وُو. هغهٔ دَ دې ورښتنو دښمنانو نه فوځ بنا کړ. هغوئ داسې شاه خلي او اعتباریان وُو چه په میدان کښې دَ فیصلي په جنګ مونډک کیدلو سرهِ ګټه

کښې به څه شک نهٔ وهٔ-لنډه دا دَه چه دا خاص فوځ دَ دهٔ داسې
ېکار شهٔ لکه چه اولنۍ کارد په ځوانۍ زمانه کښې دَ کارسیکا دَ فاتح اعظم
ېکار شوي وهٔ-دا خاص فوځ چه دَ پښتنو نه چونړ شوي وهٔ ۱۶ زرو
کسو ته نزدي وهٔ-په دي کښې ۱۲ زرَ ابدالي او ۴ زرَ غلزيان وُو
دَ ابدالیانو فوځ ډیر وهٔ-څکه دا ضروري خبره وَه چه دَ دوئ کمان
دِ دَ یوي فرقي دَ سردار په لاس ورکړي شي-دي لويي عهدي
دپاره نادرشاه دَ علیزو نورمحمدخان خوښ کړ-دَ دي خاص فوځ
په باب تش دومره وینا ډیره دَه-چه دَ نمک حلالیٔ او بهادریٔ او سر
ورکولو په وجه دَ نادرشاه زړهٔ ته دومره نزدي شهٔ چه په ټولو
فوځونو کښې هغهٔ په دي خلقو ډیر اعتبار راواخست-او رښتیا خبره
دا دَه چه دي خلقو له ټولو نه زیات خدمتونه وکړل-دَ دي خلقو
په کارونو باندِ دَ هغهٔ تل باور وهٔ-دوئ څنګه چه بهادران وُو دغه
سي حکم منونکي وُو-هغوئ دَ دهٔ خبره بي عذرَ منله-څکه دَ نادر
په خپلو وطنیانو دومره اعتبار نهٔ وهٔ لکه چه په پښتنو ئ وهٔ-دوئ
دَ هغهٔ په ټولو فتحو کښې شریک وُو او په یوه موقعه باندِ خو ئ له
تباه کیدو نه بچ کړي وهٔ-دَ پښتنو دَ دي خاص فوځ دوغومره ثنا
صفت ډیر دَي-دَ دوئ دَ بهادرئ ورښتیا امتحان دَ هغه دَرو په
راتیریدو باندِ وشهٔ کومي چه هندوستان ته راکوزیږي-هینوي لیکي
چه یوه دا خبره هم دَ نادرشاه دپاره فایده منه وَه چه دَ هندوستان
دلبار (مغلو) دَ دَرو څوکیدارانو ته دَ ډیري مُدي راسي تنخواهګاني
نهٔ وي ورکړي-په هغه زمانه کښې هم دَ دي زماني په شان دَ غرونو

قامونو ته ماجبونه ورکول ضرور وُو. که دَ ډيلي بادشاه مياشت په مياشت
دوئ ته خپله خپله تنخواه رسولې نو اګرکه نادرشاه سره ډير هيبتناک او
يوه نوخ وه څو هيچري به له غزونو نه نهٔ وه راوتې. او دَ پيښور ميدان
ميدان کښې به ئې ښيه نهٔ وه ايښې. ځکه څو هغهٔ ته څه کړاوُ
پيښ نهٔ شهٔ. چه دَ مغلو بادشاهي خلاصيدو ته نژدې وه. ځاي
په ځاي بدعملئ ښوري شوي وي او دَ سرحد ماجب په باقياتو
کښې پروت وهٔ. اګرکه دَ غزونو قامونه دَ ډيلي له بادشاه نه خفه
وُو څو بيا هم دَ نادرشاه خوشامنده برامنده ورته شرم ښکاريدهٔ. دَ
نادرشاه هم چه روح دوئ سره نهٔ ګډيدهٔ نو څه چل ول ئې ورسره
ونهٔ کړ او په زور ئې دَ لارې يستو او په ډرو دَ تيريدو نيت وکړ
قامونو دَې ډير حيران کړ. هغوئ وني راپرې کړې او ټولې تنګې
لارې ئې ورته بندې کړې. او ډيرو ځايونو کښې ئې ورته لارې
وراني کړې. او ځاي په ځاي ئې ورته اورونه ولګول. دَې ئې ډير
تنګ کړ. کله به ئې په نوخ له ورستو نه حمله کوله او کله له يوې
بلې ډډې نه. لارې ئې ورته ونيوې او له مخکښې تلو نه ئې منع کړ.
په سوُونو ځوانان مړهٔ شول. ځکه چه يوه پوره مياشت قامونو دَې
منع کړې وهٔ. او لا تر ډيره مُده ئې منع کولې شهٔ. څو نادر ورسره
روغه وکړه. په دغه ئې عقل زيات شهٔ صُلح ورته مناسبه ښکاره شوه.
دَ هغو ټول شرطونه ئې منظور کړل. هله هغوئ دَ دهٔ تابع شول او په
نوکرئ کښې داخل شول. نادر هغه ساعت پوره کړې چه دَ دوئ
په جنګ کښې خالي شوي وي. له دې تاريخ ليکلو نه دا مطلب نهٔ

دَي چه دَ نادرشاه دَ ژوند حال ولیکو- دا لیکل بس دِي چه دَ غزوړو له دَرو نه تېر شهٔ نو دَ پېښور په میدان کښې ئې دَ مغلو فوځ په ماتې ګډه کړ او پېښور او لاهور ئې پله پسې واخستل- په ستلج پوریوت- او بیا ئې دَ مغلو فوځ په ۱۳ فروري ۱۷۳۹ء په کرنال کښې وټبټوهٔ- او دَ مغلو دَ بادشاه یعني دَ محمدشاه ناثب سره ئې په خپل کیمپ کښې ملاقات وکړ- او بیا ډیلي ته روان شهٔ هغه ئې واخست- په بله ورځ خلقو په دروغه دَ ده دَ مرګ ګډه کړه- او دا دَ ډیلي خلقو دَ ده دَ سپاهیانو مړهٔ کولو دپاره یوه بهانه جوړه کړه- دَ دې هلې ګلې دفع کولو دپاره نادر دَ ښهر خلقو ته څان وښیهٔ چه زهٔ مړ نهٔ یم- لیکن بیا هم پر باندِ حملې کیدې- تر دې وخت پورې دَ ده په زړهٔ کښې دَ بدل اخستو څه خیال نهٔ وهٔ ولې اوس په قهر شهٔ او دَ عام قتل حکم ئې ورکړ- اتهٔ ګینټې په ښهر کښې دَ وینو لښتې بهیدل- په ډیلي کښې ۵۸ ورځې اوسیدو نه پس بیشمیرَ دولت او خزانې او هغه "تخت طاؤس" چه په ټوله دنیا کښې مشهور وهٔ نادر څان سره واخست- او دَ خراسان په نیت اباسیند ته راورسید- دَ دې بې څرتَ دولت ګنګوسې دَ غرسه قامونو په غوږ ولګید- او دَ هغو ورته خولهٔ اوبهٔ اوبهٔ شوَه- دلته اباسیند کښې اټک سره نزدې چله راغله چه په دې دَ ده په وړاندِ تلو کښې ډیل وشهٔ- او هلته هغه قامونه یو ځای ته راغونډ شول- نادر دا فکر وکړ چه دوئ سره صلح یکار ده څکه چه په جنګ کښې دَ دولت تالا کیدو ویره ده- ټولو سردارانو ته ئې لس لکه روپئ بلهې ورکړې او دا سوال ځواب ئې ورولیږهٔ

چه مونږ ته په اباسيند باندې په روغه صلاح لار راکړي. له پېښور نه نادر په کابل باندې قندهار ته ورسيد. هغه بيا په سنده، بخارا او خوارزم باندې د بادشاهۍ حق قايم کړ او مشهد ئې د ګدۍ ځای کړ. هم هلته اوسېده.

د ده د ژوند نوره زمانه له غمونو او کړاوونو نه ډکه ده. چه دی د لګيانو په مقابله کښې نامراد شه نو خپل زوی رضاقلي باندې بدګمان شه او ځکه ئې د هغه سترګي وښکلې. بيا ئې په ايشيا کوچک کښې په ترکو چغه ووهله او درې کاله پورې جنګ وشه آخر ارزوان ته نږدې ورته ځای فتح ورکړه. اوس هر کال دی ډير بې رحم او شکي کېده. نتيجه ئې دا راوختله چه يو ځل ئې د خپل فوځ د ټولو ايرانيانو د قتل کولو نيت وکړ. چه دا خبره معلومه شوه نو د ايران ټولو اميرانو په جون سنه ۱۷۴۷ کښې دی په ډيري بې رحمۍ سره مړ کړ.

د نادرشاه په مرګ د پښتنو د لاس ښيو خوځولو وخت راغئ. کوم وخت چه دي ګڼلي وي افغانستان واخست او د پښتنو خاص فوځ ئې جوړ وه. نو د سدوزو قام سردار احمدخان نوم چه لا د څوارلسو کالو هلک وه راوُئې غوښت. او د مازندران علاقه ئې ورته په حواله کړه. احمدخان ترهغې په دې صوبه کښې وه چه نادر له هندوستان نه واپس راغئ. نو په بادشاهي خيمه کښې ئې راوغوښت او د پښتنو د هغه فوځ کمان ئې ورکړ. ليکن کُل اختيار ئې ور نه کړ لاکن چه دا ټول څوانان د ده د خپل قام وُو نو ځکه دي د هغو

په طبیعتونو کښې ورننوت. احمد خان په جنګ کښې زړه ور، په نیت
مضبوط، او په لوظ پوره وه. ځکه ټولو سپاهیانو ورباندې اعتبار وکړ
او د هغه سرداري يې ومنله. دې نه علاوه نادرشاه څخه هم د ده
لوی عزت وه. د زړه خبره منلو په وجه د بادشاه پر باندې ډېر اعتبار
او مینه وه او هر یو ګران خدمت به يې احمد خان ته سپاره او
ده به هم هغه کار ښه سر ته رساوه. د نادرشاه مزاج اګرکه د خپل
عمر په وروستنو پنځو کالو کښې شکي شوی وه او زړه يې ځنګلي
شوی وه بیا هم د احمد خان طبیعت تر ګرځېدلی نه وه. ځکه چه د
ایران امیرانو نادرشاه مړ کړ نو احمد خان ورسي دا نیت وکړ چه د
ده بدل واخلي. ده د خپل قام ټول سړي راجمع کړل او د ازبکیانو
په اثر چه د ده مدد ته تیار وو بې دریغ يې د دښمن په کمپو حمله
وکړه. مګر چه دا يې ولیدل چه ایراني فوځ مصلحت کړي دي او دې
بې شمېره فوځ سره جنګېدل بې فایدې دي نو خپل فوځ يې واپس کړ
او قندهار ته روان شه. د پښتنو د فوځ ټول سرداران او خپل
ملګري ورسره وو. وائي چه مشهد ته د تلو نه ورسي احمد خان
کوه نور تر لاس کړی وه. تر دې وخت د پښتنو د خاص فوځ کماندان
د علیزو د نور محمد خان په لاس کښې وه لیکن د نادرشاه په مرګ
او بیا د پښتنو قندهار ته واپس راتلو باندې نه صرف د فوځ بلکه د
ټول پښتون قام حال بدل شوی وه او اوس هغوی د یو غیر
او بېګانه بادشاه تنخواه خواره نه وو. اګرکه نادر په خپل عقل دوی نه
یو فوځ جوړ کړی وه او د دوی په څوانمردۍ مراد ته رسېدلی

وهٔ - لیکن څه وخت چه دَ هغهٔ لاس تر لري شهٔ نو دَ دوئ ټولي تار په تار شهٔ - اګرکه ابدالي او غلزي قامونه په دي خبره خوشحال وُو چه دَ خپل ګټند وئ مالک مقرر کړي نایب حکم ومني او خپل ځان دَ هغهٔ په خاصو کښې وشمیري - لیکن دَ اصلي مالک له مرګ پس دَ حکم منلو څه غټه وجه نهٔ ښکاریدَه - دَ آزادئ نه پس ورته دَ علیزو دَ سردار تابعداري ناکاره ښکاره شوَه - او هرکله چه قندَهار ته دَ تلو نه پس دا خاص فوځ یو "قومي فوځ" جوړ شهٔ نو ټولو سردارانو ورښي دا کار وکړ چه دَ نور محمد خان نه ئ کمان واخست - څه مُده پس ابدالي، غلزي، بلوڅي، هزاره او قزلباش قامونو په اتفاق سره دا مصلحت وکړ چه دَ قومي آزادئ حاصلولو دپاره څه چل پکار دَي ؟ ټولو په اتفاق سره دا خبره خوښه کړه چه هر رنګ چه وي دَ ایران تعلق دِ غوځ کړَي شي او له خپل قام نه دِ یو بادشاه مقرر کړَي شي - چه په ملکي او فوځي معاملو کښې برابر اتفاق لري ټولو دا خیال وکړ چه دَ سردارانو په ټولي کښې یو بادشاه خوښول پکار دي او دا اسان کار نهٔ دَي - وائي چه پله پسي اتهٔ جرګې وشوي او په هره جرګه کښې دَ هر یو سردار حق پیش شهٔ او بحث پرې وشهٔ او په ځان دَ احمد خان دَ حق چا نوم هم وانهٔ خست - په نهمه جلسه کښې دَ محمد زو دَ حاجي جمال خان په حق کښې ډیري راي وي لیکن لږي راي ډیري زورَوري وي - نو ځکه دَ نهمي فیصلی نه هم څه نتیجه وُنهٔ ختَه یو پاک سړي چه په دي ټولو جلسو کښې موجود وهٔ دَ احمد خان شرافت او چپ والَي ئ په نظر اخستَي وهٔ - هغهٔ ټولو سردارانو ته وُوِ چه

جرګه ماته کړيَ-دَ دي خوشو بجثونو نه څه نتیجه نهٔ خیژي-خداي احمد خان په تاسو کښں له هر سړي نه زیات پیدا کړي دَي-او په ټولو پښتنو قامونو کښں له هر چا نه زیات اشراف دَي- هم دَ دهٔ بادشاهي ومنئ-که نهٔ وِي نو دَ خداي په عذاب به ګکړ شئ-او بیا يُ له یو نږدي بېټي نه دَ اوربشو دَ خوشو یو څو بوټي راوُوستل او دَ سهري په شان يُ دَ احمد خان په سَر کیښول-نو حاجي جمال خان خپلي ټولي دعوي دَ دي خلګو سردار په خاطر پرېښوي-او دَي په اتفاق بادشاه ومنلَي شهٔ

په اکتوبر ١٨٤٧ع کښں احمد خان په قندهار کښں دَ پښتنو بادشاه شهٔ-دا وخت دَ هغهٔ عمر ٢٣ کالَ وهٔ-دَ تاج په سَرولو په زمانه کښں پرِ زیري وشهٔ-چه یوه بدرګه قندهار ته نږدي رارسیدلي دَه چه ورسره دَ شلو لکو اشرفو مال دَي-او دا هغه قلنګ دَي چه نادرشاه په پنجاب او سنده بانږ مقرر کړي وهٔ-اوس هغهٔ ته خپي-په داسي وخت کښں دَدي نه زیات بل دَ خوشحالئ خبر به څه وِي-دَ تاج په سَرولو جلسي دپاره روپئ پکار وي او دا په لاس ورغلي-بدرګه ي ونیوه-او روپئ يُ ترِ په خپلو افسرانو او دَ فوځ په عهدهدارانو او دَ خپل حکومت په لویو افسرانو، حاکمانو، سردارانو بانډِ ووېشلي-فیّرېر وائي چه په دي سخاوت دَ هغهٔ داسي کارونه بیا مخکښں تر سره شول چه دَ هغهٔ له شانَ سره ګران وُو-

دَ تاج په سَرولو په وخت یوه بله خبره هم دَ لیکلو لایقه دَه-هغه دا دَه چه دَي هم لکه دَ مشر احمد په شان عقیده کښں نرم

وهٔ خوب کښې ورته وُ ویلې شول چه دَ بادشاهۍ دبدبه او مزه که غواړي نو خپل قومي خطاب دَ خپلو سردارانو په رضا صلاح سره بدل کړه نو هغهٔ خپل نوم سره دَ "ابدالي" په ځاي "دُراني" ولګاوهٔ. او خپل لقب يې "شاه دُرِ دوران" کیښود چه غاوړتوب او بډاېي تر ښکاریدَه او بیا به ورته "احمدشاه دُراني" ویلې شهٔ.

دَ احمدشاه سر ته دوه لویې خبري پرتي وي. یو دَ پښتنو قامونو انتظام او بندوبست او بله دَ بادشاهۍ مضبوطیا. دَ وړومبۍ خبري فیصلي دپاره خو هغهٔ ښهٔ لایق وهٔ ځکه چه پخپله پښتون وهٔ او په پښتنو کښې لوي شوی وهٔ. دماغ يې روڼ او فکر يې ښهٔ وهٔ ځکه يې په آسانه دا کار پوُره کړ او دغه دَ هغهٔ خاص صفت وهٔ هغهٔ نه دا مناسب ښکاره نهٔ شوَه چه دَ بادشاهۍ ټولي چیني یو ځاي راجمع کړي او دَ حکم واکي بالکل خپل لاس کښې واخلي هغهٔ په ډیرو قامونو دَ هغو دَ خپلو سردارانو په وسیله بادشاهي کول خوښ کړل. هغه ښهٔ پوهیدهٔ چه جنګونه دَ مسلمانانو عادت دَي او دَ دي خلقو خاص په دي صفت به ځما په جنګونو کښې ګټه وي. هغهٔ پښتانهٔ دَ "خپل مدد پخپله کول" په قاعده بانِدِ وُدرَول. دَ هغهٔ قاعدَه په لنډو الفاظو کښې داسي بیانیدَي شي. چه دَ ټولو قامونو آزادي دِ دَ هغو خپلو خپلو سردارانو دَ لاندِ قائمه وي او دَ لویو سردارانو په مصلحت دَ ټولو هرڅه اختیارونو واږي دِ دَ دهٔ په لاس کښې وي دَ جنګ په وخت کښې دِ هر یو سردار یو خاص فوځ دَ دهٔ دَ خدمت دپاره تیار کړي او دَ هغو دَ خدمت په عوض کښې

دِ څه تنخواه ورکړَي شِي. اصل کښ دا تول انتظام هغه وهٔ چه په انګريزئ کښ ورته "فيوډل سِستم" ويلَي شِي.

دَ بادشاهئ په تولو عهدو بانډِ ئ دَ خيل قام سرداران مقرر کړل. هغوئ دا عهدي دَ خپلو ځانونو دپاره ميراث وګنړلي. دَ خپل خاص سدوزئ خاندان حق هغهٔ په هرځاي کښ زيات کړ چه دَ دي تبر تول خلق برکتيان شِي او په مشرقِي ملکونو کښ دَ بادشاهانو او شهزادګانو مصلحتيان او وزيران شِي. له تولو خبرو نه ئ هر کار کښ دَ قومِي مُهر تاپه لګول زيات کړل. هغهٔ دَ پښتنو بادشاهِي اَرتول او پښتُون قام جوړول او دَ هغه قام په مغزو کښ خاص خاص خيالونه کښينول په ځان فرض کړل. تولو قامونو سره په هره معامله کښ هغهٔ هم دَ دي خبري کوشش وکړ او هم دَ دي لري نظر نګيډو په وَجه مراد ته ورسيد.

احمدشاه له اولَ راسي هم په دي چل چليدهٔ چه چري به ئ په څه خبره پښتانهٔ راضِي کول نو ورسِّي به ئ دَ هغو دَ سردارانو طبيعت معلوموهٔ. او هم دَ دي مطلب دپاره هغهٔ دَ هغو نهُو سردارانو يو انجمن جوړ کړَي وهٔ چه هغوئ دَ نادرشاه په فوځ کښ دهٔ سره ډير خدمتونه کړِي وُو. بي دَ هغو له رضا نه به ئ هيڅ کار نهٔ کاوهٔ.

دَ هغهٔ خيالات ډير لوي اوچت او دَ پښتنو دَ طبيعت موافق وُو ځکه به هرچا دَ هغهٔ په خبره اَمنا کوله. او چا به تر غاړه نهٔ غړَوله. دَ حکومت دا قاعده دَ هغهٔ دَ قوت او مرادمندئ سبب وهٔ. او دا خبره ظاهره ده چه دَ دهٔ کروسِي داسي وُ نهٔ کړل نو تباه

شهٔ - دَ تخت کښيناستو نه پس هغهٔ له ټولو قامونو نه دَ يوې خبرې خواست وکړ او هغه دا وَه - "دَ خدای دپاره تنګ وکړئ او يو موټي شئ"۔

کابل او غزنى تر اوسه ايرانيانو سره وُو - اوس دهٔ دا دواړه صوبې خپلې علاقې سره يوځاى کولې چه ډيرې مُدې راسې تر جُدا شوې وې - په دې زمانه کښې دَ کابل صوبه دار هغه ناظرخان وهٔ چه دَ مغل بادشاه له طرف نه ئې دَ نادرشاه دَ حملې په وخت په دې صوبه خپله قبضه قايمه کړې وَه او بيا په پېښور جنګيدلې وهٔ او شکست ئې خوړلې وهٔ - ليکن نادرشاه دَ هغهٔ ګناه معاف کړه او بيا ئې پخپله په نوکرئ ولګاوهٔ - او چه نادرشاه مړ شهٔ نو په هغه وخت کښې دې دَ کابل صوبه دار وهٔ او غزنى او پېښور ورسره وُو - چه احمد شاه ناظرخان دَ خپل حکم منلو دپاره راوغوښت نو هغهٔ دَ مغل بادشاه دَ حکومت اشتهار ورکړ -

هرکله چه دَ بوډا بادشاه محمد شاه دَ کُمک نه ئې طمع قطع شوه نو دهٔ په هزاره او ايمک قامونو کښې دَ رنګروټانو بهرتي راواخسته ليکن دَ خپل قام جوش په دوئي کښې ډير وهٔ ځکه هغوئ دَ خپل قام بادشاه سره وُ نهٔ جنګيدل - په دې کښې احمد شاه وړاندِ لاړ او چه ورنږدې شهٔ نو دَ غزنى حاکم وتښتيد قلا بې جګړې په لاس ورغله دَ کابل اخستو کښې هم ډير نقصان وُ نهٔ شهٔ - ناظرخان دَ لږې غونډِ مقابلې نه پس ورته ستو شهٔ او دَ پېښور دَ علاقې دَ غرونو قامونو دَې ډير تنګ کړ - احمد شاه هم ورپسې ښه ئې دُوهلې ځکه دَي لسه

هغه ځاي نه هم وتښتید. احمدشاه په اباسیند پوریوت لاهور ئي
واخست خو دَ جنګ دار رانهٔ غئ. اوس دَ ډیلي بادشاه هم وینښ شهٔ
او دَ نادر په وخت کښ ئي چه دَ ډیلي قلابندِي په خپلو سترګو
لیدلي وَه په وچو مغزو کښ ئي دغه هیبتناکه تماشه بیا ګرزیدَه
هغهٔ تکړه فوځ دَ خپل زوي احمدشاه په کمان کښ دَ ستلج
ګودرونو نیوَ دپاره راولیږهٔ لیکن دُراني احمدشاه دي بوتکي شهزادهٔ
ته عجیبه تیر ورکړ. چه شهزاده دَ ګودرونو په سنبالې بانډ نګیا وهٔ نو
دُرانيَ بادشاه نور هم په پورته لار او په کِښتو بانډ په سیند پوریوت
او سرهند ته ورسید. دَ دښمن ټول اسباب چه هلته پروت وهٔ
وايُ خست. دَ احمدشاه تش دولس زرَ ځوانان وُو. دَ مغلو فوځ
ډیر زیات وهٔ او ښهٔ په موقعه پروت وهٔ. ځکه هغو جنګ کول
مناسب وُ نهٔ ګڼړل. کوم شهزاده چه دَ هغو جرنیل وهٔ او کوم
وزیر چه دَ شهزاده استاد وهٔ دَ هغو دواړو په خیال کښ دا خبره
راغله چه له ستلج نه واپس شِي او ځلور واړه طرف نه رااڼاوُ شِي
په پښتنو راغونډه شِي. لیکن چه څه وخت رانږدي شول نو دَ
پښتنو په هر زړګ کښ دَ بهادرئ وِینه ګرزیدَه او رو رو ئي
کوچ وکړ آخر ئي یو ځاي کښ مقام وکړ. دَ جنګ دَرَ ډوز سرهِ دَ
دښمن زړهٔ کښ ګیدړ ګښیناست. چه داحال ئي ولید نو احمدشاه په هغو
حمله وکړهِ. په دي جنګ کښ دَ وَرو وَرو جګړو یوه سلسله به
شروع شوي وِي. ځکه چه دا لس ورځي پوري وهٔ. اول اول دَ
احمدشاه زړهٔ کښ دَ ګټي طمعَ وَه لیکن زر ورته معلومه شوَه

چه دَ مغلو سپاهیان په سبب دَ خپل سردار او وزیر په جنګ کښې
تکره دِي نو په یوه موقعه کښې ئي وزیر په ګولَئ وویشت دَ هغهٔ
زوي میرَنانو چه جرنیل وهٔ فوځ ئي په داسي لیاقت مونډک کړ چه
په لسهه ورځ احمدشاه په ناچارئ واپس شهٔ او په میدان کښې
ئي شکست وخوړ تیښته ورته نیمه توُره ښکاره شوه او بیا ئي دَ
حملي همت وُ نهٔ کړ. لیکن لږه مُده پس ئي بیا کوشش وکړ او هم
دغه کال دَ اپریل میاشت کښې محمدشاه مړ شهٔ. اګرکه دَ هغهٔ په
مرګ ملک کښې څه شور پیدا نهٔ شهٔ خو دُراني احمدشاه ته دَ حملي
ښهٔ وخت لاس ته ورغئ. له اباسیند نه واپس شهٔ لاهور ته ورسید
لاهور دَ هغه میرَنانو په حکومت کښې وهٔ چه دهٔ ته ئي په سرهند کښې
شکست ورکړي وهٔ. میرَنانو به هرُومرُو دَ دهٔ مقابله کړي وَه که له
ډیلي نه دَ مدد رارسیدو څه قوي امید ئي وَي. لیکن دَ نوِي بادشاه
په کښیناستو دَ عمونو تنبرَئ نوره هم لري شوه. په تکو ښورو
خزانه خالِي شوي وَه دَ ډیلي دلبار په روغه کولو باندِ شکر وُویست
په روغه کښې پنجاب دَ پښتون بادشاه په بادشاهئ کښې شامل شهٔ
احمدشاه میرَنانو دَ پیښور په حکومت باندِ خپل نایب کړ. بیا ئي دَ
صوبي دَ سرحدِي ښهرونو ملاحظه وکړه او معاملي ئي درستي کړي
دَ کال په آخر آخر کښې قندهار ته ورسید. دي په ملکونو اخستو
باندِ لا موړ شوَي نهٔ وهٔ. هرات دَ ابدالیانو وطن وهٔ او کوم وطن
چه ابدالِي بادشاه له لاسَ تلَي وهٔ هغه دُراني بادشاه بیا واپس اخستهٔ
څکه ئي په سپرلِي کښې دَ لام ترلو په نیت تیارَي راواخست لیکن دَ

دي تیارِي پوُرهِ کیدو نه ورسېږي هغه دَ خپل قتل دَ یو مصلحت نه خبر شهٔ دَ دي مصلحتیانو سر نورمحمد علیزَي وهٔ چه دَ نادرشاه دَ جنگونو په وخت کښ دَ پښتنو دَ خاص فوځ کمانیر وهٔ او بیس دَ هغهٔ له مرګَ دَ دي عهدي ته وسیتلیَ شوَي وهٔ -دَ دهٔ دا زرهٔ وهٔ چه په څه حکمت زهٔ خپل پخواني عزت ته بیا ورسم. ځکه چه چا حکومت کړَي وِي هغه هر وخت هم دغه فکرونه کوِي -دَ همایون دَ بدنصیب درور کامران په شان نورمحمد هم دَ حکومت او دَ قدرت دَ ټولو وسیلو نه سترګي پټي کړي-سازش يُ وکړ- لیکن دَ هغهٔ حال معلوم شهٔ -په دي زمانه کښ دَ داسي لوِي ګناه په افغانستان کښ هم یوه سزا دَه ځکه نورمحمد او دَ هغهٔ ملګرو په ناچارَيُ تیرهِ کړهِ -دا سردار او کوم کوم سرداران چه دهٔ سرهِ ملګرِي وُو او شریک شوُ قامونو کښ دَ هر یو قام لس لس کسَ سرِي دَ جلاد په لاس وُ وژلِي شول له ګناهګارو قامونو نه لس لس کسَ رایستل دَ سزا په قانون کښ یو عجیبه فکر زغلول وُو او دَ دي رواج په هغه زمانه کښ ډیر زیات وهٔ - په سپرلِي کښ ټول فوځونه تیار شول- احمد شاه پنځه ولیشت زرَ خوانان حشان سرهِ واخستل او په هرات وَروخوت- دَ ١٤ ورځو محاصري نه پس هرات فتح شهٔ او دَ پښتنو په بادشاهيُ کښ شامل شهٔ - بیا دُراني وړاندِ شهٔ په مشهد يُ قبضه وکرهِ -دَ نادرشاه نمسيَ دلته حاکم وهٔ -احمد شاه ورته مشهد پرېښود او بیا په نیشاپور وَروخوت- نیشاپور دَ ښهر دروازي بندي کړي او دَي يُ دننه پري نهٔ ښود- دَي ترِ چاپیرهِ پرېوت او اګرکه ژمَي شروع شوَي وهٔ

او داوري پریوَتي څو دهٔ قلابندِي پرِي نهٔ ښوَه.

آخر دهٔ دَ حملي کوشش وکړ څو ورستو شهٔ. دَي په خپله زورَورتيا ولاړ وهٔ تر هغي چه دَ خراسان خانان ورته دَ مدد دپاره راورسيدل. قلابنديان دَ دوئ په راتلو تنګ شول او له بدي ورځي له قلا نه راوُوتل حمله ئي وکړه څو بي له تښتيدو نه ئي بل رَو نهٔ وهٔ.

په سنه ۱۷۵۲ع کښي کشمير هم دَ احمد شاه په بادشاهئ کښي شامل شهٔ. اوس دَ دهٔ بادشاهي لکه چه دهٔ غوښته لويه شوَه. مخکښي څلور کالَ ښهٔ په آرام تير شول. يو بغاوت غونډِ شوَي وهٔ څو زر دفعَ شهٔ او څه ډير ورانئ دَ بادشاهئ په انتظام کښي رانهٔغئ ليکن په سنه ۱۷۵۶ع کښي يوه واقعه په پنجاب کښي پيښه شوَه چه له هغي نه ثابته شوَه چه دَ مغلو بادشاه سره لوي سازشونه کيږِي. ميرمانو چه دَ احمد شاه له لاسَ په پنجاب حاکم وهٔ هم په دغه کال مړ شهٔ. په هغه رواج چه احمد شاه په افغانستان کښي جارِي کړي وهٔ دَ دي صوبي حکومت ئي هم دَ ميرمانو ماشوم دَ ټي زوي ته ورکړ او انتظام ئي دَ هغهٔ دَ مور په ذمه کړ. دَ ډيلي بادشاه دا موقعه خطا نهٔ کړه او فوځ ئي راوليږهٔ په لاهور ئي قبضه وکړه او يو مشهور چالاک او چلولِي سړي آدينه بيګ نوم ئي هلته حاکم کړ. احمد شاه دَ دي بي لوظئ دا سزا ورکړه چه اول په لاهور وَروخوت آدينه بيګ ئي وزغلاوهٔ او بيا ډيلي ته دَ حملي په نيت وَرروان شهٔ. دَ بدو رِشوتونو او بي ايمانو په وجه دَ اکبر دَ هغي زورَوري بادشاهئ تش نوم پاتي شوَي وهٔ. ټول اميران بي شرمَ، کم همتَ او بي سرو ډُو. چه احمد شاه ډيلي ته شل ميلَ نژدي شهٔ.

نو دَ ډیلي وزیر دَ روغې او دَ سر دَ امن دپاره ورته مخې له راغې او دَ
سفارش دپاره يې دَ میړنانو کنډه ښځه راوسته. لیکن احمدشاه دَ دي ملک
په ځاي روپیۍ وغوښتي لو څومره حرڅونه يې چه شوي وُو دَ هغـو
ستـا وان يې وغوښت او چه دا يې ورنهٔ کړ نو مخکښ شهٔ په سنه ۱۵۵٤
کښ يې ډیلي واخست او س دَ مغلو بادشاهۍ ته دَ یو غرځه دښمن له
لاس تکلیف ورسید۔

دَ احمدشاه نیت وهٔ چه په ښهر کښ څه عبث زور زیاتي وُنهٔ
کړي لیکن هغه سرتیز سپاهیانو چه دَ جنګ په میدان کښ يې دَ دهٔ
اشارت منهٔ غلي غونډ دَ دهٔ له مخې نه په ډډه شول او دَ ښهر پـه
بازارونو او کوڅو کښ ښوارهٔ شول۔ دَ دوۍ له لاس دَ ډیلي خلقو ته
هم هغه درد ورسید کوم چه دَ نادرشاه له لاس ور رسیدلي وهٔ۔ کوم
خلق چه دَ سنه ۱۷۳۹ع له قتل نه پاتي شوي وُو هغوۍ اتلس کال پس
له هغي نه زیاته تماشه ولیده۔ دَ رعیت په دي غم او بلا ورځ دَ احمدشاه
جشن او خوشحالۍ کښ څه فرق رانهٔ غۍ۔ او دَ مغلو په تبر کښ يې خپل
زوي تیمور ته وادهٔ وکړ۔ دَ تیمور ناوي ته په مهر کښ دَ پنجاب او دَ
سنده صوبي ورکړي شوي چه دَ بادشاهۍ لوېي ډکري وي۔ احمدشاه
یواځي ډیلي ته نقصان وُنهٔ رساوهٔ بلکه دَ بالمکړه په قلا ورو خوت۔
وایۍ خسته او څه فوځ چه په کښ وهٔ ټول يې قتل کړ۔ دَ پښتنو یو
فوځ دَ حاجي جهان خان په کمان کښ تګي شهٔ دَ متهرا ښهر يې ناڅاپه
ګیر کړ او خلق يې قتل کړل۔ یا يې وینځي مریونه کړل ځان سره يې
بوتلل۔ او هم دا فوځ چه لا يې لاسونه په وینو سرهٔ وُو اګري ته

ورسيل ليکن د دوئ د دي شندو خبر ورښي هلته رسيدلي وهٔ او کوم جتهان چه د قلا په انتظام باندې مقرر وُو هغو ورته سخت نقصان ورساوهٔ او باهر ته ئي وُويستل - دا وخت ډېره سخته کړې وه چه پښتو سپاهيانو نهٔ شوه زغلي نو احمد شاه د واپس تلو نيت وکړ او قندهار ته روان شهٔ د ميرزانو درور ئي د هندوستان په ملکونو حاکم مقرر کړ او د اباسين نور پريوانهٔ ته ئي چه کوم نوي ځايونه اختي وُو هغه ئي خپل زوي تيمور ته حواله کړل او د هغهٔ مددګار ئي حاجي جهان خان مقرر کړ - احمد شاه به لا په اباسين نهٔ وهٔ پوريوتي چه کوم ځامونه چه په هندوستان کښ دا وخت موجود وُو هغو چه د مغلو بادشاهي کمزوري وليده نو جګړي مکړي ئي راواختي - مرهټيانو په مشرق کښ او د سکهانو يوي نوي فرقي په پنجاب کښ يو نوې فساد پيدا کړ - مونږ د دي ګنړو فرقو حال به تش هغومره ليکو څومره چه د احمد شاه معاملو سره تعلق لري ځکه چه نور حالونه ځمونږ له تاريخ نه باهر دي - تش دومره کافي دي چه د دُراني بادشاه قندهار ته د رسيدو نه يوه مياشت پس مرهټيانو په لاهور قبضه وکړه او پښتانهٔ ئي له اباسين پوريوتو ته ناچاره کړل - د تيمور له لاس د خپلي بښتي د ټهر يوه حصه ووته - احمد شاه د دي سپکاوي بدل اخستو دپاره تياري کاوهٔ چه په بلوچستان کښ بغاوت جوړ شهٔ - هغه وخت د دي صوبي سردار ناصرخان وهٔ چه ډير هنرمند سپاهي او سردار وهٔ - د ډيرو لايقو خلقو په شان حرصناک او همتناک وهٔ - په قندهار کښ د احمد شاه د چونړ کيدو په وخت ناصرخان د

بلوچو دَ پري سردار وهٔ په دغه موقعه کښې دهٔ خپله پوره رضا ښکاره کړي وه او بيا په جنګ کښې دَ بادشاه سره وهٔ.دَ هندوستان په دري وارو حملو کښې تر چري جُدا شوي نهٔ وهٔ او دَ وفادارئ او دَ نمک حلالئ حق ئ ښهٔ ادا کړي وهٔ معلوميږي چه دي ټولو موقعو کښې هغهٔ خپل داؤ ته کتل.

څکه چه دا معتبره خبره دَه چه څه وخت دا خبر په افغانستان کښې وکرزيد چه مرهټيانو پنجاب واخست نو ناصرخان دَ احمدشاه له وفادارئ نه مخ وګرزاوهٔ او دَ خپلي خوداختيارئ دنهوره ئ وغږوله دَ پښتون بادشاه خو دړښتي دا نيت نهٔ وهٔ چه داسي سړي بانړ منوخ واچوي چه دهٔ خپل دوست او وفادار سپاهي ګڼړهٔ - دهٔ ورښتي ورته دَ وفادارئ نصيحت دير وکړ خو دَ دي نه څه نتيجه وُ نهٔ خته.هم هغه دَ هوښيارانو خبره رښتيا شوه چه "له دَ وسله کړي فوځ يو جرنيل چري برند شي او ضد ونيسي نو په نصيحت او خوشامندو هغه لا په سرخيژي او ځان تر ورک شي". ناصرخان هم دَ خپل بادشاه وزير شاه وليخان نه چه سره دَ فوځ ئ نصيحت دپاره راليږلي وهٔ برند شهٔ- او په خپل دَ کلئ ځاي قلات کښې ئ دَ مقابلي نيت وکړ.

دواړه فوځونه مستونګ ته نزدي په يو کلي بانړ چه له قلات نه ۶۹ ميل قطب ته دي مخامخ شول.جنګ ښهٔ بوښت وشهٔ ليکن آخر پښتنو ماتي وکړه او تار په تار له ميدان نه وزغليدل ديرش ميل لري ئ ساه واخسته.ناصرخان ورپسي لاړ نهٔ شهٔ بلکه مستونګ کښې ئ تنبوان لک کړل چه هلته دَ لارو ساتني دپاره ژور لښتي او خوړونه وُو.په دي کښې

احمدشاه دَ خپل وزیر په ماتې باندِ خبر شهٔ - په دې خیال چه په دې ماتې
به رانه دَ ټولو قامونو عقیده وخوځي یو زورَور فوځ ئې راواخست په
مټونک راوخوت په کندو او دَلو لښتو او لوړو ژورو باندِ هوار
لاړ او په ناصرخان ئې دَ هغهٔ په اُردو کښې حمله وکړه. ناصرخان ماتې
وکړه او وتښتید. احمدشاه ورپسې تر قلات لاړ او هلته ئې دَ ښهر قلابندي
وکړه - دَ پښتنو چه افسر لایق وِي نو دوئ په میدان کښې ښهٔ جنګ کوِي
لیکن دَ قلابندئ په وخت داسې نهٔ وِي - دې کښې دَ سوَرو او دَ پیادهٔ
څه خبره نهٔ دَه - په دې موقعه هم دغه سې وشول - ډیرو کولو چلولو نه پس
دَ قلا دیوال ئې یو څو ځایَ کنډَو کړ او بیا په پسې پنځهٔ ځله حمله وشوه او
هر ځل راوابس شه - دَ دې وجه دا بیانیږي چه دَ احمدشاه دَ لاندِ کوم
سرداران چه وُو هغوئ په دې کته خوښ نهٔ وُو - ځکه چه هغوئ به
بلوچستان ته یاغي ګڼه وایهٔ او کوم یو سردار چه به توره دار کیدهٔ نو
دلته به راتښتیدهٔ ځکه دَ چا دا نهٔ وَه خوښه چه دَ بادشاه دَ حکم دَ لاندِ دِ
شِي - لیکن ګمان دا دَي چه دَ ځنې سردارانو دا خیال نهٔ وهٔ خو په اصل
کښې دَ قلا انتظام ډیر مضبوط وهٔ او ځوکئ دَ لایقو سردارانو په لاس کښې
وې - احمدشاه ته چه به څومره له هندوستان نه دَ مرهټو خبرونه راتلل
نو همره به ئې دا فکر زیاتیدهٔ چه که ناصرخان په څه شان روغه وکړِي -
لیکن دَ قلات په قلابندئ ډیره مُده تیره شوَه او فتح وُ نهٔ شوَه - چه
پنځم ځل هم دَي نامرادَ وابس شهٔ او بالکل نااميدَ شهٔ او هلته
ناصرخان هم په قلا کښې دننه دَ خوداختیارئ مزه واخسته او په
دې تیډ کښې تنګ شهٔ نو هله له دواړو ډډو نه دَ روغې شرطونه

تجویز شول. او دوارهٔ پر راضي شول. په دي شرطونو کښ ناصرخان
دَ احمدشاه بادشاهي ومنله او له خپلي بادشاهۍ نه باهر که احمدشاه ته
څوک راوچت شهٔ نو ناصرخان به ورته خاص فوځ تیاروي لیکن که
ملک کښ دننه جګړې وي نو دَ بادشاه هیڅ حق نشته چه فوځ به
غواړي او دَ بلوچو دا سردار له قلنګ نه معاف شهٔ. دَ دي شرطونو مخولو
دپارهٔ احمدشاه دَ هغهٔ وریرهٔ وادهٔ کړهٔ. دا ضروري خبرهٔ ئې چه خلاصه
کړهٔ نو احمدشاه هندوستان ته مخه کړهٔ. دَ قلات دَ قلابندۍ په ورځو
کښ لږ غوندې فوځ دَ نورالدین لاندې دهٔ دي دپارهٔ لیږلې وهٔ چه دښمن
یوځاي کښ رامنع کړي. دا سردار چه په اباسیند پوریوت نو بي جنګ
بي جګړي دَ چناب غاړي پوري ورسید. دَ مرهټو دَ فوځ قلب په ډیلي
پروت وهٔ. نورالدین په دي لږ فوځ وړاندې تلل مناسب وُ نهٔ ګڼړل.
بلکه په وزیرآباد کښ دَ خپل بادشاه حکم ته انتظار شهٔ. لیکن لکه څنګه ئې
چه طمع وَه هغسي زر حکمونه رانهٔ غلل. دَ بلوچستان په خبرهٔ بادشاه
دیر انتظار شهٔ او له دي فیصلي کیدو نه پس آخر له قندهار نه رااروان
شهٔ او په بولان باندې له اباسیند نه پاس پیښور ته ورسید او په
اتک پوریوت او نورالدین سرهٔ وزیرآباد کښ یوځاي شهٔ او بیا دَ پنجاب
په قطب دده وړاندې شهٔ سهارنپور ته نزدي جمنا نه کوز شهٔ هلته ودرید
او دلته ئې دَ روهیلو سرداران دَ خپل مطلب دپارهٔ دَ ځان سرهٔ کړل
او دَ سهارنپور نه ئې ډیلي ته مخه کړهٔ. احمدشاه دَ مرهټو دَ فوځ
ورنبنۍ دستي ته دَ داتاجي سندهیا په ماتحتۍ کښ شکست ورکړ
او بله دسته ئې دَ ملهرراو هلکر په ماتحتۍ کښ ورستو کړهٔ. هَله

ډيلي ته ورسيد او واڼې خست او بيا يې لږ غونډ فوځ هلته پرېښود
د برسات دپاره يې په انوپ ښهر کښ چونړۍ واچوله - دا ښهر د کډۍ
له ځاي نه ۳۰ ميل لري دي -

د برسات خلاصيدو پورې دي هلته وه د مرهټو يو لوي فوځ
چه په کښ اوښيا زر د قاعدي فوځ او بې شمېر بيقاعدي فوځ وه
ډيلي ته راورسيد - او واڼې خست او لوټ يې کړ او بيا يې قطب
ددي ته په کنجپوره حمله وکړه چه د ډيلي نه ٦۰ ميل لري ده - او
هلته د پښتنو يو وړوکي غونډ کارد څوکۍ کوله - د ډيلي فتح کيدو
خبر يې چه واوريد نو احمدشاه قطب ددي ته ورستو شه - او
کنجپوري ته ځن د بربادۍ په وخت خداي راوست - دا وخت يو
هنرمند جرنيل دپاره چه د يو لوي فوځ کمانډر وه د پښتنو تنکول
آسان وُو - ځکه چه احمدشاه د درياب نورپرېوانه غاړه باندې وه - ليکن
درياب ته په سبب د سيلاب کوزيدل ګران وُو او د خوراک تنکسيا وه
مرهټيان په خپل ډير فوځ باندې مغرور وُو ځکه د ځان ساتني خيال
يې پرېښود - احمدشاه د دوۍ د بې پرواۍ او د سيند د ناګمانه پريوتو
نه کار واخست - څه لږ غونډ نقصان يې وکړ مګر پورې غاړه ورسيد
او دښمن يې واپس کړ ځن پاڼي پت ته يې ورساوه - هلته مرهټيانو
د ځان ساتني دپاره خندقونه وکنستل -

احمدشاه سره د خپل فوځ او سره د هندوستاني مددګارانو چه
تول تال څلوېښتو زرو ته نژدې وُو داسي ځاي خوښ کړ چه
هلته نه يې د دښمن راسن په آسانه اخستې شه - په داسي حال کښ

دوارهٔ لوڅونه یو بل ته مخامخ درې میاشتې پراته وو او د یو بل کړهٔ ورهٔ به یې کتل - دواړهٔ د راسن له لاسه تنګ وو لیکن د مرهټو حال له پښتنو نه هم بتر وهٔ. آخر دا سختیه یې تېرهٔ نهٔ کړې شوه. په شپاړسم د جولائي ۱۷۶۱ء هغوی باهر ته راووتل او په ټول حمله کونکې باندې یې د حملې کولو همت وکړ - د پاني پت دریم جنګ په کتابونو کښې دی او چه خلق یې په کوم شوق لولي ښیشکه چه د دې لایق دی. هغه د دغه زماني د فیصلې جنګ وهٔ - که چرې په دې کښې پښتنو شکست خوړلې وی نو ټول هندوستان به له هغه وخته نه د مرهټو په لاس راغلې وهٔ. او دا کېدی شوه چه د پیرنګیانو نوی آبادی چه په بنګال او مدراس کښې لا بالکل کچه وی د دې لوټ مارو او ظالمانو له لاسه بچ شوی نهٔ وی - د پاني پت دریم جنګ د مرهټو بادشاهۍ دیرش کاله پورې ورکه کړه او د صدی په آخر کښې چه د مادهوجي سندهیا په کوشش هغو ته د خپلې بادشاهۍ څه توته بیا په لاس ورغله نو انګریزانو خپلې ښپې پواخې د دوی د دېکې زغملو دپارهٔ نهٔ وی کلکې کړې بلکه د دښمنانو د رانغښتلو بندوبست یې هم کړی وهٔ - د پاني پت د جنګ حال په څو الفاظو کښې صفا دا دی چه مرهټیانو د پښتنو په صف کښې د ورننوتو کوشش وکړ او ورننوتې وو څن تر دې پورې چه د ډیرو پښتنو سردارانو دا خیال وهٔ چه مونږ کټه نهٔ شو کولې لیکن د احمدشاه دا خیال نهٔ وهٔ او په یو داسې ځای باندې ودرېد چه له هغه ځای نه په ټول میدان باندې حکم کېدی شهٔ - احمدشاه د دښمن دا په بهادرۍ باندې راوړاندې کېدل کتل او د وړنبې صف په ماتې باندې

دَ دهٔ وار خطا نهٔ شهٔ لیکن چه پوه شهٔ چه مرهټیان ډیر راوړانډِ شول نو یو خاص فوځ ته یې دَ حملي حکم ورکړ- په داسي حال کښې چه دَ سورو یو مضبوط کارد دَ هغو بازُو رالاندِ کړي وهٔ -دَ دي جنګ دا ډیر نازک وخت وهٔ- مرهټیانو ډیر په بهادرۍ جنګ کاوهٔ -له نکونتي یې زړهٔ ټینګ کړي وَي نو فتح دَ هغو وَه څکه چه دَ هغو ښي بازُو (میمنه) مطلب نه رسیدلی وهٔ او کس بازُو (میسره) دَ دښمن سره په تول برابر وهٔ -لیکن په دي نازک وخت کښې چه دَ کمتی لمن یې رانولي وَه او دَ پښتنو حملي ته یې سینه ویستلي وَه نو دَ هغو سردار دَ وشواس راوٗ پیشوا زوي سخت ژوبل شهٔ- هرکله چه مرهټیان دَ یوي بادشاهۍ کتهلو په خیال جنګیدل نو هغو ته مناسب وُو چه په دي جنګ کښې یې هیڅ کوتاهي نهٔ وَي کړي -لیکن دَ څېل سردار په مرګ دَ هغو زړهٔ مات شهٔ هغوئ دَ هندوستان بادشاهي داسي وخت کښې پرېښوه چه بالکل په لاس ورغلي وَه -دَ پاڼي پت جنګ دَ فیصلي جنګ وهٔ په دي کښې هندوستان دَ پښتنو په ښپو پرېوت-لیکن احمدشاه پوه شهٔ چه هندوستان څنګه ملک دَي -دا هغه هندوستان دَي چه دَ دهٔ په مړو زګونو کښې هم کله کله وِینه نودیږي او دَ دهٔ علاج بغیر له توري نه په یوه بله خبره هم کیدَي شهٔ- لیکن دَ بیعلیئ او ناوُزګارتیا له وجهي نه هغهٔ دا نهٔ شهٔ کولی څکه یې یو بل داسي انتظام وکړ چه په زړهٔ کښې ورته ښهٔ ښکاریدهٔ- هغه دا وهٔ چه دا په نوم بادشاهي یې دَ مغلو بادشاه ته وسپارله او مجګیله قندهار ته واپس لاړ څو دهٔ سره هم هغه لوبه وشوَه لکه چه بادشاهانو سره کیږي-

دَ سکهانو زیاتید وکړي تام دَ څېلو ظلمونو په وجه په سنه ۱۷۶۲ کښې

دَي بیا پاني پت ته راوغوښت - دَ دهٔ په راتلو سکهان له ویري نه په غرونو کښې پټ شول - دهٔ لا دا کار سر ته نهٔ وهٔ رسولیٔ او په سرهند کښې ناست وهٔ چه په ډیره سختیا یې اخښتي وهٔ چه ناګمانه دَ قندهار دَ بغاوت خبر ورته راغیٔ - پښکال شروع شوي وهٔ - سیندونه ختلي وُو اکثر پلونه وران شوي وُو او په تندیٔ کار کول ګران وُو - احمدشاه دي ټولو خبرو ته وکتل او دَ راتلو نیت یې وکړ - دَي دَ ستلج په څنګه ډېره بهاولپور بانډې دَ ملتان په لاره ډیرهٔ اسمٰعیل خان ته او بیا په ګومل دَره غزني ته ورسید - دَ سفر په اولو ورځو کښې ګرمیٔ او آخرو ورځو کښې یخنیٔ دَ دهٔ فوځ ته ډیر تکلیف ورساوهٔ او ډیر ځوانان یې مړهٔ شول - دَ دي ځاي نه یې دَ ګندیٔ دَ ځاي حکمراني او ماتي ګډي له بیخ وُویستي او ټول شرونه فسادونه یې دفع کړل - دَ دي ټولو تکلیفونو تاثیر دَ دهٔ په ژوند بانډې ډیر ناکاره وشهٔ - طبیعت یې وران شهٔ او په مخ بانډې یې دانه راوختله چه دَ هغي په وجه ډیر کمزوري شهٔ -

په سنه ۱۷۶۴ع کښې دَ ایمک قام بغاوت دفع کولو دپاره هرات پلو ته لاړ او په سنه ۱۷۶۷ع کښې یوځل بیا دَ پاني پت له میدان نه دَ سکهانو ویستل ورپسې شول - مخي کال ته بیا له جنګونو نه ناچاره وهٔ - سره دَ دي چه دَ دهٔ زوي شهزاده تیمور دَ خپل پلار دَ زوره بلوچي دښمن ناصرخان په مدد ایرانیانو بانډې پوره فتح بیاموندلي وَه لیکن دَ احمدشاه طاقت ورځ تر ورځې کمیدهٔ او دَ سنه ۱۷۷۳ع پوري دهٔ له ښهرَ باهر ښه کښې نهٔ ښوَه -

هرکله چه هغهٔ ته معلومه شوَه چه اوس زهٔ دومره کمزوري

شوَي يم چه بادشاهي نهٔ شم کولَے او وطنونه نهٔ شم اخستَے نو ټول
سرداران يُ چه دَ حکومت په انتظام کښ ورسره شريک وو راوغوښتل
او دَ خپل زوي شهزاده تيمور دَ وفادارۍ قسم يُ ورکړ او پخپله په يوه
مانړۍ کښ خلوت نشين شهٔ چه هغهٔ په سليمان غر کښ توبه محاروف
ځغه جوړه کړي وَه او دلته هم په دغه کال ورته مرګ راغَے - په احمد شاه
کښ يوه لويه خوبي وَه هغه دا چه هغهٔ دَ پښتنو ټول قامونه مضبوط کړل
او يو قام يُ تړِ نه جوړ کړ - کومو سردارانو چه به ترِ غ وکړزاوهٔ نو په زور
به يُ سمول او يو انجمن يُ جوړ کړ چه دَ هغې ممبران دَ هر قام سرداران
وُو - هغو سره به يُ په هره معامله کښ مصلحت کاوهٔ او اکثر به يُ دَ
هغو په خبره عمل کاوهٔ او پخپله به يُ هم داسي چلونه رابستل چه دَ
ټول انجمن به خوښيدل - په سخاوت او په دوستۍ او په تکړوالي هغهٔ
دَ خپلو نوکرانو زړونه موټي کښ نيولي وُو - او کوم ځاي چه به اړي
کړي جوړ شهٔ نو دَ هغه ځاي انتظام به يُ ښهٔ کاوهٔ او دَ دي ښهٔ والي
له وجهي نه هم دَ هغې خازي لايق وهٔ کومه چه دَ دهٔ په قبر ولاړه دَه -
احمد شاهِ دُراني يو دَ دبدبي خاوند وهٔ - هغهٔ کښ داسي انصاف وهٔ
چه مزري او بزي به يو ځاي اوبهٔ څښلي - دَ دهٔ دَ فتحو په آوازونو دَ
دښمنانو غوږونه کاڼهٔ شوي وُو - دَ احمد شاه په اتو زامنو کښ دويم
زوي تيمورشاه وهٔ - په دهٔ کښ له نرۍ نه علاوه ګوزموزتوب لوي عيب
وهٔ - په خپلو ټولو زامنو کښ دَي بلار ته لايق ښکاره شهٔ او دَ خپلي ګدۍ
دپاره يُ خوښ کړ په دي ورځو کښ دهٔ په هرات خراسان او نيشاپور
باندِ حکم کاوهٔ - په اپريل کښ خبر شهٔ چه بلار م مرګ ته نږدي دَي - نو

دَ دېدن دپاره يې توبه معروف ته راروان شه. لیکن لا قندهار ته نه وه رارسېدلی چه دَ پلار حکم ورته راغئ چه خپل ځاي ته واپس ځه. تیمور له ناعلاجي ورځي دا حکم ومانه او هرات ته چه ورسېد نو خبر شه چه پلار م مړ شه او زه يې دَ خپلې ګدۍ دپاره مقرر کړم او ځما ورور سلیمان خېل ځان دَ قندهار پخپله بادشاه کړ. په سلیمان کښ دَ ورور په شان لیاقت او سره نه وُو. لیکن په دې وجه چه ده دَ لوي شاه ولي خان لور کړې وه. هغه چه دَ بلوچو سردار ناصرخان له لاس يې په سنه ۱۷۵۸ ع کښ مستونګ څخه شکست خوړلی وه. دَ دې سره له مخ او دَ انجمن دَ ممبرانو دَ مخالفت په وجه په قندهار کښ دَ ده دَ بادشاهۍ ډنډوره وغږېده لیکن دا مراد يې ډېره لږه موده نصیب شه. تیمور دَ هزاره او ایمک قامونو په مدد سمدستي په قندهار لام وتاړه. لوي وزیر دَ خپل زوم دَ مدد دپاره څه دَ فوځ راغونډولو کوشش وکړ خو ځوند يې وُ نه کړ ځکه دَ خپلو دوه وُ زامنو او دوه وُ درانو سردارانو سره چه په هغو دَ ده اعتبار وه دَ تیمور کېمپ ته راغئ. تیمور دَ دې پښېمانه شوو سردارانو په دې کار پوره شه چه دَ دوي پښیمانتیا له ښې ورځي نه ده. که زه دوي سره نرمي وکړم نو نور خلق به زانه باغي شي نو دوي ته يې صفا وُ ویل چه به ما ستاسو ښري بدي لګي او حکم يې وکړ چه دَ دوي سرونه پریکړي. په دې جبر باندِ دَ هغه مطلب پوره شه او تیمورشاه قندهار ته په آرام ننوت. او دَ پښتنو بادشاه شه. هرکله چه دَ دې ځاي رعیت دَ ده ورور سلیمان سره ېره کړي وه ځکه يې په زړه کښ دا خلق خوښ نه وه. کېرچاپېره هغه درانیان هم راوسېدل چه دَ هغو په مدد دَ ده

ورور دغه توکل کړي وهٔ ځکه ئې نيت وکړ چه دَ کډئې ځاي کابل ته بدل کړُو - په دي انتظام کښ هغهٔ ډيل وُ نهٔ کړ - دي نه پس هغهٔ دا دستور مقرر کړ چه کال کښ به اتهٔ مياشتي په کابل کښ وهٔ او څلور مياشتي پېښور کښ او دي قاعده کښ چري فرق رانهٔ غئ - چه کابل ته ورسيد نو تيمور ورپسې دَ بادشاهئ دَ مضبوطولو فکر وکړ - سره دَ دي چه پخپله هم دُرانئ وهٔ خو دَ دُرانو پر اعتبار نهٔ وهٔ - دهٔ له دُرانو نه هغه ميراني عهدي* ورکړي وي اختيئ نهٔ شوي - خو بل چل ئې دا وکړ چه نور سرداران ئې هم جوړ کړل او کارونه ئې دَ هغو په حواله کړل او خپل خاص مصلحتي ئې فيض الله خان خوېش کړ چه دَ دولت شاهي تمام سردار وهٔ - په دي سري دَ دهٔ دومره اعتبار وهٔ چه يو کار به ئې هم بي دَ دهٔ له صلاح نه نهٔ کاوهٔ -

دي سري دَ بارکزو پاينده خان صلاح کار - دلاور خان سپه سالار او دَ خراسان عبد اللطيف خان دَ محصولونو جمع کولو افسر مقرر کړ - نور محمد خان دَ حساب کتاب صدر او التفات خان خزانچي او دَ جواهرو امانت کر جوړ شهٔ - دا ټول سړي دَ تيمور دَ جرګې ممبران وُو -

دا ټول وزيران دهٔ پوه کړي وُو چه هر سړي دِ په انصاف او رحم باندِ کار کوي - بيا هم ورته دا خيال پيدا شهٔ چه دَ دي قومي سردارانو په لاس کښ ټول قوت ورکول څه دَ عقل کار نهٔ دَي - ځکه هغهٔ په دي خبرهٔ زور ولګاوهٔ چه دَ ملک په انتظام او په عامو کارونو دَ عام رعيت خلق نوکران شي - دپاره دَ دي چه دا خلق په قوم کښ برکتيان نهٔ شي نو دَ بادشاه تابعدار به وِي - دَ خان دَ حفاظت دپاره ئې دَ اسحاق زو له قام نه ځوانان مقرر کړل چه په دُرانو کښ لاندِ قام دَي او له قزلباشو

* چه يارئ

نه ئې دَ ۱۲ زرو ځوانانو یو فوځ بهرتي کړ. په دي چلونو ئې تر خپلَ وسَ دَ صوبو حکومت دَ قوي سردارانو له لاسَ وویست او دَ دي په بدل کښ ئې دَ هغو تنخواه‌کاني ډیري زیاتي کړي او دُرانیان ئې تر خپلَ وسَ دلبار کښ وسائل. او داسي انتظام ئې وکړ چه نوکر چاکر ورسره کم وي. مالیو ته ئې ډیر فکر وکړ او دَ هغو بیخ ئې مضبوط کړ او دَ خپل ځان خرڅونه ئې ډیر کم کړل.

دَ ټولو تنخواه‌کاني او ماجبُونه په وخت ورکیدَي شول. خزاني سمي راغونډیدَي شوي. نتیجه دا شوَه چه دَ خزانو دَ زیات والي څه اندازه نهٔ وَه. تیمور دَ پلار په شان دَ جنګونو شوقي نهٔ وَهٔ. او موږ هم په ډیر شوق دا خبره کورُو چه دَ هغهٔ دَ دي روغ نیتَ طبیعت اثر دَ هغهٔ په حکومت ښهٔ وشهٔ. په مشرقي ملکونو کښ دا پُوره قاعده دَه چه په خپل ملک باندِ صبر کونکيَ بادشاه ورځ تر ورځ پریوزِي. تیمورشاه دَ خپل وحشي ملک دننه بندوبست داسي ښهٔ وکړ چه ډیرو کمو بادشاهانو به داسي کړَي وِي. بیا هم په نورو ملکونو باندِ دَ دهٔ دي طبیعت ناکاره اثر واچاوهٔ اګر که په بادشاهيُ کښ څه ورانيَ رانهٔغيَ خو سرحدِي ګیرچاپیر صوبي دَ خپل بادشاه په دي خوئي پوه شوي چه دَ خوداختیارَ کیدو دا ښهٔ وخت دَي. دَ تیمور دَ زماني بغاوتونو او جنګونو ته دا خبره معلومیږي. خراسان دَ پښتنو دَ بادشاهيَ په نورَ پرپواتهٔ باندِ یوه کمتلي علاقه وَه. سنه ۱۷۴۹ نه چه احمدشاه مشهد فتح کړ او دَ نادرشاه کروَسي شاه‌رُخ ته ئې پرېښود نو بچپله دي ښهراو او دَ قطب صوبي دَ پښتون بادشاه طاعت ومنهٔ. بچپله شاه‌رُخ په

وفادارۍ کښې څرې قصور نه وه کړې. لیکن د تیمور په زمانه کښې د
ده رعیت د خپلو سردارانو په لمسون د پښتون بادشاه له تابعدارۍ نه
غاړه وغړوله. دواړه ورونو چه پله پسې د دوۍ د سمولو دپاره لیږلې
شوې وُو شر فساد دفع کړ. لیکن د هغو واپس کیدل د تازه بغاوت
سبب شه. په دریم ځل فوځ سخت جنګ وکړ او آخر تیمور خپله پښتو
تر سره کړه او له مشهد نه تر هغې واپس رانه غی څو پورې چه د
بغاوت بوۍ باقي وه. د پښتنو د بادشاهۍ یوه بله بهرنۍ صوبه د سنده
علاقه وه. دلته هم د حکم وارې زرسستي شوې او څکه سنده یاغي
شه. تیمور یو بهادر فوځ واخست پخپله لاړ او ملتان څخه نژدې ې
سکهان مات کړل او د یو څو ورځو قلابندۍ نه پس ې پرِ قبضه وکړه.

او بیا بهاولپور ته لاړ د هغه خاۍ ټول دولت ې لوټ کړ. د
دې ځاي په آسانه اخستو باندې د یاغیانو زړونه مات شول او بیا هغو
سپه وُنه نیوه. لیکن د توري او د اور له وجهي نه هر طرف ته ملک تباه
شوې وه. تیمور کابل ته واپس شه څو د ده له راړسیدو نه وروستي
بیا په سنده کښې شر پورته شه او څه دیري داسي معاملې پېښې شوې
چه د هغو په وجه ورته رابرغ نه شه. له ناچارۍ پنځه کاله پس په
سنه ۱۷۸۶ کښې هغه خپل سپه سالار دلآورخان ته لږ عوند فوځ ورکړ
او راوُ ې لیږه. لیکن دلآورخان د بادشاه په شان کته وُنه کړه. د تالپور
سردارانو سره د دیره نقصان شکارپور ددې ته دې واپس کړ. یوه اقرارنامه
وشوه چه د هغې په وجه د سنده سردارۍ یو تالپوري سردار امیر
فتح علي خان ته په دې شرط ورکړې شوه چه د تیمور بادشاهۍ به منې

او مقرر شوي قلنګ به هر کال ورکوي. خو رو رو تالپوري سردار له دي دوارو قطغنونو نه خان آزاد کړ او دري کال پس يې دا تعلق وشلاوه.

بوه سرحدي صوبه دَ افغاني ترکستان هم وه. شاه مراد دَ بخارا بادشاه چه دَ هغه علاقه دَ دي صوبي نه دَ جيحون سيند سره جدا شوي وه دَ تيمور بي سرو بادشاهي يې په نظر احتني وه او دَ تخت کښيناستو له زماني نه په دي فکر کښ وه چه دَ ګيرچاپير ضلعي په خپله شان خپل لاس کښ کړم. او چه بلخ او آقچه ياغي شول نو هله پر تيمور خبر شه او ورښيې يې په سوال جواب صلح صلاحيت وغوښت ليکن چه په دي کار و نه شه نو پولي فوځ يې دَ کندوز په طرف ورواستاوه شاه مراد دَ جنګ دَپاره په جيحون راګوز شه او آقچه سره نژدي دوارو فوځونو لاس ولګاوه. له پښتنو دا وخت په ازبکو باندي حمله کړي وي. نو خواه مخواه به يې ګټه کړي وه. ليکن څه بيفکرۍ او څه دَ مراد چالاکۍ په دي خبره کښ ډير ډيل راوست او دَ پښتنو سردارانو شه ساه دوبه شوه.

شاه مراد تول تياري وکړ او لوظ يې وکړ چه په بلخ او آقچه دَ تيمورشاه حکومت منم که دَي له جنګ لاس واخلي. آرام طلب تيمور سمدستي دا خبره ومنله ليکن بلخ او آقچه هسي په نوم دَ کابل ماتحت دُو. اصل کښ هم هغه ورځي نه خوداختيار شو.

يوي بلي صوبي کشمير هم چه دَ حکومت سستي وليدَه نو بغاوت راواخست ليکن آخر بيا تابع شوه.

سیستان دغه‌سي سترګي سپيني کړي څو چه څېړه يَ وخوړه نو
سم شهٔ - دَ غيرو ملکونو سره دَ تيمور دَ ګذاري نتيجه ښه وُ نهٔ ختله - دَ
سنده او ترکستان لوي ښهرونه دَ هغهٔ له قبضي نه بالکل وُوتل - او
خراسان او کشمير کښ دَ بغاوت رَده کيښوَي شوه - خاص دَ دهٔ دَ
ګډيَ ثاي کښ هم جګړي راپيدا شوي - ورښې دَ دهٔ يو خپل
رشته‌دار محمد مالک خان بغاوت وکړ چه په سنه ١٧٩٧ع کښ دفع شهٔ
ښتهٔ کالَ پس چه تيمور پيښور کښ وهٔ نو دا مصلحت وشهٔ چه دَي
قتل کړي شي او دَ دهٔ ورور سکندر چه دَ احمدشاه شيرېم زوي وهٔ
په تخت کښينولَ شي - دَ مصلحتيانو په مراد حاصليدو کښ څه ډيل
نهٔ وهٔ - ځکه چه دَ محل ټول څوکيداران هغوئ مړهٔ کړي وُو او تيمور
تړ نه په تيښته پورته شي چت کښ پټ شوَي وهٔ - ليکن بادشاهي دتوڅ
وسله واچوله جنګ نه ودريد او مصلحتيان يَ ټول قتل کړل - په
دي مصلحت کښ دَ مهمندو سردار ارسلاخان هم شريک وهٔ ليکن
په څه حکمت سره په تيښته خپل قام ته وُرسيد - دَ دي سړي
مرګ دَ بيانولو لايق دَي - ځکه چه له دي نه دَ پښتنو دَ بدل اخستو
حال معلوميږي - دا ملي شوي خبره دَه چه بدل اخستل دا خلق يو
ديني قانون ګڼړي - له دي قصي نه معلوميږي چه په دي قانون
کښ بي لوظتيا هم ګناه وي -

ارسلاخان دَ خپل بادشاه دَ قتل کوشش وکړ څو کار وُنهٔ
شهٔ او غرونو ته وتښتيد - دا يوه داسي خطا وَه چه تيمور هيڅري نهٔ
بخښله - ليکن ارسلاخان له بادشاهيَ نه لري وهٔ او په داسي دَرد

کښې وَهٔ چه هلته آسُونه نهٔ شُو تلې - دا وخت تیمور لوه دهوکه وچلوله په دروغه يُ دَ هغهٔ معافي ښکاره کړه - عامو او خاصو مجلسونو کښې هغهٔ دا وُوِ چه دَ ارسلاخان دَ یاغِي توب دپاره غنمه وجه وَه او دَ هغهٔ دا کار گناه نهٔ شِي شمیرلې - دغه سي خبر يُ هر خوا وګرزاوهٔ او دَ دي خبر ثبُوتو دپاره يُ هغهٔ ته قرآن شریف ورولیږهٔ او دَ قرآن شریف په پوخ باندِ يُ قسم لیکلي وهٔ چه ما ستا قصور معاف کړ - پس ارسلاخان راوغوښتې شهٔ - هغه پیښور ته راغې او خان يُ ورکړ - هم په هغه ورځ دَ بادشاه په حکم دَ هغهٔ سر پریکړي شهٔ - پښتانهٔ هم دَ داسي دښمن گناه نهٔ معاف کوِي چه دَ قرآن په دهوکه يُ مرګ کړي وِي - دَ هغو په خیال کښې دَ تیمور په ایماندارِيُ باندِ لوي داغ ولګید - تیمور په آخر عمر کښې ډیر بیرحمُ ، شکي او بدمزاجُ شوي وهٔ - هغهٔ دَ دي چل قتل دَ سازش نه پس نَبس دیارلس میاشتې ژوندَي وهٔ - چه له پیښور نه کابل ته تهٔ په لاره کښې ناجوړه شهٔ او په ۲۰ مئي ۱۷۹۳ءُ کښې کابل نه ورسید او مړ شهٔ - دَ دهٔ بادشاهي شل کالَ وَه - دهٔ ۲۳ زامن او ۱۳ لُونړه پریښي وي لیکن په ګډَيُ باندِ دَ ناستې دپاره يُ حشه بندوبست نهٔ وهٔ کړَي - مشر زوي همایون مرزا يُ په قندهار حاکم وهٔ او بل محمود مرزا په هرات - دَ دي دوارو شهزادګانو ښهٔ اتفاق وهٔ محمود دَ همایون دَ دعوهٔ منلو لوظ کړي وهٔ - باقي پوولیشت[21] زامنو کښې څلورم زوي عباس مرزا په چل خداي ورکړي طاقت کښې مشهور او دَ هر چا خوښ وهٔ - پنځم زوي زمان مرزا دَ کور په

زنانهؤ کښې اعتبار زیات کړي وُه. همایون او محمود په خپلو خپلو بادشاهو بانډِ ناست وُو او نور شهزادګان د خپل خپل حق سنبالولو دپاره کابل ته راورسیدل . که د تیمور د مرګ سره تخت انتخاب شوي دي نو دا یقین وه چه په عباس مرزا د هرچا سترګي خوږیدي . خو سردارانو دا صلاح وکړه چه دا لویه خبره به د بادشاه له ګورکفن نه پس کوُو . په دي مُده کښې د کابل د زنانهؤ رسوخ کار وکړ او یو سري پائنده خان د هغو په پره شهٔ چه بارکزو کښې له ټولو نه لوي سردار وُه . نو د ګور کفن نه پس چه جلسه وشوه په هغي کښې زمان مرزا د خپل پلار په ګدۍ کښیناست . ورپسې کار د شاه زمان د خپل تخت د مضبوطیاوه چه دي دپاره دي چوړ شوي وه . بي له وروڼو نه چه نورو ټولو خلقو د هغهٔ بادشاهي ومنله نو هغهٔ في الحال هغه ټول منکر خلق چه کابل کښې وُو قید کړل او پنځهٔ ورځي پوري ئې د سري په سر پنځهٔ ځیتاکۍ اوړه د ورځي ورکول . د دي لوږي نتیجه ښه ووته . په شپږمه ورځ ټولو شهزادګانو خپل ورور بادشاه ومانهٔ او له جیلخاني نه هسي په نوم راووتل بالاحصار ته ورسیدل او هلته ئې وربانډِ سختي څوکۍ کښینولي .

د خپل پلار په شان زمان شاه هم خپل عزیزان د سترګو د ورانډِ ساتل څکه ئې زړو وزیرانو ته پنسن ورکړ او خپل اخلاصمند او پرهٔدار ئې د هغو په ځاي مقرر کړل . دهٔ په ډیرو چلونو هغه سرداران ځان ته راواړول چه د دهٔ په ناستې ناراض وُو او چه څوک راوانهٔ وړیدل هغه ئې وُوژل . لیکن د بادشاه د سر ویره لا نهٔ وه

تلي. بېشكه چه هغهٔ په كابل كښ ټولي معاملي خلاصي كړي وي ،
ليكن دَ قندهار او دَ هرات دَ خبري صفائي لا پاتې وه چه هلته دَ هغهٔ
مشرانو وروڼو حكومت كاوهٔ. دَ هرات په ضلع كښ دَ محمود مرزا دَ
بركتي كيدو ډېره وېره وه- دَ كندې دَ څاي لاس ته راتلل او دَ يو لوي سردار
پاينده خان دَ زمان شاه په پړه كيدل دهٔ دپاره يو داسي لوي نعمت وهٔ چه
في الحال له هغې نه ئې فايدې اخستو ته زړهٔ وشهٔ- هركله چه دَ دوه دُ
دښمنانو فيصله كول ئې په ذمه وُو او چه هغوئ لا خپلو كښ يو شوي
هم نهٔ وُو نو دا نيت ئې وكړ چه دوئ ته جُدا شكست وركړم او دا ئې
مناسبه وگڼله چه زهٔ په هرات دَ محمود نه وړمبي قبضه وكړم- څكه
ناڅاپه په قندهار ورودوت- دَ همايون هم دَ دهٔ په راتلو دَ لاسو ښپو نه
ساه وختله- په ظاهر خو دَ دهٔ دا چل ول وهٔ چه دَ قلا دننه به ناست يم
او څو پوري چه م له هرات نه ورور رانهٔ شي قلا به ساتم- ليكن يا خو
دَ څوانئ په نشه كښ او يا دَ قندهاريانو په پړه داري او لسُون هغهٔ
دا چل پرېښود او په قلات غلزئ بانډې دَ زمان شاه جنگ ته ورغئ- يو
جنگ هلته وشهٔ چه همايون په كښ ماتې وكړه او له هغه ځاي نه
وتښتېد- بلوچستان ته لاړ- دا وخت دَ كابلي فوځ كمان دَ شجاع مرزا په
لاس وهٔ چه دَ زمان شاه سكه ورور وهٔ- په دې جنگ دَ قندهار دَ
قسمت فيصله وشوه- ليكن دَ محمود علاج لا پاتې وهٔ- زمان شاه هغه خوا
لښكر نېغوهٔ چه په دې كښ ورته خبر راغئ چه دَ كير چاپېره صُوبي دا
آزميښت غواړي چه دَ بادشاه مزاج څنگه دَي څكه كابل ته تلل ورته
مناسب ښكاره شُو- زمان شاه دَ خپل ورور محمود سره هسې وخت

ډیکه کولو دپاره روغه وکړه مګر حقیقت کښې پرِ اعتبار نهٔ وهٔ او کابل ته واپس راغئَ - دلته هغهٔ دَ بادشاهۍ ښکلیَ انتظام وکړ او خلقو ته ي بیان وکړ چه "ځما دَ پلار په زمانه کښې چه دَ کیرچاپیر خلق یاغي شوِي او خوداختیارَ شوِي وُو دَ هغې وجه دا وَه چه ځما دَ پلار طبیعت نرم وهٔ لیکن ځما نیت دَي چه زهٔ داسي وُ نهٔ کړم". دا په اصل کښې دَ دهٔ بي فکرِي وَه - دَ خپلي دبدبې ښکښیولو دپاره زمان شاه دا خیال و نهٔ کړ چه خلق به ځما له بادشاهۍ نه ماړهٔ شي - په دي معامله کښې دهٔ په پښتو سترګو دَ سلیمان علیه السلام دَ زوي رټویام په پل پل کیښود - دَ هغهٔ پلار رعیت ته دَ کروړي سزاګاني ورکړي وي او دهٔ په لړمانانو وُچیچل - نو دَ دهٔ آخر انجام هم هغه شهٔ چه کوم ئي دَ امام وهٔ - پس اول ئي رئیسان په مُوټې کښې راوستل - بیا ئي په کابل یوه هیبتناکه بادشاهي راواخسته - هر یو معتبر سړي باندِ چه به ئي شک کیدهٔ هغه به ي دَ نظر لاندِ ساتهٔ او څنګه موقعه چه به ئي بیا مونده هغسې سلوک به ي ورسره کاوهٔ - دهٔ دَ بارکزو لوي سردار چه چا ورته په تخت اخستو کښې مدد ورکړي وهٔ یو دم له ټولو اختیاراتو نه موقوف کړ - له هغهٔ نه دَ لاندِ دَرجي سرداران ي قید کړل او اکثرئ په قِسم قِسم عذابونو ووژل - دَ کندَئي ځاي کښې دا ظلمونه په نورو صوبو کښې دَ یاغيتوب سبب شول - پنجاب کښې شر پورته شهٔ ، کشمیر یاغي شهٔ ، سندهـ خپل ځان خلاص کړ - اُزبک له جیحون سیند نه راپوریوتل - زمان شاه په دي خیال دَ خپلو سردارانو خشنک طبیعتونه سم کړل او په دي نیت ئي فوځونه واخستل او وُوت چه په

دي چل به یاغیان هُم سم کړم- ورپسې دَ پنجاب په صوبه يُ خپل
کار شروع کړ- چه پېښور ته راورسید نو خبر شهٔ چه ځما درور
همایون دَ سنده تالپوري سردارانو په مدد قندهار واخست نو
دَي دَ هغهٔ مقابلې دپاره واپس لاړ- همایون چه دَ پښتنو بیوفائي
ولیده نو سنده ته وتښتید- لیکن له هغه ځاي نه يُ هرات
ته دَ راتلو کوشش کاوهٔ نو دَ درور سوَرو ونیو- چه زمان شاه ته
يُ پیش کړ نو هغهٔ دَ دهٔ دَ سترګو ویستو حکم وکړ- چه پښتون
بادشاه دَ پېښور له مُهم نه واپس شهٔ نو دَ هغهٔ دا نیت وهٔ چه
په بولان دره سنده ته وُرسم او تالپوري سردارانو ته پُوره
سزا ورکړم او هغه ملک بیا قبضه کښې کړم چه دَ پښتنو له لاسَ
ځما دَ پلار په آخره زمانه کښې وُتَی وهٔ- اِیله سنده نه ورننوتيَ
وهٔ چه دا خبر وَرورسید چه محمود ورور دِ دَ فوخ شاوهيِ -
یعني چه له افغانستانَ بي تعلقَ شي- نو دَ سنده سردارانو ته
يُ دَ سزا ورکولو خیال پرېښود چه هغه وخت بالکل دَ دهٔ رحم په
امید پراتهٔ وُو- په دي خبره رضا شهٔ چه درېمه برخه قلنګ وزنه
معاف کړي- او تالپوري سردار فتح علي خان يُ په حکومت بانـدِ
مستقل کړ- زر قندهار ته واپس راغيَ- محمود به دغه وخت
کښې له هرات نه قندهار ته تهٔ چه ناګمانه يُ دَ زمان شاه دَ واپس
راتلو خبر واورید- في الحال دَ سیاه بند په لَر کښې په دي نیت
یاتي شهٔ چه دَ خپل ورور دَ خوځید و راخوځید و خبر ورته
هر وخت رارسي- څه وختا يُ چه واورېدل چه زمان شاه له

قندهار ته راروان شهٔ او ما ته دري پړاوُ رانزدي شهٔ نو ميدان ته ورته راکوز شهٔ - په کورک کلي بانډِ چه غيرشيخ ته نزدي دَي دواړه فوځونه مخامخ شول - جنګ ډير زورَور وشهٔ - څه ساعت پوري خو دَ کټې ځ محمود ته وهٔ ليکن ماښام دَ هغهٔ دَ سرو زرونه مات شول او ماتي ئي وکړه - محمود اول فرّا ته او بيا هرات ته وتښتيد - مګر هغلته ورته وررور ګناه معاف کړه او په خپل ځاي بانډِ ئي بيا مقرر کړ - څه خو له دي وجهي نه چه هغهٔ په ډيري دردمندَئي سره خپل حال بيان کړي وهٔ او څه له دي وجهي نه چه ازبکو ته ئي په ترکستان بانډِ دَ حملي کولو لمسُون کړي وهٔ -

څه وخت چه زمان شاه دَ محمود سره په جنګ وهٔ نو اُزبکو دَ محمود په لمسُون په ترکستان بانډِ حمله وکړه او دَ زمان شاه خليفه ته ئي شکست ورکړ بلخ ئي تر واخست ليکن چه دَ زمان شاه دَ کټې ئي واوريدل نو خپلي کټې نه ئي لاس واخست او کومه اقرارنامه چه دَ دهٔ پلار سره شوي وَه هغه ئي نوي کړه او په جيحون سيند پوري تل - دغه وخت يا دغي نه څه مُده پس دَ کشمير بغاوت هم دفع کړي شهٔ - دَ کومو شرونو فسادونو نښي چه دَ زمان شاه دَ تخت کښيناستو په وخت معلوميدي دا وخت ورکي شوي - اګرکه سنده دَ دهٔ په قبضه کښ راغيَ ليکن دَ اباسيند په نوَرپريواته کښ دَ پنجاب ټوټه ئي له لاسَ ووته - پيښور ته څو ځلي په دي نيت راغيَ چه سکهان وباسي څکه چه اوس ډير خطرناک شوي وُو ليکن دَ څه سخت ضرورت په وجه به له ناچارَئي نه واپس لاړ - دَ دي صوبي اختلال هغه وخت دهٔ دپاره ډير ضرور وُو په سنه ۱۲۹۶ د

کښې یو غل بیا پېښور ته راورسید او په اباسین پورې وت. دَ لاهور په سړک به اتیا میلَ تلي وه چه خبر شهٔ چه دَ ایران آغامحمد شاه په خراسان حمله وکړه مشهد یې واخست. له دي وجهي نه په ناعلاجۍ کابل ته واپس لاړ. زمان شاه دَ دي سپکاوي بدل اخستو دپاره یو فوځ تیار کړ. لیکن روغه جوړه وشوه او آغامحمد خپل وطن ته واپس شهٔ. پښتون بادشاه بیا فوځ راواخست پېښور ته راغۍ او تر لاهورَ وروراندِ شهٔ. په هندوستان بانډِ دَ حملي کولو څه ډېل نهٔ وه چه دا خبر ورته راغۍ چه محمود یاغي شهٔ قندهار راالاندِ کوي نو له بري ورځي بیا راواپس شهٔ. زمان شاه چه واپس راغۍ نو دَ محمود لوي جرنیل یې دَ خان په طرف کړ او په هرات یې قبضه وکړه خپل ناسکه ورور یې ایران ته وزغلاوهٔ. اوس بادشاه دَ هندوستان دپاره چلونه راواخستل او بیا لاهور ته راورسید. لیکن چه بیا خبر شهٔ چه فتح علي شاه چه دَ ایران دَ آغامحمد شاه په ځاي ناست وه خراسان باندِ بیا حمله وکړه نو دَي په سنه ۱۷۹۹ع کښې پېښور ته واپس راغۍ بیا هرات ته لاړ. فتح علي شاه دا ځل پېرتکیانو لمسولي وهٔ. دَ هندوستان انګریزي حکومت ته معلومه شوه چه زمان شاه لکه دَ خپل نیکهٔ په شان په هندوستان باندِ دَ لام تړلو لوي تیارَي کړي دَي نو ووېرېدل او دَ دي خبري بدل یې داسي واخست چه دَ اصفهان دلبار ته یې یو سفیر ولېږهٔ او دَ قطب دَ ډېري دَ خراسان لالچ یې فتح علي شاه ته ورکړ. نو انګریزي حکومت سره ایران دوستي وکړه او په دي صوبه باندِ دَ حملي کولو په تیارۍ یې دَ پښتون بادشاه مخ له هندوستان

نه وکړ زاوه. په څه وجه دَ ایرانیانو حمله پاتې شوه او فتح علي شاه سبزوار ته رارسیدلې وه چه بیا واپس شه. لیکن په دې حکمت بانډ دَ پیرنګیانو مطلب ښه وشه، څکه چه زمان شاه واپس لاړ نو تول ژمي هلته پاتې شه. او دې لا هلته وه چه همت ناک محمود په هرات حمله وکړه دَ ده په امن کښې ي خرخ واچاوه او په ځلو چلونو ي دَ ایران ګیرچاپیر صوبو نه لس زر سرې جمع کړل. دا کبدې شوه که محمود تکړه شوې وې نو ضرور به مراد ته رسیدلې وه لیکن په دې خبره کښې پاتې شه. ځل ملګرې پر بې اعتبار شول. دَ زمان شاه مشر وزیر وفادارخان دَ دې بې اعتبارۍ نه ډیره فایده واخسته او دَ هغه خاصو مددګارانو په وسیلې دَ کیان او برجان دَ حاکمانو په زړونو کښې ي داسې شکونه واچول چه هغه قلابندې ماته کړه بخارا ته وتښتید. کیان او برجان دواړه دَ خراسان دَ ضلعو په سهیل کښې پراته دې. محمود چه وتښتید نو اول په خیوه کښې دَرپه دَر ګرزیده او بیا دَ فتح علي شاه دلبار ته لاړ څو میاشتې هلته وه او دا درخواست ي کاوه چه مدد راکړې چه زه خپل ورور له تخت کوز کړم. دَ زمان بخت هغه وخت تیوونه وهل. اګرکه پنجاب لاس ته رانه غې لیکن تول ملک ته دا خبره رښه شوې وه چه دَ جنګ ډیر بد دې. دَ ده خطرناک ورور له وطن نه خارج وه او دې په خپل زور زور توب کښې مطلب ته رسیدلې ښکاریده لیکن اصل کښې دَ بادشاهۍ بیخ خوځیدلې وه.

هر ځاي دَ یو کس په بادشاهۍ دَ حکومت لویه منشا دا دې چه

رعیت راضي پاتي شي لیکن په افغانستان عونډِ ملک کښ حو خپل ماتحت سرداران او امیران راضي کول ډیر ضروري وي. احمدشاه او تیمورشاه دَ خپلو بادشاهو رَده بالکل هم په دي قاعده ایښي وه. هغوئ دَ مصلحت دپاره دَ سردارانو یو تولي جوړ کړي وه چه بي دَ هغو له رضا نه به ئ هیڅ کار نهٔ شروع کاوهٔ. دَ سردارانو په رضا کیدو بانډِ رعیت ټپجمله رضا کیدیې. لیکن زمان شاه له اولَ نه دا قاعده ورانه کړه او سرداران به ئ همیشه دلبار کښ ساتل. او دا احتیاط ئ وکړ چه هغو سره دَ نوکرانو چاکرانو غورپوري نهٔ وي. او به هیڅ خبره کښ به ئ ورسره مصلحت نه کاوهٔ او دا لا څه کوي چه پټ پټ به ئ عذابول هم. دَ همایون مرزا له بربادولو نه پس دوئ ډیر په غصه وو. زمان شاه څه لږ ډیر اعتبار په خپل لوي وزیر وفادارخان بانډِ کاوهٔ.

دا سړي سدوزي وه دَ دهٔ عادت وهٔ چه په خپلو دایرو دوپرو بانډِ به ئ لوي لوي سرداران غُلوَل او وړو وړو سردارانو سره به ئ ډیره مغرورتیا کوله. داسي سړي همیشه بي زړهٔ، حرصناک او رشوت خور وي. بیا هم هغه دَ زمان شاه ساه وه. دهٔ دَ خپل بادشاه عادت په دي باب کښ نور هم خراب کړ چه په سردارانو بانډِ دباوُ او زور زیاتئ وکړي. او که دَ هغو جایداد دونه ضبط شي نو دَ بادشاه به ډیره فایده وشي. له دي کم عقلتوب نه دا اور تر ډیري مُدي پوري لوکیدهٔ لیکن دَ سنه ۱۷۹۹ء په آخر کښ بل شهٔ. دَ دي سازش سَر دَ بارکزو عونډِ دَ یو لوي قام سردار وهٔ او هغهٔ سره دَ علیزو او نورزو قامونو سرداران، منشي باشي یعني لوي خزانچي او دَ قزلباش قام سردار او دَ خواجه سرائو سرپنچ په دي

مصلحت کښې شریک وُو لیکن وفادارخان دومره جاسوسان مقرر کړي
وُو چه پټخهٔ کښې به هم یو ځاي کښې ودریدل نو ویریدل به .لیکن یو
ځاي داسي هم وهٔ چه هلته جاسوسان رسیدَي نهٔ شول .هغه دَ یو
پاک فقیر کوټګۍ وَه چه سرداران به په کښې دَ فقیر ملاقات له راتلل لیکن
له سرِي به په کښې چرِي دَ شیرو کسو نه زیات شول نو دَ کوټګۍ وَر
به ځان له پوري شهٔ .پس دلته به چا بانډِ دَ مصلحت کولو شک نه کیدهٔ
لیکن څو پوري چه به مصلحتیانو فقیر نهٔ وهٔ راضي کړي دَ هغو مصلحت به
نهٔ شهٔ کیدَي .ځکه اول به هغوي دَي دَ ځان په پَره کاوهٔ او بیا به ئ
دَ کوټګۍ وَر دَ مصلحت دپاره پوري کاوهٔ .هغوي دَ دي مطلب دپاره یوه
قانوني ضابطه جوړه کړه چه دَ هغي دفعي دا وي :-

۱- زمان شاه دِ له تخت کوز کړي شِي او دَ هغه په ځاي دِ دَ هغهٔ
ورور شجاع مرزا کښینولَي شِي .

۲- بیا به بادشاه دَ قام دَ سردارانو په راي کښینولَي شِي .

۳- کوم بادشاه چه دَ تخت دَ کښیناستو نه پس دَ بادشاهۍ په کارونو
کښې نامردِتیا وکړي نو سرداران به ئ په خپل اختیار کوزَ وِي .

دَ کار شروع کولو دپاره ئ یوه ورځ مقرر کړه او مصلحتیان خپلو خپلو
کورونو ته لاړل .لیکن دَ هغو نه په کار شروع کولو کښې یو داسي ډیل
وشهٔ چه نتیجه ئ نامرادِي وَه .دَ مصلحتیانو بار بار جلسو بانډِ لوي وزیر
شک من شهٔ .لیکن څه یوخ ثبوت په لاس ورنهٔ رغي .دا عامه قاعده دَه
چه دَ خلقو په زړونو بانډِ دَ کمزرو واقعو کمزر اثر کیږي .په شیرو مصلحتیانو
کښې پټخهٔ خو داسي تکړه وُو چه دَ هغو په خپلي نامرادۍ او دَ هغي په بد

انجام څه زړهٔ ښکته پورته نهٔ شهٔ۔ مګر شېرزم سړي ډېر بې زړهٔ وهٔ۔ که چرې هغهٔ خپله خولهٔ بنده کړې وَې نو خیر خیرت وهٔ لیکن هغه چه دَ مصلحت له ځایه روان شهٔ نو په جاړوکښې سپي ورپسې شول او په تېند کونو وهلو مرګ ته نزدې شهٔ او داسې ملک ورته اَوْ بَوْ شهٔ چه له وارخطائ نه مشر وزیر څخه لاړ او ټول حال يې ورته وُو۔ وزیر په دې موقعه بانډې خپل ځان ډېر ټکره کړ چه دَ خپلې بشرې نه يې څه خفګان یا خوشحالي ظاهره نهٔ کړه۔ لیکن صبا سحري يې ټول مصلحتیان بېل بېل محل ته راوغوښتل وُ يې نیول او مړهٔ يې کړل۔ په دوئ کښې له ټولو نه زیات عزت دار دَ بارکزو پاینده خان وهٔ۔ لیکن دَ وزیر او دَ بادشاه په دې خبره بدل خلاص نهٔ شهٔ۔ او حکم يې وکړ چه دَ بارکزو او محمدزو ټول سرداران دِ ونیوې شي۔ په دې ټولو کښې لوي دَ پاینده خان زوي فتح خان وهٔ۔ مګر دَې په وخت خبر شهٔ او سمدستي سور شهٔ دَ غرونو په لاره ګرشک ته ورسېد۔ او له هغه ځاي نه دَ خراسان علاقه کښې تېبز ته ورسېد او شهزاده مراد سره یوځاي شهٔ چه هلته دَ ایران دَ بادشاه نه دَ مدد اخستو په طمعَ ناست وهٔ۔

دَ بارکزو دَ سردار راتلل دَ دې شهزاده په حق کښې ډېر فایده من شوُ۔ فتح خان یو بهادر، هوښیار، او ټکره سړي وهٔ۔ هغهٔ دَ خپل پلار بدل اخستو ته ملا تړلې وه۔ محمود يې وُلمساوهٔ که چرې تهٔ همت وکړې او پښتنو ته وُرسې نو ستا په وینا به هغوئ له هغه حکومت نه غاړه وغړوې دَ کوم نه چه نن هغوئ ډېر تنګ دي او دغه سې به ستا مطلب حاصل شي۔ محمود دا صلاح خوښه کړه او سره دَ اتهٔ لسو ملګرو فراه ته

راسور شهٔ - دا خلق همیشه له دهٔ نه زاریدل - هغو نه دهٔ مدد وغوښت - دَ زمان شاه او دَ هغهٔ دَ وزیر ظلمونه يې داسې بیان کړل چه خلقو په زړونو کښې کښيناستل - دَ بارکزو ټول قام دَ دهٔ دَ نشان دَ لاندِ راغونډ شهٔ - او نور دُراني قامونه هم ورسره شول - دَ دوئ په سردارئ باندِ محمود ښځ قندهار ته راورسید - دَ هغه ځاي حاکم ورته جنګ له راووت مګر په ماتي قلا ته وتښتید او هلته قلابند شهٔ - ځلورځلویښت ورځو پوري دَ قلا فوځ ټولي سختئ وزغملي لیکن په پنځه ځلویښتمه ورځ په یو داسي چل هغه کار وشهٔ چه په زور ممکن نهٔ وهٔ - فتح خان په خپل حکمت دَ ښهر دوه سرداران دَ ځان په برخه کړل هغو دوارو ورته داسي مدد ورکړ - چه قلابندیانو له باهره فوځ نه امن وغوښت او دا ځاي يې محمود ته پرېښود -

هرکله چه زمان شاه دَ سازش خلق مرهٔ کړل نو ځان يې بالکل بېغمه وګڼړهٔ او په پېښور او کشمیر باندِ يې بیا دَ قبضي کولو فکر کاوهٔ - ځکه چه دا دواړه صوبي یاغي شوي وي - دي په خپل بخت باندِ دومره غاوړه وهٔ چه دهٔ دَ خپلي بادشاهئ دَ نور پرېوانهٔ دَ ګټ په هلي ګُلي دَ ایران دَ بادشاه په دبدبهٔ او دَ بارکزو په خفګان هیڅ خیال وُ نهٔ کړ - او په پېښور يې حمله وکړهٔ وائي خست - بیا يې پنځلس زر ځوانان دَ خپلو دوهٔ معتبرو افسرانو دَ لاندِ کشمیر ته ولیږل - دَ هغو نه داسي بي انتظامي وشوهٔ چه په کشمیر کښې دَ ننوتو نه ورپسې دَ فوځ ټول ځوانان تار په تار شول - دَ محمود دَ ټولو کارونو حال به ورته هر وخت رارسیدهٔ خو په دي به يې څه غوږ نهٔ ګرېدهٔ ځکه چه محمود به داسي ځکري پیدا کولي او به آسانه

به دفع کیدي دَ زمان شاه دَ خپل یاغي ورور نه څه سنرکه نه سوزیدله. څکه دَ هغهٔ دَ مقابلي دپاره يې نهٔ څه فوځ ولیږهٔ او نهٔ پخپله لاړ. دهٔ بیـو بي شمیرَ فوځ دَ شجاع مرزا دَ لاندې په پېښور کښې پرېښود او پخپله پړاؤ په پړاؤ کابل ته لاړ. دلته ورته ټول ملک یوه توره بلا ښکاره شهٔ. دَ څلورو وارو ددو نه په دام کښې راګیر شهٔ. په قندهار کښې ټولو زورورو قامونو دَ محمودشاه حکومت منلې وهٔ. زمان شاه بي له خپل وزیرَ بل په هیڅ مین نهٔ وهٔ او نهٔ يې په چا اعتبار کاوهٔ او په دي جنجال کښې دَ وزیر وار خطا شوَي وهٔ. په ښان دَ ښهر خلق دَ هغهٔ دُښمنان شوَي وهٔ. دَ ظلم او زور کارونو دَي دَ بربادَيَ په دوغل کښې ارتاؤ کړ. دَ دهٔ حال دَ وِیرِ وهٔ. دا وخت دَ دهٔ دَ خپل قام په بهادرئ او زړهٔورتیا باندې څه تکیا وَه خو په دي پوهې آسره دَي په کابل کښې تېنګیدَي نهٔ شهٔ. څکه چه هلته هر وخت دَ بغاوت ویره وَه. خپل خاص خاص سرداران او نوکران يُې راجمع کړل او جلال آباد ته واپس شهٔ. دلته بدقسمتيُ داسي راګیر کړ چه دَ افغانستان، خراسان، سندهـ، کشمیر او دَ پېښور غونډِ بادشاه په ډیرو خوارو ۲۰۰ سوارهٔ او ۴۰۰ ګوله انداز راټول کړل. دهٔ سره ټش دوه سرداران وُو. یو وَیَري اختي وفادارخان او دوېم دَ پاپوړزو قام سردار زمان خان وهٔ. دي وړوکي غونډِ ټولي سره دَي جګدلک ته نږدي یوي قلا ته راورسید چه یوَ مُلا عاشق نوم سړي دَ وزیر ماتحت په هغي ناست وهٔ او هلته يُې ډیره ولګوله. له پښتنو نه يُې مدد وغوښت. زمان شاه ورته داسي لوظونه او پېښکښونه ورانډِ کړل چه لږو ورځو کښې دَ هغهٔ دَ جنډي لاندِ ډیر مددګاران جمع شول. په دي ټولو کښې برکتي دَ نورزو قام سردار احمد خان وهٔ چه دَ نوکرانو چاکرانو

شمیرئ د پنځلس زرو کم نه وه دا وخت ټول فوځ ۳۰ زرو ته نژدې وه
د دې فوځ په جرنیلئ زمان شاه د محمود مقابلې ته وړاندې شه - چه ده پسې
راروان وه د محمود د فوځ روح د بارکزو فتح خان وه دا هوښیار سردار
پوه شه چه که په څه شان احمد خان ځما سره شي نو د زمان شاه قابو
کېدل ډېر آسان دي - په څه زور زور چل ول ئې هغه ځان ته راواړه وه - څه
وخت چه سرآسپ ته نژدې دواړه فوځونه مخامخ شول نو احمد خان چه د
زمان شاه د مقدمې جرنیل وه سره د خپل فوځ محمود ته ورغئ - څه وخت
چه زمان شاه دا بیوفائي ولیده نو په خپله بده ورځ ښه پوه شه - خپل وزیر
او درې نور وفادار ملګرې ئې ځان سره واخستل او یوې بلې قلا ته
وتښتېد چه د ملا عاشق په تصرف کښ وه او جګدلک ته نژدې وه -
دلته د هغه عزت د میلمنو په شان وشه لیکن د ده د راتلو نه ورستې ملا
خبر شوې وه چه محمود په کابل قبضه کړې ده - اوس د هغه دا خیال پیدا
شه چه په څه شان د محمود خوشحالول پکار دي - په دې نیت هغه د زمان شاه
د نظربندئ بند وبست وکړ - یو سړې ئې کابل ته واستوه - بله ورځ زمان شاه
ته خپل ځان قیدې ښکاره شه او خپلو ټکو کورنو سره ئې بیفایدې بحثونه
وکړل - خو چه پوه شه چه له دې خبرې نه څه نتیجه نه خېژي نو د خداي
کارونو باندې ئې شکر وویست - هم په دغه شپه ئې د کوټې په دیوال کښ
کوه نور او نور جواهرات پټ کړل - بله ورځ د یو ګارد په لاس کابل ته
ولیږلې شه - ډېر لرې تلې نه وه چه اسد خان د بارکزو د فتح خان ورور
ورته لاره کښ مخې ته راغئ - چه یو جراح هم ورسره وه - زمان شاه په خپلې
آخرې بدقسمتئ شک من شه خو دا شک ئې ژر په یقین بدل شه - سمدستي

تر ستړکي وُولیشتي شوي. او دا رونډ او معزول بادشاه دَ یو قیدي په شان په بالاحصار کښې قید کړي شهٔ. دَ هغهٔ ملګري سره دَ وزیر لسِ ساعت پس وُوژلي شول. محمود اوس بادشاه شهٔ. عجیبه دا دَه چه شهزاده وهٔ نو دَ پلار له مرګ پس دَ خپل ورور برخلاف په هر سازش کښې شریک وهٔ. څو ځل يې دَ هغهٔ له نوکرۍ نه انکار کړي وهٔ. په شروتیا کښې زړهٔور او په جنګ کښې داسي بهادر وهٔ چه صرف خپلو اتلسو ملګرو سره په افغانستان کښې راننوت او دَ ملک بادشاه شهٔ. چه بادشاه شهٔ نو ډیر سست او بې پروا شهٔ. چه شهزاده وهٔ دَ بادشاهۍ دپاره يې لوي لوي غمونه په سر اخستي وُو. لیکن چه بادشاه شهٔ نو داسي غافل او لټ شهٔ چه دَ دهٔ دَ زوال خبري په ټول ملک کښې خورې شوي. محمود ډیر سخي او شکر ګذار وهٔ. چه دَ کابل بادشاه شهٔ نو هغه ټولو سردارانو ته يې لويي لويي عهدي ورکړي او ښهٔ يې خوشحال کړل چا چه دَ بادشاهۍ په اخستو کښې مدد ورکړي وهٔ. او دَ هغو نوکرانو ته يې ډیر انعامونه ورکړل. دَ بارکزو سردار فتح خان او دَ علیزو سردار اکرم خان يې وزیران کړل. دَ علي زو قام سردار يې دَ کشمیر په صوبه مقرر کړ. بادشاه خپل زوي کامران په پېښور دَ قبضي کولو او دَ شجاع مرزا دَ نیولو دپاره رالیږلي وهٔ. څه وخت چه دي نوخېز او همتناک شجاع دَ خپل ورور دَ نیولو او دَ سزا موندلو حال واورېد له هغه وخت يې په ځان دَ بادشاه نوم کېښود. دَ درو څوکیدار قامونه يې په خپل خپل ځاي ښهٔ مضبوط کړل. دَ هر قسم تیارۍ يې وکړې او کابل ته روان شهٔ. محمود چه له ځاي خوځېدَي نهٔ شهٔ فتح خان ته يې دري زره فوځ ورکړ او دَ دښمن مقابلې ته يې رالیږهٔ. دوارهٔ فوځونه په یو تنګ میدان

کښې مخانخ شول. اول اول داسي ښکاريده چه شاه شجاع به کټه وکړي څکه چه ورښي سر کښې دوئ غلبه وُو. ليکن دَ دي غلبي نه پس هغو دَ لُوټ لپخوانۍ بد عادت بيا راواخست. دَ خپلي کټي په نشه کښې مست شول چه دَ خپل سردار دَ حکم نه ئې صفا انکار وکړ او په هغه خزانه راپريوتل چه خپل خان سره ئې له پېښور نه راوړي وه. فتح خان دَ دوئ دَ غلطۍ نه فايده واخسته دَ دښمن په ټول صف ئې حمله وکړه او دَ دهٔ کټه ئې په بايلات بد له کړه. شاه شجاع ماتي وکړه او وتښتيد. او په پېښور دَ محمود قبضه وشوه. دَ دي جنګ دَ خلاصيدو نه ورښي محمود ته يوه بله لويه خطره دا راپيښه شوه چه دَ غلزو قامونه باغي کيدو ته تيار شول.

دَ کتاب کتونکو ته به ياد وي چه له ټولو نه ورښي خالصه دَ پښتنو بادشاهي ميرواعظ په قندهار کښې قايمه کړي وه چه دَ غلزۍ قام سردار وهٔ. دا دَ هغه بادشاه دويم زوي وهٔ چه زور قندهار ئې له يو کال نه زيات دَ نادرشاه دَ فوځونو له قبضي نه ساتلي وهٔ. او دَ روغي نه پس دَ دي ضلعي حکومت هم دهٔ ته ورکړي شوي وه. دَ احمد شاه دُراني په بادشاه کيدو بانډ دَ ټول افغانستان حکومت اګرکه دَ غلزو له لاس وتي وهٔ ليکن بيا هم دَ غلزو دَ بادشاهي کور عزت به عامو خلقو کښې داسي وهٔ چه احمد شاه دَ هغو دپاره يو ميراثي پنسن مقرر کړي وهٔ او دَ هغهٔ ميراث خوړو هم دَ دي قدر کاوهٔ. او دي دُراني تبر سره به ئې دير دارمدار کاوهٔ دَ محمود شاه په زمانه کښې دَ دي تبر مشر او دَ غلزي قام سردار عبدالرحيم وهٔ. دي پخپله خو حرصناک سړي نهٔ

وهٔ لیکن دَ دهٔ قام دَ درانو له بادشاهۍ نه تنګ او کینه‌دار شوي وهٔ او دَ خپل پخواني حکومت دَ اخستو بیا لیوالَ شوي وهٔ - چه دَ ظالم زمان‌شاه په ځاي محمود دَ کابل بادشاه شهٔ نو دوئ ته یوه ښه موقعه په لاس ورغله - دَ محمود په تخت باندِ دَ کښیناستو په وخت ډیر غلزیان کابل کښې پیښس شوِي وُو او دَ نوِي بادشاه کمزورتیا ئ په نظر اخستي وَه - او خپلو کښې به ئ ویل چه میوه پخه شوي دَه - دَ عبدالرحیم‌خان دَپاره ئ دَ بادشاه کولو چلونه راواخستل - دا سردار اګرکه حرصناک نهٔ وهٔ خو داسي څوک ډیر چه ویرپا عزت به لته وهي - دا قامونه چه پخوا راسي تیار وُو زر یاغي شول. دَ دوئ سردار دَ قلا بادشاهي فوځ زر په خپل لاس کښې کړ - او دَ تاړاک غونډۍ نه غزني ته او بیا کابل ته په اکتوبر ۱۸۰۱ء کښې راروان شهٔ -

دَ یاغیانو راوراندِ کیدل ئ چه ولیدل نو دَ غزني حاکم په غونډو کښې دَ دوئ مقابلې دپاره له قلا نه باهر راووت مګر شکست ئ وخوړ ښهر ته واپس راغئ - چه‌په ښهر حمله وشوه نو دهٔ خان په داسي بهادرۍ او عقلمندۍ بچ کړ چه غلزو خلقو لږ غونډِ فوځ دَ قلابندیانو دَ ساتلو دپاره پرېښود او دَ ښیلګدږه او زرمال په طرف لاړل او دَ هغه ځاي نه دَ لوګر په تنګي کابل ته ئ مخه وکړه - محمودشاه چه ورپښي دَ غزني له حالَ خبر شوَي وهٔ خواه مخواه دَ فوځ په راغونډولو کښې لګیا شهٔ - او ډیر لږ څوانان ورسره وُو - بس شیرمحمدخان یو لایق جرنیل په کابل کښې موجود وهٔ - لیکن هغه هم دَ یاغي توب په شک کښې قید وهٔ - محمود به دَ خپل فوځ کمان کړي وهٔ خو هغه دَ ګډۍ

له ځایَ باهر قدم اخستل مناسب وُ نهٔ ګنړل. په داسي ناچارَئ کښ بل علاج نهٔ وهٔ بغیر له دي نه چه شُبه ناک تګ له قیدَ راوباسي او دَ یو څو قزلباشو په سرئ چه ورسره دُو جنګي افسر کړي او دښمن ته ئ وراندِ کړي. شیرمحمدخان دَ ارګندِي او میدان په لاره راځيَ لیکن چه خبر شهٔ چه غلزیان دَ لوګر په تنګي راځي نو دهٔ خپل طرف بدل کړ. او له هغه تنګي نه په ترخ دَ سجاون دَري په لمن کښ دښمن سره مخامخ شهٔ او چه وُ ئ لیدل چه غلزیان په بي‌تمیزَئ راځي نو دهٔ دَ خپلو ځوانانو دري صفونه جوړ کړل. یو صف ئ مخامخ او دوه صفونه ئ ښیَٔ او کینړي دَدي نه ورستو دَ اوښانو دَ قطارونو په پناه کښ پټ کړل. غلزیان به ایغ نیغ راتلل او دي صفونو به په هغو باندِ ګولَئ چلولي. لیکن سره دَ دي هغوئ په وراندِ دَ اوښانو په قطار ورتیر شول. او دَ قزلباشو یوه خاصه دسته باندِ وربړیوتل. دَ حملي زور او دَ حمله کونکو ډیر والي دا دسته لتاړ کړه. او غلزیانو به ګنه کړي وَه که دَ دُوئ جرنېل هوښیار وَي. په ډیره وراندِ کیدو دَ قزلباشو دَ دوارو غاړو دستي له دننه نه پرِ راتاوُ شوي. او په دي خبرهٔ ورسَئ لتاړه شوي دسته بیا خپلو سرو راغونډولو ته وزګاره شوه. څه وخت چه له دري واړو طرفَ نه حمله وشوه نو دَ غلزیانو بي له تیښتيَ نه بله لار نهٔ وهٔ او دَ خپل قام په یوه قلا کښ لاړل ننوتل چه دلته نه شپږ میلَ لري وَه. او چه دَ شپي تازه مدد ورته راځيَ نو سحر ئ په بل سرک کوچ وکړ او ماښام ته بادشاهي قلا ته ورسیدل چه له کابل نه یوځو میلَ لري وَه. که هغو په ښهر باندِ حمله کړي وَي نو ضرور به ئ اخستيَ وهٔ. لیکن هغوئ دَ ګیرچاپیر کلو لوټلو کښ ګیا شول

او په دي خبره شیرمحمدخان ته دَ زورَوري حملي وخت په لاس ورغئَ- بله ورځ سحر دي جرنیل پرِ حمله وکړه او سره دَ ډیرَ قتلَ ئې یاغیان واپس کړل دا بغاوت اگرکه هغه وخت دفعَ شهٔ خو تر مئي سنه ۱۸۰۲ء پوري ئې بیخ نهٔ وهٔ وتلیَ، یا تر څو پوري چه غلزیانو په څلورو زورَورو جنگونو کښې شکستونه نهٔ وُو خوړلي- په مُلاشاهي بانډِ په ۱۱ رمئي سنه ۱۸۰۲ء آخر جنگ وشهٔ چه دا دَ فیصلي جنګ وهٔ- غلزیانو دي نه پس دَ بادشاهئ دا خیال مغزو نه وُوبیست- او دَ دُرانو دَ بادشاهئ اقرار ئې په روښو تندي وکړ-

په شجاع مرزا دَ زورَور کیدو او په غلزیانو بانډِ دَ غالب کیدو نه پس محمود په ازبکو هم برَي بیاموند چه دَ دهٔ دَ تخت دَ کښیناستو په وخت په جیحون راپوریوتي وُو- هم په دغه کال سنه ۱۸۰۲ء کښې دي خلقو بلخ څخه نزدي شکست وخوړ او دَ سرحد له سیند نه پوري وشړلي شول. شجاع دَ خیبر قامونو ته څه لښون غونډِ وکړ خو دَ دهٔ فوځ دَ محمود دَ جرنیلانو له لاسَ بالکل تباه شهٔ- لنډه دا چه سنه ۱۸۰۲ء کښې بخت لکه دَ غونډِ سکِي دَ محمود ښیو کښې رغړیدهٔ- دا وخت ورته لوي همت پکار وهٔ- هغه لوي کتابونه جوړونکي چه دَ انگریزانو دَ بخت وجهي ئې لیکلي دِي په خپلو کتابونو او تقریرونو کښې ئې دي خبري ته ډیر زور ورکړَي دَي چه "کوم سړي زړهٔ ورِوکيَ کړ هغهٔ خپل ځان بخپله تباه کړ"- دي خبري نه زیاته رښتیا بله یوه خبره نشته- رعیت او حاکم دواړو دپاره فایده منه او دَ هر قِسم خلقو دپاره ښه دَه- بیا هغه جنگیالي دپاره چه دَ وحشِي مخلوق حاکم وِي او چه ډیر قامونه ترِ لاندِ وِي او دَ هر قام سردار دَ قام په سر دَ هغهٔ حکم مني دَ کابل په تخت بانډِ چه مضبوط شهٔ او ټول حریفان ئې له وطنَ وشړل

او هر يو ياغي ئي رعيت کړ نو محمود ته بي له عياشئ نه بله خبره په مغزو کښ رانۀ غله - مرديي ئي پرينوه په خپل ځان ئي ټپله تباهي راوسته. هم په دغه کال ئي خراسان له لاس ؤوت. دَ ايران فتح علي شاه په دي صوبه حمله وکړه مشهد ئي واخست او قبضه ئي پر مضبوطه کړه چه تر نن ورځي دَ هغۀ دَ ميراث خوړو په لاس کښ دَي. دَ ايرانيانو مقابله هيچا و نۀ کړه. دَ محمود په سسته بادشاهئ کښ هر چا به خپل ځان ټپله ساتۀ. څه وخت چه ايرانيانو دَ مشهد قلابندي کوله نو دَ هرات په باب کښ دَ بادشاه دَ زوي کامران او وراره قيصر مرزا جګړه وَه. په افغانستان کښ بادشاه، افسر، جرنيل، حاکم يو وي. چه ايله عوند فوځي سلطنت کښ خطائي وشي هلته بادشاهي لاړه شي. محمود دَ فوځ خبر وانۀ خست. دَ بارکزو او عليزو قامونو سردارانو فتح خان او اکرم خان دَ دۀ په ځاي حکم کاوۀ خو خپلو کښ سره وران ؤو. آخر جُدا شول. اکرم خان کابل کښ پاتي شه او فتح خان قندهار واخست خپل حکومت ئي په پيښور او ټول سرحد باندِ مضبوط کړ. دۀ دَ حکومت قايمولو معني دا واخسته چه دَ دۀ هيڅوک مخالف پاتي نۀ شوي. دَ کشمير، پيښور او سرحد نه ئي روپئي واختي. کوهاټ، بنوں او دامان په سرحدِي ضلعو کښ شامل ؤو. هغۀ په لاره کښ وزيرو ته شکست ورکړ او قندهار ته ئي مخه کړه. دَي په خپله موقعه وَۀ چه شجاع مرزا دَ کوټي دَ پوونده قافلي دري لکه روپئي ولوټلي او دَ دي ښهر دَ دَ فتح کولو کوشش ئي وکړ خو بي ځاي لاړ. دا وخت دَ فتح خان حريف اکرم خان دَ عليزو سردار مړ شۀ. دا عهده دَ شير محمد خان ميراث وَۀ چه دَ شاه ولي خان دَ احمد شاه دَ وزير زوي وَۀ. شير محمد خان ډير لايق، دَ همت خاوند او يو

عزت دار عالم سړي وه. هم دی وه چه محمود له قید راوویست او د
غلزو جنګ یې پر وکښته. خو محمود شاه د ده دا حق وواهه او په دې
عهده یې فتح خان د بارکزو محمدزو سردار چه هر وخت کابل کښې وه
مقرر کړ. په دې کښې ده د یو قزلباش شیعه سردار په مدد حکومت
راواخست چه د شیعه توب په سبب د خلقو خوښ نه وه. په دې حق
وهني شیر محمد خان خفه شه او د خپل بادشاه برخلاف یې مصلحتونه
شروع کړل، او خلقو ته به یې ویل چه بادشاه ځان سره بیدین خلق
راجمع کوي او بلجمله هم ورسره بیدین کیږي. دا خبره ټول ښهر کښې
خوره شوه او په ښهریانو کښې یوه زوروره غصه پیدا شوه او ټولو د
جماعت له امام نه مدد وغوښت. دا سړی بوډا او لوی عالم وه او خلقو به
یې ډیر تعظیم کاوه. هغه له محمود شاه نه کرکه او شیر محمد خان سره مینه
راواخسته. هغه د جماعت په پوړو باندې ودرېد د خلقو فریاد یې واورېد
خلقو د زړه له تاوه په غصه او په زور زور ووې چه مونږ د خپل مذهب
سپکاوی ته نه شو کتلی. ده ټول خلق چپ کړل او د ټولو شیعه ګانو
د مرګ فتوی یې ورکړه. د دې نتیجه د تندر په شان راووته. هغه ورځ
او د هغې په صبا له په قزلباشو زوروره حمله وشوه. هغوی چه په
خپل مرګ کښې څه شک وو نه لیدنو په ډیرو قیمتونو باندې یې د خپلو
ځانونو اخستلو نیت وکړ. یعنې د خپلو سرونو ډیر ډیر دولتونه یې ومنل.
مقابله ډیره زوروره وشوه. اګر که له کلو نه ډیر سنیان مدد دپاره راغلي وو
او اګر که شیر محمد خان او نورو خفه وو سردارانو خپلو ملګرو ته ښه مدد او
لسون ورکاوه او اګر که امام د سردارانو په سر باندې د مکې پاکې اوبه

(زمزم) چړکاوُ کړي وي او دَ جنت دَ نعمتونو زيرَي يُ ورکړي وهٔ - خو بله
ورځ ماښام دوارهٔ پرې داسي سترِي شوي چه دَ جنگ اسباب يُ کيښود -
اصل کښي دوارو پرو دا خبره اتالوله - بادشاه دا غوښتهٔ چه فتح خان تر
دَ هغهٔ فوځ له قندهار نه راوُرسي - شير محمد خان دَ محمودشاه په ځاي يو
شهزاده په تخت کښيناوهٔ چه دَ هغهٔ دَ راتلو انتظار وهٔ - دَ تيمورشاه په باقي
زامنو کښي بي له روند زمان شاه نه صرف په شجاع مرزا کښي دَ بادشاهئ
لياقت معلوميدهٔ او له بادشاهي تېر نه دَ شهزاده ضرورت وهٔ - ځکه دَ فساد
شروع کيدو سره شجاع مرزا ته سوال جواب ليږلي شوي وهٔ - دا هلهٔ ګله
له ۴ او ۵ جون سنه ۱۸۰۳ نه شروع شوي وَه - يوي مياشتي پوري دوارو
پرو به پټ پټ وراني کاوهٔ - دَ يو بل کرهٔ درهٔ به يُ کتل - محمودشاه ورښيَ
سکوندارهٔ ولکوله - دَ دهٔ عقل داسي بي ښي نهٔ وهٔ چه دَ شيرمحمدخان لياقت
يُ هير کړي وَي - دَي دَ هغهٔ په وِيښ طبيعت ښهٔ خبر وهٔ او دَ غلزو په
جنگ کښي خو دَ دهٔ قابليت ښهٔ ښکاره شوَي وهٔ - دَي يو خطرناک دښمن
وهٔ - که دَي په څه حکمت نيولَي شوَي وَي نو دَ سازش خلق به بي سردارَ پاتي
شوِي وُو - دغه سي نن صبا يُ کول دَ شير محمد خان دَ نيوُ کوشش يُ
وکړ - ليکن هغه ډير هوښيار او ويښ وهٔ چه په دي چالبازيُ پوه شهٔ نو
کابل نه وتښتيد او دَ شجاع مرزا تنګو ته ورسيد او دغه سي دَ بادشاه
داوُ خطا شهٔ - دَ ځلو تلو نه درښيَي يُ امام ښهٔ پوه کړي وهٔ چه دَ شر
فساد په کولو کښي سُستي مه کوهَ او زهٔ لوظ کوم چه ډير زر به فوځ راولم
او تا سره به مل شم - پس جګړي او فسادُونه سمدستي شروع شول
دَ چل سردار په تلو بانډ سُنيان بي زرهٔ نهٔ شول او جوش يُ نور هم

زیات شهٔ - دَ هغو زړهٔ جمع وهٔ چه څونړ سردار به زر فوځ راولي - دَ یوي هفتي له جنګ نه پس يُ بادشاه او قزلباش چه په قلا کښي ژوندِي وُو راوولیتل - او په ښهر او غونډيُ او دَ قلا په ټولو لارو يُ قبضه وکړه - په دي کښي په دولسم جولائيُ شجاع مرزا دَ شیرمحمدخان سره راورسید - دي هوښیار جرنیل شهزاده پوه کړ چه لا ښهر ته ننوتل مناسب نهٔ دي باهر خیمه لګه کړه او دلته دَ فتح خان انتظار وکړه چه دَ قندهار نه راروان دَي - صرف دَ کابل په ننوتو دَ احمدشاه تاج ستا په نصیب کیږي نه - په دریمه ورځ فتح خان راغي او جنګ شروع شهٔ - زړهٔور او چالاک شهسوار فتح خان ټول جر کړل - که څري دَ هغهٔ سري په وفاداريُ ولاړ دَي نو ضرور به يُ فتح کړي وَه لیکن دَ هغهٔ دَ لویو سردارانو شجاع سره یو پټ مصلحت وهٔ - عَن دَ خپلي کمي په وخت درته معلومه شوه چه زهٔ بالکل یواځي پاتي شوم - چه دَ دهٔ ډیر نوکران او ملګرِي شجاع مرزا ته لاړل نو دهٔ هم ښيي ووپیتي - بله ورځ شجاع مرزا چه اوس شاه شجاع شوي دهٔ دَ بادشاهيُ په ډول کابل ته ننوت - ټول رعیت دَ خوشحاليُ الا ووپیته او شیرمحمدخان دَ هغه آس سره پیاده تهٔ او نیغ بالاحصار ته لاړ - چه هلته ورسید نو ټولي دروازي لري شوي - محمود دَ مقابلي څه کوشش وُنهٔ کړ - پوهیدهٔ چه څما به هم هغه حال شِي کوم چه م دَ دهٔ دَ ورور زمان شاه کړي وهٔ - وائي چه شجاع دَ خپل ورور دَ سترګو ویستو حکم کړي وهٔ خو دَ خپل زورور مددګار او احسان کونکي شیرمحمدخان په ویناي يُ هغه حکم بیا منسوخ کړ او محمودي په بالاحصار کښي په یوه تنګه او تیارهٔ قیدخانه کښي بند کړ -

شاه شجاع ته چه کوم کار حواله شهٔ هغه دَ دهٔ دَ پخوانو میراث خوَرو له کارَ زیات درُوند وهٔ - احمد شاه چه دَ خپل لیاقت په وجه چوپړ شوَي وهٔ بادشاهي يې جوړه کړه - تيمور شاه خپل پلار له ټولو نه لايق کنړهٔ ځکه يې ورته دَ بادشاهئ بار په سر کړَي وهٔ - هغه دَ ملک په بند وبست کښې دَ خپل پلار په قدم لاړ په پښتو يُې خپل حکومت قايم کړ - زمان شاه دا لار پرېښوَه بادشاهي ترِ لاړه - محمود نه دَ خلقو دا طمعَ کیدَه چه دَي به پخوانيَ بند وبست بيا شروع کړي ځکه يُې په تخت کښيناوهٔ - ليکن هغهٔ دَ دي ضروري کار په ځاي دَ بادشاهئ واکي دَ زورَور سردار په لاس کښې ورکړي -

شجاع اوس دَ محمود شاه په تخت کښيناست - له ټولو خبرو نه ورښَي دهٔ له دا پکار وُو چه هغه تار به تار واکي چه نورو خلقو نيولي وي ټولي راټولي کړي - دا ډير درُوند کار وهٔ - دَ زمري زړهٔ هم ورته نهٔ شهٔ ټينګيدَي ځکه چه دَ بادشاهئ واري دَ داسي سردارانو په لاس وي چه دَ هغو په زړکولو نوکران وُو - دا هلي ځلي احمد شاه ښي سمولي شوي - دَ دهٔ په نمسي کښې نهٔ خو دَ دومره لويي مرتبي سنبالولو طاقت وَه نهٔ لياقت چه دا ټولي وسيلي يُې په هوښيارتيا استعمال کړي وَي - او نهٔ داسي تکړه وهٔ چه په خپله خبره تر آخرَ ودريدَلي وَي - تاج دَ شير محمد خان په برکت دَ شجاع نصيب شوَي وهٔ ځکه دا يوه قدرتي خبره وَه چه دَي لوي وزير شهٔ - دهٔ ته دَ خپلَ لاسَ جوړ کړي بادشاه په خدمت کولو کښې مزه ورتله - او خومره يُې چه وس وهٔ په ټوله بادشاهئ کښې يُې يو نوَي انتظام او حکومت جوړ کړ - دَ دهٔ دَ مرادمندَئ دپاره تش دومره خبره

ډیره وَه چه دَ بادشاه اعتباري وهٔ-که په شجاع کښې عقل وَي نو هغهٔ به یه دهٔ پُوره اعتبار کړَي وهٔ او دَ خپل وزیر په وسیله به ئې ښه بادشاهي کړي وَه او په دي چل به ئې هغه ټولي واکي تر لاس کړي وي کومي چه محمود پرښيي وي-لیکن له اول سر نه هغه دَ دي خبري مخالف وهٔ ځکه چه شکي طبیعت، خوشامندي خوښونکَي، او ډیر زر غولیدونکَي وهٔ-څومره چه زمانه تیریدَه نو شیرمحمد خان سره اړُوپیس کښې ورته مزه به راتله-دَ دي چه څه نتیجه کیدَي شِي دَ هغي سره هر څوک خبر دِي-کوم طاقتَ چه به په شریکه دَ بادشاهۍ دَ بهترۍ دپاره لګیدهٔ هغه اوس به ځانَ ځانَيُ کښې ولګید-ځکه چه هر یَو دَ یو مخکښې فساد دپاره ځان تیارَوهٔ-له ټولو نه ورښيي چه بادشاه کوم کار وکړ هغه دا وهٔ چه خپل ورور زمان‌شاه ئې له قیدَ آزاد کړ او چا چه راس نیولَي راالیږلي وهٔ هغه ئې وواژهٔ-

بیا ئې دَ خپل وزیر په مصلحت دَ قندهار لاندِ کولو دپاره تیارَي وکړ چه دَ محمودشاه زوي کامران مرزا ځخه وهٔ او چه دَ هغهٔ مددګار دَ بارکزو فتح‌خان وهٔ-څه وخت چه هغه خپلو ملګرو یواځي پرښیود نو دَي قندهار ته راتښتیدلي وهٔ-دَي دَ لوي زړهٔ خاوند وهٔ او دَ بارکزو دَ سردارۍ په وجه ئې لوړه هم مرتبه لویه وَه-لیکن دا خبره زړهٔ نهٔ اخلي چه دَ سدوزیانو دَ لړي کولو نیت ئې وهٔ-هاں دَ خپل او دَ خپل قام عزت زیاتولو آرزومن وهٔ-چه هغه ئې خپل حق ګڼړهٔ په دي زمانه کښې څو دَ دهٔ کار وهٔ چه هم دا خبره تر معلومیدَه ځکه چه شاه‌شجاع سره دَ شیرمحمدخان په قندهار راوځوت نو فتح‌خان

کامران ولسوهٔ چه هرات ته وتښتي او پخپله د بادشاه د طاعت منلو دپاره پاتي شهٔ-شاه شجاع ته دا ښهٔ وخت په لاس راغلیٰ وهٔ د بارکزو قام يُ د خان په پره کوليٰ شهٔ- فتح خان سره يو څو د رونړ تنډي خبري، هغه د خپل پلار په عهده باندِ بيا په ځاي کول او د هغهٔ په وفادارۍ باندِ يقين کول بس وُو-په دي به هغه هميشه دپاره د بادشاه عاشق شوي وهٔ-او بيا په داسي حال کښ چه فتح خان هم د بادشاه د خوشحالیٔ هوس لارهٔ-او دي خبري دپاره يُ پټ پټ کوشش هم کاوهٔ-ليکن بادشاه د هغهٔ يوه خبره هم وُ نهٔ منله او په ډير کبر سره يُ د هغهٔ درخواست نامنظور کړ-د دي خبري نتيجه دا شوه چه کوم سړي چه د روغۍ په نيت راغلیٰ وهٔ هغه دښمن شهٔ- يو څو ورځي پس فتح خان د خفګانه دلبار ته راتلل پريښول او د ګرشک خپلي قلا ته لاړ-

شاه شجاع د قندهار حکومت خپل وراره قيصر مرزا ته ورکړ چه د زمان شاه زوي وهٔ-او د نورزو احمد خان يُ مشر وزير کړ-دا هغه سړي وهٔ چه د محمود په مقابله کښ يُ د زمان شاه ملګرتيا پريښي وه-بيا دهٔ د ډيرشو زرو څوانانو فوځ راواخست په پېښور يُ حمله وکړه او نيت يُ وکړ چه له دي ځاي نه خپل حکومت په ګيرچاپېر صوبو کشمير او سنده باندِ قايم کړي-ليکن لا له پېښور نه روان شوي نهٔ وهٔ چه د قندهار د بغاوت خبر ورته راغیٰ-دا بغاوت د هغه فتح خان شندي وي چه د هغهٔ په راضي کولو شجاع غلطي کړي وه-دا قصه داسي وشوه چه د بادشاه وراره قيصر مرزا د قندهار حاکم

شهٔ او دَ هغهٔ مشر وزیر دَ نورزو احمدخان شهٔ او فتح خان په غصه کرشک ته لاړ - دا ځاي قندهار ته ډیر نږدي وهٔ - قیصرمرزا دَ خپل پلار په شان کمزوري او بي همت وهٔ دَ هغهٔ لمسول فتح خان ته څه کران نهٔ وُو - ورته يُ وُوِ چه چا ستا پلار نیولي وهٔ هغه قید کړه او بېخپله دَ بادشاهيُ دپاره لاس ښپي وخوځوه - مرزا هم دغه سي وکړل احمدخان يُ قید کړ څه ټندي ستني ضري يُ ورتـــه وکړي او دَ فتح خان سره يُ کابل ته لاس وتاړهٔ - لیکن عجیبه بېغیرتَ او بي عقلَ سړي وهٔ چه کابل ته تهٔ نو احمدخان يُ بیا له جلخاني نه راووُیست او دَ قندهار حکومت يُ ورته وسپارهٔ - مکر دَ دي سزا يُ بیاموندهَ - احمدخان چه په خپلي بیعزتيُ خفه شوَي وهٔ - کامران مرزا يُ له فرّا نه دَ قندهار دَ حکومت دپارهِ راوغوښت او دا ځاي يُ دَ هغهٔ په حواله کړ - دَ هغهٔ زوي په ډاک کښں شاه شجاع ته خبر ورکړ چه اوس قندهار ته راشه دَ دي ځاي علاج وکړه - شجاع واپس راغيَ قیصرمرزا ته يُ شکست ورکړ او بیا پېښور ته لاړ - چه هلته ورسید نو خبر شهٔ چه قیصرمرزااو فتح خان بیا په قندهار حمله وکړه - څکه دا ځل هم راواپس شهٔ - دا پیرهِ قیصر دَ فتح خان ملکیرتیا پرېښي وَه او دَ بادشاه دَ رحم منت بار وهٔ - بادشاه دَ هغهٔ خطا معاف کړه او دَ قندهار حکومت يُ بیا ورکړ - فتح خان چه په خپلو چلونو کښں نامرادَ شهٔ نو هرات ته وتښتېد او دَ هغه ځاي حاکم فیروزالدین مرزا يُ دَ یاغيِ کیدو دپارهِ ولمساوهٔ چه دَي دَ محمــود ورورکيَ ورور وهٔ - دَ هغهٔ دَ سمولو دپارهِ یو فوځ شاه شجاع ورولیږهٔ - لیکن دي شهزاده هوښیارتیا وکړه څه دَ نېمي غوندِ خوداختیاريُ شرطونه يُ

ومنل -

دَ پښتنو دَ بادشاهۍ نورَ پرېوانهٔ ته ټوله حصه دا وخت په ښهٔ شان

دَ محمود خپلوانو څخه وَه ځکه چه دَ هغهٔ ورور په هرات وَهٔ - کامران

زدي يُ دَ فرّا حاکم وَهٔ او دَ هغهٔ نيکخواه فتح خان دَ بارکزو په غرشک

قبضه وکړه - په دي طريقه يُ چه معاملي ټولي صفا کړي نو شاه شجاع

دَ چاپېره صوبو په لام باندِ روان شهٔ - سنده يُ بيا سردوباره واخست

او دَ يو لک اديا زرو اشرفو قلنګ يُ تر نه وصول کړ - په خپلو

نورَ پرېوانهٔ سرحدونو باندِ چه تېريدهٔ نو دَ هغو معامله به يُ صفا کوله

او په اپريل ۱۸۰۵ء کښ پېښور ته ورسيد - په کشمير باندِ دَ لام

ترلو خبره چه دَ ډيري مُدي راسي اَتاله وَه دَ هغي اوس انتظام

وشهٔ - دَ فتح خان له کبله شاه شجاع بيا پښتني بادشاهۍ ته واپس شهٔ -

دَ بارکزو سردار دَ غرشک له قلا نه قيصرمرزا سره مصلحتونه شروع

کړي وُو - دا ځل قيصرمرزا په دوه خبرو کښ دُوجالَ وَهٔ - چه که له

خپل ترهٔ نه تخت اخستو دپاره دَ فتح خان مدد وکړم نو يقين نهٔ دَي چه

فتح خان به خپل لوظ ما ته بادشاهي راکړي - ليکن که فتح خان ترهٔ ته لاس

نيولي ورکړم نو په انعام کښ څه شک نشته - خو آخر دَي دي خبري

ته تيار شهٔ - چه فتح خان ونيسي - نو دَي يُ قندهار ته مصلحت دپاره

راوغوښت - دَ فتح خان په خواخاطر کښ څه نهٔ کرزيدل او خپل کشر

ورور دوست محمد سره قندهار ته راغي - دَ دي نوي ځلمي دَ مضبوط

طبيعت او ښايسته صورت نه دَ بخت نښي ځرګنديدي - قيصرمرزا

دَ دويُ ښهٔ دارمدار وکړ ليکن چه څه وخت دَ بادشاهي دلبار سـه

باهر وتل نو یو څو سرِي دَ بارکزو په دي سردار داسي په زورَ
راپریوتل چه دَي پرِمخ په زمکه پریوت او دوه دري ځنکنِي غاښوُنه
يُ هم مات شول- بیا يُ ورته څوله بنده کړه او قیدخانه کښ يُ
واچوهٔ- دوست محمدخان او ملګرو يُ خلاصِي دپاره لاس ښپه وخوځول
خو څوند يُ وُ نهٔ کړ- نو ښهر ته لاړ او یو څو بارکزِي يُ ځان
سره ملګرِي کړل په قلا يُ حمله وکړه خو له هغه ځاي نه مات
شول عزشک ته ورسیدل- فتح خان په قید ید و هم له قیصرمرزا
نه وُ نهٔ ویریدِ- په قید کښ يُ هم ورسره ملاقات وکړ او دَ
بادشاهيُ ښین باغ يُ ورته داسي وښیهٔ چه هغه دَ دهٔ دَ دم دَ
لاندِ راغيَ نو له جلخانِي نه يُ وویست- عزشک ته يُ ولیږهٔ چه
دَ کابل لاءم دپاره ځان تیار کړِي- فتح خان بس دغه غوښتل- دهٔ به
په ظاهر کښ کله قیصر مرزا سره او کله دَ دهٔ تربور کامران سره
راز باز کاوهٔ- خو اصل کښ محمود ته يُ دوباره تخت ورکولو ته
زړهٔ وهٔ- دي دپاره يُ قیدِي بادشاه ته داسي وسله ولیږله چه په
هغي دَ خیل خلاصِي بند وکړِي- او دا خبره يُ هم ورته ولیږله چه
بِي له قزلباشو نه په بل چا باور مه کوهٔ- لیکن دَ خلاصِي نه ورښبي
چه قیصرمرزا خپل خیالات ښکاره کړل او کامران دَ بغاوت جنډه
نیغه کړه نو شاه شجاع له پیښور نه واپس شهٔ- چه واپس کیدهٔ
نو دَ ایرانیانو په هغه حمله پیښ شهٔ چه هغو دَ هرات په ضلع کړي
وَه- په دي حمله کښ دا خبره ضروري ښکاره شوه چه دَ نور پریوانهٔ
سرحد په حفاظت کښ دَ فیروزالدین مرزا فوځونه مقرر کړِي

شي ـ لیکن دي شهزاده دَ جنګ په میدان کښې دَ ایرانیانو له لاسه شکست وخوړ او په ډېرو روپو يې هرات له ایرانیانو نه بچ کړ ـ لیکن دَ دي هلي ګلي په برکت قندهار بې تکلیفه دَ شاه شجاع لاس ته راغئ ـ او لا دَ پښتو دَ بد نامۍ بدل اخستو دپاره يې فکر کاوهٔ چه خبر ورته راغئ چه مشر وزیر شیرمحمد خان چه په ډېرو خوارو يې کشمیر اخستئ وهٔ خپل زوي عطامحمد دَ هغه ځای حاکم کړ او پخپله کابل ته واپس راغئ ـ ډېره مُده دَ دي وزیر نه شاه شجاع په تکلیف وهٔ ـ چه دا يې واوریدل نو فی الحال کابل ته ورسید ـ هلته يې ورته یو ځل بیا دَ سنده دَ تلونیت ښرګند کړ ـ مګر وزیر دا خبره خوښه نهٔ کړه ـ او ورته يې وُوِ چه دَ بادشاهۍ ډېر کارونه ستا دَ بې غورۍ په سبب ابتال پراتهٔ دِي ـ دا بحثونه سره څو ورځې کېدل چه په دې کښې محمود شاه له قلا نه ځان خلاص کړ دېرې ورځې په یو قبر کښې کښیناست او څه وخت چه په کابل کښې دَ دهٔ دَ تښتېدو خبره سره شوه نو دوست محمد خان او یو څو نورو ملګرو سره په آس سور شهٔ او لاړ ـ په لاره کښې يې درې بدرګې وشوکولې غزنک ته ورسید ـ دَ محمود دَ فساد دَ ویرې دَ شیرمحمد خان په ناراضینیا کښې شاه شجاع سنده ته ورسید ـ شیرمحمد خان ته چه کوم حکمونه ورکړې شوِي وُو هغه يې وُ نهٔ منل او کابل کښې پاتې شهٔ ـ او دَ بادشاه وراره قیصرمرزا يې په بادشاه مشهور کړ ـ دي سازشیانو خلقو په پېښور حمله وکړه او وای خست ـ په دي خبره شاه شجاع له سنده نه واپس شهٔ او دَ سرحد په غاړه پېښور ته ورسید ـ دَ پېښور په میدان کښې يې دَ باغي فوځ تنبوان ولیدل ـ دَ روغې دپاره سوال جواب وشهٔ خو

څه نتيجه ئې ونه ختله. دوارو پرو د توري په ثالثئ امنا وکړه. په ۳ مارچ سنه ۱۸۰۸ع دوارو فوځونو کښې جنګ شروع شهٔ. اول اول خو شیر محمد خان ټول جرګړل خو څه وخت چه په لږ غونډ فوځ ئې د بادشاه د نيولو کوشش کاوهٔ نو دي په ګولئ ولګید او مړ شهٔ. د دهٔ په مرګ ټوله معامله ګړ بړ شوه. د شاه شجاع بره دار راجمع شول او بیا ئې فتح وکړه. دا فتح ښه وپاللې شوه او په قیصر مرزا پسي ډیر تند لاړل. قیصر طاعت ومنهٔ. قصور ئې معاف شهٔ. محمود پس له خلاصي نه د بارکزو په مدد یو فوځ جمع کړ قندهار ئې واخست. لیکن د سنه ۱۸۰۸ع په آخر کښې ئې ښهر ګڼه نږدي شکست وخوړ.

شاه شجاع د انګریزانو جرګي (سفارت) ته له قندهار نه واپس پېښور کښې ځني ته راغئ. دا جرګه مسټر مان سټورټ الفسټن له هندوستان نه لیږلي وه. د دي جرګي خبر دهٔ ته په قندهار کښې څو میاشتي وړنبي رسیدلئ وهٔ. او دي ته ئې ډیر د بدګمانئ او د شک په نظر کتل. یوه وهٔ چه د دي مطلب بي له یوي صوبي غوښتو نه بل هیڅ نشته او د پنجاب د رنجیت سنګه جیتو او نورو ډیرو دلبارپانو د دهٔ مغزو کښې دا خبره ښه مضبوطه کړي وه. لیکن څه وخت چه جرګي ورته خپله اصلي منشاء ووېله چه د فرانس او د روس په چلونو ولونو ئې خبر دو نو دهٔ خیال وکړ چه څه فایده اخستو بانډ به دا جرګه ومنمه.

مسټر الفسټن لیکي چه دهٔ د جرګي د معتبرئ او د هغني د پېښکښونو څه غټي خبري اوریدلي وي څکه ئې ځپله دا نیت کړي وهٔ چه دي جرګي ته لاس، په نامهٔ او ډیر په عزت ځني ته ورشم.

په ۲۵ د فروري ۱۸۰۹ء دا جرگه پېښور ته رسیدلې وه ـ او مستر ۲۳ د جون پوري هلته وه او ډیر دار مدارئ وشه او مستر آلفنسټن ته په اقرار نامه کښ څه تکلیف پېښ نه شه ـ دَ دَه په باب کښ هغه لیکي چه بادشاه یو لپي مخي دیرش کالیز ځوان دي ـ ښونه رنګي او توره ګنړه ږیره یي ده ـ دَ اقرار نامي یو غټ شرط دا وه چه دَ فرانس یا دَ یورپ دَ بلي بادشاهۍ سړي به ستا په ملک کښ قدم نه ږدي ـ

لیکن څه وخت چه دَ انګریزانو جرگه په پېښور کښ وه لویي لویي حدیثي تیریدې ـ شاه شجاع دَ پېښور له اوسیدو نه فایده واخسته چه خپل تکړه فوځ یي دَ یو لوي وزیر اکرم خان دَ لاندې کشمیر ته ولیږه چه دَ عطا محمد خان بغاوت دفع کړي ـ لیکن لا جرگه پېښور کښ وه چه اکرم خان ماتي وکړه او ډیر ځوانان تر نه مړه شول ـ دا یو بل ډیر دَ خفګان خبر وه چه محمود شاه او فتح خان قندهار واخست او چه دَ هغو پیښو ځي بغیر دَ کشمیر دَ فوځ نه بل هیڅوک منع کولي نه شي ـ شاه شجاع په فوځ جمع کولو کښ په ځان خولي وبیولي ـ یو څو ورځو کښ دَ کشمیر پاتي شوي فوځ سره دَ جرنیل راورسیدو او دَ جون په میاشت مان بادشاه کابل ته روان شه ـ

لیکن محمود شاه او فتح خان ورنبي خپل کار سم کړي وه ـ دَ کابل دَ حملي نه پس یي دَ پېښور دَ راتلو تیاري کړي وه ـ دَ شجاع فوځ په ګندمک بروت وه ـ چه مقابله وشوه ـ محمود له ټولو نه وړاندې صف باندې حمله وکړه او فتح خان کس اړخ لاندې کړ ـ آخر دَ هغو مطلب وشه ـ اکرم خان مړ شه ـ شاه شجاع غرونو ته وتښتید او دَ کوه نور نه سوا ټول جواهرات یي دښمنانو ته پرېښول ـ دغه سي دَ کابل او دَ هغه دَ ریاستونو بادشاهي بیا

دَ محمود نصيب شوه- شاه شجاع څه مُده جګړه وکړه خو په سنه ۱۸۱۰ء کښ په قندهار کښ ئي شکست وخوړ او هم په دغه کال له پېښور نه ئي هم ګُتي وختي او په سنه ۱۸۱۱ء کښ ئي په اکوړي سخت نقصان وکړ او دَ اټک حاکم ونيو کشمير ته ئي وليږهٔ- په سنه ۱۸۱۲ء کښ دَ خپل تبر ليدو دپاره دَ لاهور دَ تلو اجازت ورته وشهٔ- هلته دَ رنجيت سنګه دَ نظر لاندِ سنه ۱۸۱۵ء پوري وهٔ- بيا له هغه ځاي نه وتښتيد کشمير کښ ئي څه کمزوري عوندِ کوشش وکړ خو بيا دَ پيرنګيانو علاقه کښ لدهياني ته راوتښتيد- دلته دَ دهٔ رړوند ورور زمان شاه اوسيدهٔ او تر هغې پوري هلته وهٔ چه بيا انګريزانو دَ خپل مطلب دپاره کابل ته بوت- محمود ته چه بيا تخت په لاس ورغيَ هم هغه محمود وهٔ- نهٔ ئي عقل زده کړي وهٔ او نهٔ ئي هغه زوړ کم عقلتوب پرېښيَ وهٔ- په بادشاهي کارونو کښ ئي بي پرواهي کوله او دَ بدنامئ په کارونو کښ لګيا وهٔ- ټولو خلقو تر نه زر کرکه وکړه- دَي دَ بارکزو قام په ځاي کړي وهٔ- ټول حکومت او اختيار ئي دَ دِي زوَرور وزير فتح خان لاس کښ وهٔ او پخپله په عيش عشرت کښ اَخته وهٔ- دي رئيس چه اصل کښ بادشاه هم دَي وهٔ خپل حکومت ئي په بادشاهي واک اختيار سره راواخست- سنده او بلوچستان باندِ ئي سِکّه او خطبه جاري کړه- ياغي قامونه ئي تابع کړل- په صوبو کښ ي امن قايم کړ- په قانون ئي خلق وترل- ډيري محکمي ئي سمي کړي او دَ خپلي دبدبي لاس ئي دَ بادشاهئ تر هر ګُنج ورساوهٔ- دَ دي نتيجه عجيبه راووته- دَ احمد شاه او تيمور شاه زمانه بيا شروع شوه- هر ځاي کښ په قانون عمل راواخستې شهٔ- ټول ملک کښ اَمن

ښور شهٔ -دَ دهٔ ډیر لري نظر لګیدهٔ - په پښتون ځوندِ عرځه قام باندِ يُ دَ خپل انتظام تاثیر په یو څو میاشتي کښں پیدا کړ- فتح خان داسـي لایق سړي وهٔ چه دَ دهٔ تعظیم او قدر په هره زمانه کښں کیدَي شي فیترِ وائي چه دَ هوښیارتیا نه علاوه دَ ملک په انتظام او دَ جنګ په هنر کښں ښهٔ لایق وهٔ - دهٔ نه ورښي په هیچا کښں دا خوبي نهٔ وَه چه یاغیان يُ سم سم تابع کړي وَي- او دَ تابع کولو نه پس يُ هڅوئ په نیکو کارونو لګیا کړي وَي- دَ دهٔ په طبیعت کښں سختي خواه مخواه وَه- لیکن له فتحي پس به يُ په سخاوت دَ خپل زړهٔ لوي والی په ښـهٔ شان سره ښیهٔ- اګرکه تل به فسادونو او جنګونو کښں لګیا وهٔ خو بیا به هم دَ بادشاهئ دپاره وزګاریدهٔ او هري خبري ته به تیاریدهٔ -به کار کولو او تکړه والي کښں دَ دهٔ څوک ثاني نهٔ وهٔ- دي لوي سړي کښں دا چل وهٔ چه په خپلو ماتحتیانو به يُ باور کاوهٔ- دَ خپل قام دَ سردارئ په وجه په خپلو وروڼرو يُ پوره اعتبار وهٔ- وروڼرهِ يُ شل دُو او هر یو په څهٔ نه څهٔ عهده باندِ مقرر وهٔ-

دي خلقو ته دهٔ دَ بلوچستان ، قندهار ، پیښور ، غزنین ، بامیان او لکه چه مخکښں به معلوم شي دَ کشمیر حکومتونـــه ورکړي دُو- په ټولو لویو حکومتونو کښں هرات داسي وهٔ چه دَ دهٔ دَ خپلو عزیزانو په لاس کښں نهٔ وهٔ- لیکن دَ دي صفائي لا په بحث کښں پرته وَه- نورو باقي وروڼرو دَ انتظام په معاملو کښں مدد ورکاوهٔ- دَ دهٔ ورو کي او ټولو کښں لایق ورور دوست محمد خان دَ کور انتظام کاوهٔ او دَ دهٔ دَ مصلحت یار وهٔ- فتح خان چه دَ ملک امن امان وکړ نو دَ کشمیر دَ اخستو هوس يُ

پیدا شهٔ چه هلته عطامحمدخان یاغي حکومت کاوهٔ- دَ دي مطلب دپاره
يې رنجیت سنګه سره چه اوس دَ پنجاب راجه منلې شهٔ اتفاق وکړ-
دي راجه په دي لوظ لس زر فوځ دَ دي صوبي اخستو دپاره ورسره
کړ چه دَ کشمیر له مالیي نه نهٔ لکه روپۍ به ما ته راکوي- دواړه
فوځونه دَ فتح خان دَ حکم دَ لاندِ دَ بیمبر په دَره کشمیر نه ورننوتل- او
تر سرې نګر يې چا مقابله وُ نهٔ کړه- سرې نګر هم دَ دیارلسو ورځو نه
زیات قلابندۍ ته ټینګ نهٔ شهٔ- په رضا صلاح سره روغه وشوه- عطامحمدخان
برکتي سرې وهٔ دَ بارکزو سره یوځای شهٔ- فتح خان دَ رنجیت سنګه درخواست
وُ نهٔ منهٔ او دَ دي صوبي حکومت يې خپل ورور محمد عظیم خان ته
ورکړ او پوه يې کړ چه رنجیت سنګه ته نهٔ لکه روپۍ مهٔ ورکوه- لیکن
دا چالوکي سکه پوه شهٔ او خپل خاص فوځ يې دَ بدل اخستو دپاره راواپس
کړ او دَ اټک قلا يې دي دپاره واخسته چه پښتنو ته لار ونیسي- په
دي خبره چه فتح خان خبر شهٔ نو خپل ورور دوست محمدخان ته يې دوه
زر سوارهٔ ورکړل او دَ لار صفا کولو دپاره يې رالیږهٔ او پخپله ورستو
ورستو راتهٔ- چه دوست محمدخان اټک ته راورسید نو دَ سکهانو فوځ
يې په یوه غونډۍ ۳½ میل لري دَ اباسیند نه چاپېره ولید او چه
دا ورته معلومه شوه چه ما سره ټس دوه زر ځوانان دي او دښمن له
ما نه یو په اتهٔ زیات دي- نو دوست محمدخان له یکار دُو چه لږ صبر
يې کړي وي- لیکن دَي هم په هغه چال کښې ګیر شهٔ په کوم کښې
چه نوي او بهادر جرنیلان مُدام ګیرېږي- دوست محمدخان دَ ځوانۍ په
جوش کښې دَ مدد راتلو انتظار وُنهٔ کړ او دَ خپل ورور دَ رسیدو نه اول

يې دَ سِکهانو په فوځ حمله وکړه - په دي حمله کښي چه په ډېر فکر سره شوی وَه تش دومره کار وشهٔ چه دَ دښمن څه توپي ورته لاس ته ورغلي - دَ پُوره کټي دپاره دَ مدد ضرورت پېښ شهٔ - اصل فوځ دري ميلَ لري پروت وهٔ - دَ سِکهانو په دي حمله سترګي وغړېدي - او دوئ مقابله وکړه هغوئ يې دَ وړاندِ تلو نه منع کړل - بيا هم دوست محمدخان دَ کټي په طمعَ ډېر اتال شهٔ او ورور ته يې دَ راتلو دپاره پله پسي سړي وليږل - ليکن په دي سړو کښي فتح خان ته يَو هم وُ نهٔ رسيد - دَ دوئ په رسيدو کښي يو نمک مُردار سور دهوکه وکړه او دروغ يې وُوِ چه په حمله کښي دِ ورور مړ شهٔ او سِکهان دربانډِ راوختل - نو فتح خان دَ خپل کُوچ مخه بدله کړه او په بنِي بازُو بانډِ په يو ځاي اباسيند بانډِ پوريوت - دوست محمدخان چه پوه شهٔ چه خپل ځان نهٔ شم ساتلَی نو خپل سړِي يې په عقلمندَيُ او حکمت واپس کړل - ځکه چه له مدد نه نااميدَ شوَي وهٔ -

چه کابل ته راغيَ نو دوه کالَ دَ ملک په دننه انتظام او معاملو کښي لګيا وهٔ - ليکن په سنه ۱۸۱۶ کښي دَ هرات معاملي داسي شوي چه خواه نخواه لاس وراچول پکار وُو - ما وړاندي ليکلي دِي چه په ټولو لويو حکومتونو کښي يو هرات وهٔ چه دَ فتح خان دَ تبر په لاس کښي نهٔ وهٔ - دَ دي صوبي حاکم حاجي فيروزالدين دَ محمودشاه سکه ورور وهٔ - دي شهزاده په خوشامندو برامندو ځان ساتهٔ - څه مُده دَ فوځ په سر او څه مُده په قلنګ ورکولو او څه مُده دَ خراسان دَ خانانو په ياغي کولو يې دَ ايران دَ بادشاه زورَوَره حمله منعَ کړي وَه - ليکن په سنه ۱۸۱۶ کښي دَ هغهٔ ټول

بندوبستونه خلاص شول-دَ ایران بادشاه دَ خپل زوئ دَ لاندِ یو فوځ دَ هرات اخستو دپاره په مشهد کښې جمع کړ- داسي حال کښې فیروزالدین له کابل نه په ډیر جوش کښې مدد وغوښت-فتح خان دَ دي په جواب کښې ډیل وُ نۀ کړ او داسي په تلوار راغئ چه له ایرانیانو نه وړمبئ هرات ته راورسید او دَ دي صوبي له سرحد نه هم وړاندِ لاړ-دَ داسي سړي په دي صوبه کښې راننوتل فیروزالدین له ایرانیانو هم زیات ضرري گنړل-ځکه ئي دَ هغۀ فوځ ښهر ته دننه پرې نۀ ښود-لیکن فتح خان منعَ کیدونکي سړي نۀ وۀ او تش پنځوسو کسو سرۀ ئي ښهر ته دَ ننوتو اجازت واخست-دا پنځوس کسَ ئي داسي چونړ کړل چه دَ دوئ برکت دَ هرات په ښبرو کښې ډیر وۀ-دَ کوم کار چه له دوئ نه امید وۀ په هغۀ کښې دوئ ښۀ لوَیدلي وُو-هغوئ خپل کار په داسي صفائئ سرۀ وکړ چه په ځلورمه ورځ دَ ښهر دَ دروازو کُنجیاني او په پنځمه ورځ دَ قلا دَ دروازو کُنجیاني فتح خان ته حواله شوي-فتح خان سمد ستي دَ هرات حکومت قبضه کښې کړ او فیروزالدین ئي یوۀ بدرګه کښې کابل ستـه ورساوۀ-لیکن دَ دي شهزاده دَ تلو نه پس دوست محمدخان دَ خپل درور خبرۀ ومنله حرم سراي ئي لوُټ کړۀ چه دَ وړمبي حاکم (فیروزالدین) خزانه په کښې پرته وَه-چه په هرات ئي قبضه وکړۀ نو فتح خان بـه ایرانیانو باندِ حملي کولو دپارۀ روان شۀ-دَ دوارو فوځونو ټکرَه دَ کافر قلا په میدان کښې وشوَه چه دَ دوۀ وُ ریاستونو سرحد ته نږدي له هرات نه اوۀیا میل لري پروت دَي-ایرانیان ډیر ښۀ وجنګیدل، لیکن دَ پښتنو دَ برغد فوځ بله پسي ټکري ته ټینګ نۀ شول او دلئ

چه مابنام پورې ئې لس زرَ سړي ځهٔ مړهٔ ځهٔ زخمي او ځه ورک شول
او باقيؤ ميدان پرېښود وتښتېدل - يوه حادثه پيښه شوه چه دَ هغې
په وجه دَ پښتنو کامله فتحَ نصيب نهٔ شوه - حادثه دا وَه چه نکيلو پسې
تهٔ نو دغه وخت دَ فتح خان په خوله کښې ګولۍ ولګېدهٔ او بېخودَ شهٔ -
ملګرو ئې خيال وکړ چه کني مړ شهٔ - دښمن پسې تلهٔ ئې پرېښول -
ليکن هسې خو دا فتحَ داسې مضبوطه وَه چه څه مُدې پورې ايرانيانو
دَ هرات نوم په خوله وانهٔ خست - فتح خان هرات کښې په ايران باندِ
دَ لام تيارَي راواخست - غالب ګمان دا وهٔ چه دَ دهٔ دَ مشهد اخستو
نيت وهٔ - دا ټول تيارَي کامل شوَي وهٔ چه يوه داسې حادِثه پيښه
شوَه چه په هغې دَ افغانستان دَ معاملو حال بالکل بدل شهٔ . او دَ
سدوزو قام په تندِي باندِ دَ بد قسمتۍ خال ولګېد - ما ورِنبَې
بيان کړَي دَي چه دَ قيصر مرزا دَ زمان شاه دَ زوي او دَ کامران دَ
محمود شاه دَ زوي په خپلو کښې دَ قندهار په قبضه باندِ خرهٔ وَه -
قيصر مرزا اګرکه دَ کمزورِي زړهٔ خاوند وهٔ خو سخي او خنده روَي
هم وهٔ - کامران غرڅه، خونخوار، بي رحمَ، کينه ناک او تنګ وهٔ - محمود شاه
چه دوباره په تخت کښيناست نو دي دوارو شهزادګانو طاعت منلَي وهٔ.
او دَ فتح خان دا نيت وهٔ چه دَ قندهار حکومت کامران ته ورکړي . ځکه
چه دَي دَ موجود بادشاه زوي دَي - ليکن کامران په يو بخواني بدل کښې
قيصر مرزا په نامردۍ مړ کړ - په دي وجه فتح خان ته دَي ناقابل بکاره
شهٔ - دي سپک نظر دَ کامران په زړهٔ کښې بغض او کينه زياته کړه او
دَ دي بدل اخستو پسې شهٔ - که دَ پلار عزت ئې په ځاي وَي نو دَ دهٔ